# افغانستان
# د ۲۰۱۲ کال کلنۍ راپور
# په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو ساتنه




د هوشنګ هاشمی تصویر، اسوشیتګیأ پرس

دافغانستان لپاره دملګرو
ملتونو مرستندویه پلاوي

دبشري حقونو لپاره دملګرو
ملتونوعالي کمیشنرۍ دفتر

کابل – افغانستان
۲۰۱۳ فبروري

# AFGHANISTAN ADMINISTRATIVE DIVISION




Source: UNAMA GIS January 2012

# افغانستان
# د ۲۰۱۲ کال کلنۍ راپور
# په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو ساتنه

دبشري حقونو لپاره دملګرو
ملتونوعالي کميشنرۍ دفتر

دافغانستان لپاره دملګرو
ملتونو مرستندويه پلاوي

کابل – افغانستان
۲۰۱۳ فبروري

## صلاحیت/ واک

دغه کلنی راپور په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستندویه پلاوي (یوناما) د بشري حقونو څانګې له خوا په وسله واله جګړه کې د ملکي کسانو د ساتنې په اړه برابر شوی دی چې د ۲۰۱۲ کال د جنوري د لومړۍ ورځې څخه د دسمبر تر یودیرشمې نیټې پورې موده رانغاړي. دا راپور د بشري حقونو د عالي کمشنرۍ د د فتر لخوا د تخنیکي مرستي او کتنې وروسته چمتو شوی.

دغه راپور د یوناما د هغه صلاحیت له مخې چمتو شوی دی چې د ملګرو ملتونو د امنیت د شورا له خوا د ۲۰۴۱ (۲۰۱۲) پریکړه لیک په اساس ورته ورکړې شوی؛ څو د ملکي کسانو وضعیت وڅاري ، د دوی د ساتنې په موخه هڅې همغږې کړي، حساب ورکوونه تقویه کړي، او د اساسي ازادیو او بشري حقونو په بشپړ ډول پلي کیدو کې مرسته وکړي چې د افغانستان اساسي قانون او د نړیوالو تړونونو برخه ده چې افغانستان یې غړیتوب لري، په ځانګړي ډول د ښځو د ټولو بشري حقونو څخه د برخمن کیدلو په اړه هڅې وکړي.

یوناما یو لړ فعالیتونه تر سره کوي چې هدف یې په ملکي وګړو د جګړې د اغیزو راکمول دي لکه: په خپلواک او بې پلوه ډول د داسې پېښو څارنه چې د ملکي خلکو د وژنې یا ژوبلې لامل ګرځي، د وسله والو ښکېلو اړخونو سره د اغیزمنو ملکي کسانو د ساتنې په اړه د ملاتړ فعالیتونه او نور نوښتونه چې په ښکېلو کې شکېلي خواوې د بشرپالنې او بشري حقونو د نړیوالو قوانینو او د افغانستان د اساسي قانون له احکامو سره مطابقت ته رابولي.

## اصطلاح ګانې

**هوايي برید:** له الوتکې څخه ويشتونکي مهمات چې په هغه کې نږدې هوايي ملاتړ (د الوتکې لخوا برید) او نږدې جنګي برید چې د چورلکې په مرسته ترسره کيږي راځي. همدارنګه په هوايي بریدونو کې هغه هوايي بریدونه هم شامل دي چې بې پیلوټه جنګي الوتکې یا ډرون یې تر سره کوي.

**ABP:** افغان سرحدي پولیس

**ALP:** افغان سیمه ایز پولیس

**ANA:** افغان ملي اردو

**ANP:** افغان ملي پولیس

**ANSF:** افغان ملي امنیتي ځواکونه، یوه ټولیزه اصطلاح چې افغان سرحدي پولیس، ملي اردو، ملي پولیس او د ملي امنیت اداره په کې شاملیږي.

**دولت ضد عناصر :** په دې ډله کې ټول هغه اشخاص او ډلې راځي چې د افغانستان د دولت او نړیوالو نظامي ځواکونو په ضد په وسله واله جګړه کې همدا اوس ښکیل دي. په دې عناصرو کې هغه کسان راځي چې د طالبانو په نامه پیژندل شوي او دغه راز اشخاص او ډلې چې بیلا بیل هدفونه لري او تر مختلفو نومونو لاندې راځي لکه د حقاني شبکه، حزب اسلامي او د القاعده متحدین لکه د ازبکستان اسلامي حرکت، د اسلامي جهاد اتحاد، لشکر طیبه او جیش محمد او نور ملیشې او وسله والې ډلې چې سیاسي ، ایدولوژیکي او اقتصادي اهداف تعقیبوي یا نوري جرایم پیشه ډلې چې په جګړه کې دیوې ښکېلې خوا په استازیوب ګډون کوي.

**وسلوالې ډلې :** نا دولتي وسلوالې ډلې چې شخړه کې ښکېل وي او په څرګند ډول د دو لت څخه بېلې وي چې د جوړښت پر اساس د ملیشو څخه واخله تر یاغي جنايي مجریمونو ډلو پوري رسیږي. نادولتي وسلوالې ډلې دا وړتیا لري چې د وسلې او ځواک په کارولو سره سیاسي ، ایډیالوژیکي یا اقتصادي اهداف تر لاسه کړي ؛ خو دا د ولت په رسمي نظامي چوکاټ ، دولتي ایتلاف یا د دولت خپل منځي ارګانو برخه نه وي او د فعالیت سیمه یې د دولت د ولکې د باندې وي. وسلواله ډلې کیداي شي د دولت د رسمي ولکې او کنترول د سیمې د باندې وي خو کیداي شي د کوربه یا نورو هیوادونو مستقیم یا غیر مستقیم ملاتړ ولري. .دغه تعریف عبارت له لاندې ډلو څخه دي خو یوازي تر دوي محدود نه دي :یاغي ډلې ، سیمه یزي ملېشې ( توکمیز، قبیلې یا په بل اساس) یاغیان ، ترهګر ، ګوریلا او نور مدني دفاعي ځواکونه او نیمه نظامي ډلې (

چې په څرګند ډول د دولت په ولکه کې نه وي).[1] دغه وسلواله ډلې د افغانستان د قانون له مخې کوم قانوني بنسټ نه لري.

یوناما په دي راپور کې بیان شوي ' دولت ضد وسلوال عناصر ' غېر قانوني وسلواله ډلې بولي لیکن د دولت سره د مخالفت په اساس یې توپیر کاندي.

**AXO:** پریښودل شوي چاودیدونکي توکي

**تلفات:** وژل شوي او ژوبل شوي ملکي کسان

په دوه ډوله ډله بندي شي:

- **مستقیم:** هغه تلفات دي چې په مستقیم ډول د وسله والې جګړې له امله راپیدا کیږي. لکه داسې تلفات چې د نظامي عملیاتو د تر سره کیدو په ترڅ کې رامنځ ته کیږي (افغان او نړیوال نظامي ځواکونه) د ځان ژغورلو عملیات، هوایي بریدونه، د نیولو او تلاشی عملیات، د یاغیتوب ضد یا ترهګري ضد عملیات. دغه راز په دې کې هغه تلفات هم شاملیږي چې د نا دولتي وسلوالو ډلو دفعالیتونو له امله لکه په نښه شوې وژنې، تعبیه شوي چاودیدونکي توکي او یا له حکومت پلوه ځواکونو سره د مستقیمي ښکلتیا په پایله کې رامنځته کیږي.
- **غیرمستقیم / نور تلفات:** هغه تلفات چې په غیر مستقیم ډول له وسله والې جګړې څخه راپیدا کیږي لکه د جنګې پاتې شویو چاودیدونکي توکو ، په محبسونو کې مړینه، د کافي طبي شرایطو د نشتوالي له امله مړینې چې د نظامي عملیاتو په ترڅ کې پیښږي او په داسې ځایونو کې چې طبي پاملرنې ته د لاس رسي مخنیوي شوي وي او یا موجود نه وي. په دې تلفاتو کې هغه مړینه هم شامل ده چې د مرګانیو پیښو مسوولیت په پوره اطمینان سره نه شي په ګوته کیداي لکه هغه مرګ ژوبله چې د ډزو د تبادلې په پایله کې رامنځ ته کیږي.

**ماشومان:** د ماشوم د حقونو د کنوانسیون له مخې ماشوم داسې یوه شخص په حیث تعریف شوي چې عمر یې له ۱۸ کلونو څخه کم وي (۱۷ کلن هم ماشوم دي). د دي تر څنګ د روم د نړیوالي جزایي محکمي اساسنامي له مخي چې د افغانستان دولت هم په ۲۰۰۳ کې تصویب کړي، د ۱۵ کلونو څخه کم عمر ماشومان په دولتي عسکري لیکو کې او یا غیر دولتي ډلو کې شاملول ا و ګمارل، چې په فعال ډول په جنګ کې برخه واخلي جنګي جرم ګڼل کیږي د ۸ مادي (۲) (ب) (xxvi ) او ۸ مادي (۲) (ت) (vii).

**ملکي/ خوندي جنګیالي** :د بشرپالنې د نړیوال قانون له مخې "ملکي کسان" هغه افراد دي چې په جنګ کې شامل نه وي (نظامي/نیمه نظامي قوتونه نه وي) یا په جنګ کې د یوې خوا په

---

[1] د ملګرو ملتونو د وسله والو ډلو سره د بشري مرستو اړوند خبرې اترې . د ګیرارد مک او مینویل بیسلر د فعالینو لپاره لارښود ، د ملګرو ملتونو لپاره د بشري چارو د همغږۍ دفتر ،نیویارک، جنوي ۲۰۰۶. د وسله والو ډلو اوصاف ۳.۲ برخه وګورئ

منظمو وسله والو ډلو کې غړيتوب ونه لري يا هغه کسان دي چې د (عمومي پاڅون)[2] غړي نه وي. ملکي کسان کيداي شي چې د بريدونو په وړاندې د خونديتوب تضمين له لاسه ورکړي که چېرې دوي په نښتو کې کې نيغ په نيغه برخه واخلي. د ملکي کسانو په څېر، يو جنګي فرد چې hors de combat وي (ژوبل شوي، ناروغ، د ويجاړي شوي کښتۍ عمله، توقيف شوي يا اوهم تسليم شوي) يا هغه څوک چې د وسله والو قوتونو په طبي يا مذهبي پرسونل پورې اړه ولري، هم دبريد څخه د خونديتوب حق لري.

**COMISAF کام ايساف:** افغانستان کې د نړيوال امنيتي مرستندويه ځواکونو قوماندان.

**د EOF پيښې:** د عکس العمل ښودلو پيښې ، چې د ځواک د ساتني پيښې ورته هم وايي. په دې کې داسې حالات شامل دي چې کله ملکي کسان نظامي قطارونو ته د نږدې کيدو يا له هغو څخه د مخکې کيدو په وخت کې د نظامي پرسونل اخطارونو ته پاملرنه و نه کړي او يا د تلاشۍ په پوستو کې لارښوونو ته توجه و نه کړي او تر بريد لاندې راشي.

**ERW:** له جګړې څخه چاوديدونکي پاتې شوني په دې مانا ،چې ناچاودل شوي توکي ،او پرېښودل شوي چاودېدونکي توکي وي.

**IDP:** داخلي بې ځايه شوي کسان

**IED:** ځاي پر ځاي شوي چاوديدونکي توکي يو بم چې د دوديزې نظامي طريقې په خلاف په نورو طريقو جوړېږي او کارول کېږي. نوموړي چاودېدونکي توکي کيداي شي د ځانمرګي بم په شکل استعمال شي لکه په ځان پورې تړلې ځاي پر ځاي شوي چاويدونکي توکي (BBIEDs)، دغه راز له لېرې څخه کنترول شوي ځاي پرځاي شوي چاودېدونکي توکي (RCIEDs)، په موټر کې ځاي په ځاي شوي او تعبيه شوي چاوديدونکي توکي (VBIEDs) او د فشار په ذريعه چاودېدونکي وسيلې (PPIEDs) هم په دې ډله کې راځي.

**د ځاي پر ځاي شويو چاوديدنکو توکو استثمار:** د ځاي پر ځاي شويو چاودېدنکو توکو استثمار د هغو معلوماتو او موادو د تشخيص،راټولولو، پروسس او خپرولو پروسه ده چې د ځاي پر ځاي شويو چاويدنکو توکو د پيښې له ځاي څخه راټول شوي دي تر څو د عمل وړ استخباراتي معلومات تر لاسه شي، د ځاي پرځاي شويو چاودېدنکو ضد پروسيجرونه او ميتودنه غښتلي او د ارپکو منابع کمزوري او د دوي د عدلي تعقيب ملاتړ وشي. په دې کې د ځاي پر ځاي شويو چاودېدنکو توکو ساتنه، د مختلفو برخو تشخيصونه د تخنيکي، عدلي طب او بايومتريک ازموينې او تحليل راځي چې د واک لرونکي کارپوهانو له لوري تر سره کېږي. د چاوديدنکو توکو

2 عمومي پاڅون ته د ژنيو په دريم تړون کې اشاره شوې '' د يوې ازادې خاورې اوسيدونکي، چې د دښمن په نږدې کېدو سره په يو ناڅاپي ډول وسلې ته لاس کوي چې د تيري کوونکو مخنيوې وکړي، بې له دې چې ددې لپاره وخت ولري چې په منظمو نظامي واحدونو کې تنظيم شي، په دې شرط چې خپلې وسلې په ښکاره وګرځوي او د جنګ قانون او دودونه مراعات کړي." (۴ماده (۱)(۶)''.

استثمار د اغیزمن او دوامداره چاودیدونکو پر ضد د اقداماتو یوه اساسي برخه ده .

**پېښې:** هغه پیښې دي چې په وسله والو جګړو کې ملکي کسانو ته تلفات اړوي. د یوناما په راپورونو کې هغه تلفات نه دي شامل چې د جنایي پېښو په پایله کې پېښېږي.

**IHL:** د بشر پالنې نړیوال قانون

**نړیوال نظامي ځواکونه:** په دې ځواکونو کې ټول بهرنې عسکر شاملیږي چې د ایساف او په افغانستان کې د امریکا د ځواکونو (د ازادئ د پایښت د عملیاتو په شمول) یوه برخه وي او د ایساف د قوماندان COMISAF تر امر لاندې کار کوي. دغه اصطلاح دغه راز په هغو ځواکونو باندې هم د تطبیق وړ ده چې د ایساف د قوماندان تر امر لاندې نه دي، لکه ځینې ځانګړې ځواکونه او خاصو عملیاتو ځواکونه.

**ټپونه:** د جسماني سختو ژوبلو یا ټپي کیدنو مختلف ډولونه په کې شامليږي. د یوناما په ډیتابیس کې د جسماني ژوبلې درجه نه ده شامله. اروایي یا روحي صدمه یا دماغي جړک پیښې په ژوبلو کې نه دي شاملې.

**آیساف:** په افغانستان کې مرستندویه امنیتي سوله ساتي ځواکونه : ایساف د ملګرو ملتونو د منشور د VII فصل له مخې د سولې د پیاده کولو ماموریت یا دنده لري. ایساف د ملګرو ملتونو د امنیت د شورا په امر او صلاحیت ځاي په ځاي کېږي. د ۲۰۰۳ کال په اګست کې د افغانستان د حکومت او ملګرو ملتونو په غوښتنه د ناټو سازمان د ایساف مشرتابه په غاړه واخیسته. د ایساف قواوې اوس مهال د ۳ دسامبر،۲۰۱۲ پورې (۱۰۲،۰۵۲) تنه سرتیري لري، چې له ۵۰ هیوادونو څخه راغلي او د مرکزي دفتر کابل سربیره په شپږو سیمه ییزو برخو کې تنظیم شوي دي . د ۲۰۰۸ د نوومبر څخه د ایساف قوماندان په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو قوماندان هم دي، که څه هم د مراتبو سلسله بېله پاتې شوې. د امنیت د شورا ۲۰۶۹ (۲۰۱۲) شمیره پریکړه لیک د ایساف په اړه مخکینې پریکړه لیکونه تایدوي او د ۲۰۱۳ د اکتوبر تر ۳۱ نېټې پورې د نورو ۱۲ میاشتو لپاره د ایساف ماموریت غزوي.

**MOI:** د کورنیو چارو وزارت

**NATO ناټو:** د شمالي اتلانتیک د تړون سازمان. د ناټو د سازمان غړي هیوادونه د ایساف اساسي مرستندویه هیوادونه دي. ایساف وګورئ.

**NDS:** د ملي امنیت ریاست. د افغانستان د دولتي استخباراتو اداره

**NGO:** نادولتي سازمان/اداره.

**دولت پلوه ځواکونه**

**افغان دولتي ځواکونه:** ټول هغه ځواکونه دي چې په نظامي او نیمه نظامي عملیاتو یا د بغاوت ضد عملیاتو کې برخه اخلي او په مستقیمه یا غیر مستقیمه توګه د افغانستان د دولت تر ولکې او اداري لاندې دي. په دې ځواکونو کې افغان ملي اردو، افغان ملي پولیس، افغان سرحدي پولیس، ملي امنیت په شمول نور سیمه ییز امنیتي ځواکونه هم شامل دي.دغه اصطلاح نړیوال نظامي ځواکونه او نور خارجي استخبارات او امنیتي ځواکونه رانغاړي.

**SOP:** معیاري عملیاتي کړنلاره

**په نښه شوي وژني :** هغه وژني دي چې په ارادي ، د مخه سنجول شوي او قصدي ډول د دولت او یا د دولت کارکونکو چې د قانون په چوکاټ کې دنده لري، او یا په وسلواله شخړه کې د منظمو وسلوالو ډلو، لخوا د یو په نښه شوي شخص پر ضد وژونکي ځواک وکاروي، او هغه شخص د مرتکبینو د فزیکي ساتني او نظارت لاندي نه وي. سربیره پردي چې په ډیر وختونو کې په نښه شوي وژنه د ژوند د حق څخه سرغړونه ده خو په استثنایي ډول په وسلواله شخړه کې ځیني وخت کیداي شي مشروعیت ولري.[3]

**UNDSS:** د ملګرو ملیتونو د مصؤنیت او امنیت څانګه

**UNAMA:** په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوي

**UNHCR:** د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمشنري

**USSOF:** د متحده ایالاتو د ځانګړو عملیاتو ځواکونه

**UXO:** نا چاودل شوي توکي

---

[3] د ملګرو ملتونو عمومي اسامبلي، د بشري حقونو شورا څوارلسمي ناستي د آجنډا دریم ټکي، او د محکمي څخه بهر په خپل سر اعدامونو لپاره د ځانګړي راپورتر رپورټ، او د فلیپ آلسټون مکمل رپوټ د "د هدفمنو وژنو څیړنه" تر عنوان لاندي وګورئ. A/HRC/14/24/Add.6 د ۲۰۱۰ کال د مي میاشت وګورئ.

## فهرست


**میتودولوژي** i
په نښته کې د ښکيلو خواوو قانوني مسؤليتونه ii

**لنډيز** 1
سپارښتني 17

**د دولت ضد عناصر او د ملکي کسانو ساتنه** 20
تعبيه شوي چاوديدونکي توکي او د تعبيه شويو چاوديدونکو توکو تاکتيکونه 22
ځانمرگي او پيچلې بريدونه 27
هدفي وژني 29
د دولت ضد عناصرو له خوا د بشري حقونو څخه سرغړوني 31
د ملکي تلفاتو په اړه د طالبانو عامې اعلاميې 33

**حکومت پلوه ځواکونه او د ملکي کسانو ساتنه** 40
هوايي عمليات 41
د پلټني عمليات 46
د قوې زيات کارول 48
افغان ملي امنيتي ځواکونه 49
د ملکي تلفاتو د کمولو په موخه د افغان ملي امنيتي ځواکونو او ايساف نوې پاليسي او تدابير 50
د جگړې د ښکيلو خواوو ترمنځ ځمکنى مخامخ جگړې او د ملکي کسانو ساتنه 53
افغان محلي پوليس او د ملکي کسانو ساتنه 56

**له گواښ سره مخ ملکي وگړي: په جگړه ځپلو سيمو کې د بشري حقونو ساتنه** 64
د افغانستان په شمال او شمال ختيځ کې وسله والې ډلې 66
ماشومان او وسله والې نښتې 73
ميرمنې، نجونې او وسله واله جگړه 75
وسله واله جگړه او د ښوونې حق 76
وسله واله جگړه او د روغتيا حق: د ميدان وردک په ولايت کې د قضيې څيړنه 78
د جگړې اړوند د ملکي وگړو بې ځايه کيدنه 82
د پولې د بلې خوا راکټي بريدونه 83
تر خاورو لاندې تعبيه شوي چاوديدونکي توکي: د ملکي کسانو په ژوند د ښخ شويو او د پخوانيو جگړو څخه د پاتې شونو تعبيه شويو چاوديدونکو توکو اغيزې 84
د دولت ضد عناصرو واقعي/غير رسمي کنترول او د ملکيانو ساتنه: د جاني خيلو ولسوالي، پکتيا ولايت 88

لـومـڕی ضمـیـمـه 91
دوهمـه ضمـیـمـه 99

# میتودولوژي

یوناما د ملکي خلکو د مرګ ژوبلي راپورونه تر هغه ځایه چې ممکن وي د مرګ ژوبلي په سیمه کې څیړي ؛له ډېرو سرچېنو سره سلا مشوره کوي او د معلوماتو بیلا بیل ډولونه راغونډوي چې د اعتبار او رښتینتوب له مخې ارزول شوي وي. د هرې پېښې په څیړنه او تحلیل کې، یوناما زیاته هڅه کوي چې د امکان تر حده پورې له مختلفو منابعو څخه راټول شوي معلومات او نظریات کره او کنترول کړي. په دې لړ کې د عیني شاهدانو او په مستقیم ډول د زیانمن شویو کسانو بیانونو ،نظامي برخه والو (د افغانستان د حکومت او نړیوال نظامي ځواکونو په ګډون) محلي کلي/د ولسوالی او ولایت چارواکو، مذهبي او د ټولنې د مشرانو او هغه معلومات شامل دي چې په مستقیم ډول د ساحې له کتنې څخه او د پېښې له ځای څخه لاس ته راغلي اجناس/مدارک او شواهد او د هغوي فزیکي ازمایښت، له روغتونونو او روغتیایي اسانتیاوو څخه کتنه، ویډیوګانې او تصویرونه، د ملګرو ملتونو د امنیت او مصوونیت د څانګې او د دې سازمان د نورو ادارو راپورونه، د دویم لاس سرچېنو بیانونه، د خبري رسینو راپورنه او له نا دولتي موسسو او دریم ګړي له خوا راټول شوي معلومات په کې شاملیږي.

ترهغه ځایه چې ممکن وي، تحقیقات د قربانیانو او/ یا د حادثې د عیني شاهدانو په مستقیم شهادت او د پېښې د ځاي په پلټنو ولاړ وي. په ځینو وختونو کې، د امنیتي ستونزو له امله لاس رسي محدود وي، او دغه ډول تحقیقات ممکن نه وي، په داسې وختونو کې یوناما یو لړ تخنیکونه کاروي چې دامکان تر بریده د پراخه معتبرو شبکو څخه معلومات تر لاسه کړي اوداعتبار اوباور له مخې یې کره کړي.

کله چې یوناما د یوې پېښې په اړه د معلوماتو د کره والي څخه ډاډمنه نه وي، د هغې پېښې په اړه راپور نه ورکوي. په ځینو قضیو کې تحقیقات ښایي څوارونی وخت ونیسي، مخکې له هغه چې نتیجې ته ورسیږي. دا پدې معنی ده چې د ملکي تلفاتو په اړه نتیجې ښایي چې بیا نوې شي ځکه چې نوي معلومات را رسیږي او په تحلیل کې ورڅخه کار اخستل کیږي . په کوم ځاي کې چې معلومات ښه څرګند نه وي،تر څو چې معتبراو قناعت بخښونکي شواهد لاس ته نه وي راغلي نو نتیجه ګیري نه کیږي او له دې څخه پرته قضیه تړل کیږي او احصایوي راپور کې د هغې خبر نه شامیلیږي.

د ځینو پېښو په راپور کې قربانیانو ملکي هویت (موقف) په بشپړ ډول نه شي ثابتیدلاي او یا لانجه من ټکي وي، په داسې قضیو کې، یوناما د بشرپالنې د نړیوال قانون معیارونه په پام کې نیسي او داسې نه ګڼې چې د جنګ لپاره د عمر په لحاظ برابر نارینه جنګي یا ملکي کس دي. بلکه دا ډول ادعاګانې په پیښې پورې د اړوندو حقایقو پر بنیاد ارزول کیږي. که چېرې د یوه یا څو قربانیانو هویت څرګند نه وي، د وژنې دغه ډول پیښې د ملکي کسانو د مرګ ژوبلي په عمومي شمیر کې نه شاملیږي.

په وسله والو شخړوکې د ملکي کسانو د ساتنې په اړه د راپور ورکولو او تحلیل لپاره یوناما په ۲۰۰۹ کال کې یو بریښنایي

ډیټابیس پرانیست. ډیټابیس داسې طرح شوي دي چې د معلوماتو سیستماتیکه، یوشان او اغیزمنه ټولونه او تحلیل اسانه کوي؛ چې د جنس، عمر، مرتکب، تاکتیک، او نورو اړخونو په لحاظ د معلوماتو ویشل او تحلیل هم په کې شامل دي.

یوناما تر ممکنه بریده هڅه کوي چې د ملکي مرګ ژوبلې پېښې کره او مسؤل لوري په مشخصه توګه په ګوته کړي. د عملیاتو په ډګر کې د ستونزو له امله لکه د ځینو نظامي عملیاتو ګډ ماهیت، او د لومړنیو سرچېنو ناتواني چې په ډیرو قضیو کې نه شي کولای د بیلا بیلو نظامي برخه والو/ دولت ضد وسلوالو په منځ کې توپیر وکړي، او کله چې هیڅ یوه خوا د یوې پیښې مسوولیت نه وي منلي، یوناما د یوې خاصې پیښې مسوولیت یا خو دولت پلوه او یا دولت ضد عناصرو ته منسوبوي. یوناما ادعا نکوي چې په دغه راپور کې شمیري بشپړي دي؛ د کار په چاپیریال کې د محدویت په نظر کې نیولو سره کیدایشي یوناما د ملکي خلکو د مرګ ژوبلې پوره راپور نه وي ورکړې.

***په نښته کې د ښکیلو خواوو قانوني مسؤلیتونه***

یوناما په دې باور ده چې په افغانستان کې وسله واله جګړه یوه غیري نړیواله وسله واله جګړه ده چې د افغانستان د دولت، او د هغه د وسله وال فوځ چې د نړیوالو نظامي ځواکونو ملاتړ ورسره دي (په دې راپور کې او په افغانستان کې "دولت پلوه" ځواکونه بلل شوي دي) او د غیر دولتي وسله والو ډلو (په دې راپور او په افغانستان کې "د دولت ضد عناصر" بلل شوي ترمنځ روانه ده.

**دولت پلوه ځواکونه**

دولت پلوه ځواکونه هغو وسلوالو ځواکونو غړو ته ویل کیږي چې د ملي ارد او ملاتړ کونکي ځواکونه، په شمول د نړیواله نظامي ځواکونو ( د ایساف او ځانګړي ځواکونو قطعات) افغانستان، د ازادي د پایښت عملیاتو غړي، او ځانګړو عملیاتو ځواکونه چې د دي کتار د باندې دي) او نور افغان امنیتي ځواکونو څخه عبارت دي.په جګړه کې د ښکېلو خواو فوځي ځواکونو ټول غړي جنګیالي دي ،لیکن طبي او مذهبي پرسونل یې جنګیالي نه ګڼل کیږي. افغان ملي امنیتي ځواکونه ، لکه افغان ملي پولیس، افغان سیمه یز پولیس ، ملي امنیت ، او سرحدي پولیس هغه مهال خپل ملکي هویت له لاسه ورکوي چې په وسلواله شخړه کې نیغ په نیغه برخه اخلي نود دولت پلوه ځواکونو په کتار کې شمیرل کیږي.

**د دولت پلوه ځواکونو په ډله کې کیداي شي هغه وسلواله ډلي هم شامل شي چې په وسلواله شخړه کې ښکیل وي او په شخړه کې د ښکیلې خواو مهمه برخه تشکیل کړي ، او د جګړي د یولوري د وسلوال ځواک یوه برخه وګرزي، د بیلګې په څیر که د یو دولتي مسؤل شخص د غیر رسمي قوماندې لاندې د امنیت او یا یاغیتوب پر ضد عملیات تر سره کوي، لکه امني قوماندان، د ملي امنیت افسر ، او یا ولسوال.**

**دولت ضد عناصر**

دولت ضد عناصر ټول هغه افراد او وسلواله ډلي له ځان سره رانغاړي چې اوس مهال په وسلواله جګړه یا وسلوال مخالفت کې د

افغانستان د دولت یا نړیواله ځواکونو سره ښکیل دي، او هغه څوک هم په دي کتار کې شمیرل کیږ لکه طالبان او نور هغه افراد اونادولتي منظم وسلواله ډلي چې په جګړه کې فعاله ونډه اخلي او د مختلف نومونو لاندې چې عبارت دي له ؛ حقاني شبکه، دګلبدین حکمتیار حزب اسلامي، د ازبکستان اسلامي تحریک ، اتحاد جهاد اسلامي، لشکري طیبه او جیش محمد شامل دي.

د دولت ضد وسلوالو ډله بندي په وسلواله جنایي ډلو د تطبیق وړ نه ده لیکن که دغه ډله په شخړه کې د ښکېل لوري د یوې مخالفې ډلي په استازیتوب مخصمانه فعالیتونوکې ښکیل وي.[4]

په وسلواله شخړه کې ښکېلې خواې — افغان امنیتي ځواکونه ، نړیوال فوځي ځواکونه او غیر دولتي وسلواله ډلي — د نړیوال قانون په رڼا کې د ملکي خلکود خوندي ساتنې ښکاره مکلفیت لري.

### (i) د بشرپالنې د نړیوال قانون له مخې مکلفیتونه

افغانستان د ژنیو د ۱۹۴۹ کال د څلورګونو تړونونو او د ۱۹۷۷[5] کال د ژنیو د مل دویم پروتوکول غړي هیواد دي، دغه تړونونه او دوهم پروتوکول په غیري نړیواله جګړه کې د ملکي وګړو ساتنه کوي. دغه پروتوکول د ملکي کسانو په وړاندې او د هغو اجناسو په ضد بریدونه منع کوي، چې د ملکي کسانو د بقاء لپاره ضروري ګڼل کیږي.

د ۱۹۴۹ کال د ژنیو د څلور ګونو تړونونو ګډه دریمه ماده حد اقل معیارونه ټاکي چې دولتي او غیر دولتي وسله والې ډلې یې باید په داخلي وسله واله نښته کې مراعات کړي.

د ۱۹۴۹ کال د ژنیو د څلورګونو تړونونو او د مل پروتوکولونو څو اصول د نړیوال دودیز قانون[6] برخه ګرځیدلې ده او تر ټولو زیات اړونده اصول چې افغان نظامي ځواکونه ، نړیوال نظامي ځواکونو او غیر دولتي وسله والې ډلې یې د داخلي وسله والې نښتي د ښکیلو خواوو په څیر باید مراعات کړي دا دي:

- تشخیص: ملکي وګړي په عمومي ډول او ملکي انفرادي اشخاص باید تر برید لاندې رانه شي.[7] "[ښکیلې خواوې] باید په هر وخت

[4] د تعریفونو په اړه دغه برخه هغه حقوقي چوکاټ تعقیبوي کوم چې په لاندي منابعو کې راغلي دي: د جنګیالي تعریف، ۴-۲ او ۴-۳ فصلونه، د انګلستان د دفاع وزارت له خوا ترتیب شوي، د وسله والو نښتو د حقوقو په اړه لارښود، د اکسفورد د پوهنتون نشر، اکسفورد ۲۰۰۴، او د سره صلیب نړیواله کمیته (آي سي آر سي)، د نړیوالي بشرپالني عرفي حقونه، ۳ مه قاعده. د وسله والو نښتو ټول ښکیل غړي، د طبي او مذهبي کارکوونکو څخه پرته، جنګیالي ګڼل کیږي.
[5] دویم الحاقي پروتوکول ۱۹۷۷ د افغانستان له خوا د ۲۰۰۹ کال د نومبر په ۱۰ تصویب شو، دغه پروتوکول د ۲۰۰۹ کال د دسمبر په ۲۴ نافده شو.
[6] دغه مرجع ته مراجعه وکړئ: د سره صلیب نړیواله کمیته (آي سي آر سي)، د نړیوالي بشرپالني عرفي حقونه، لیکوال: جان ماري هینکارتز تو لویس دوسوالد بک ( CU P/ICRC, Cambridge 2005) د اي سي آر سي څیړني.مطالعه کمیته.
[7] دویم الحاقي پروتوکول. ۱۳(۲) ماده.

کې د ملکي خلکو او جنګیالیو او د ملکي او نظامي هدفونو ترمنځ توپیر وکړي."[8]

· تناسب: "هغه برید منع دي چې کیدایشي په تصادفي ډول د ملکي کسانو د وژنې، ژوبلې، د دې دواړو سبب وګرځي او ښایي د هغو مشخصو او مستقیمو نظامي بریاوو په پرتله ډیرې زیاتې وي چې له برید څخه یې تمه کیږي."[9]

· په برید کې احتیاط: "ملکي کسان باید په عمومي ډول د نښتې له خطرونو څخه په امن کې وساتل شي." [10] په نظامي عملیاتو کې په پرلپسې ډول باید دې ته پاملرنه وشي چې ملکي خلک تلف نه شي او ملکي شیانوته زیان ونه رسیږي. او په پوره ډول ممکن احتیاط وشي چې " د ملکي کسانو د تصادفي تلف کیدلو، ملکي شیانو ته د زیان رسیدلو او د ملکي وګړو د ژوبل کیدلو څخه مخنیوي کیږي."[11]

ټول هیوادونه چې اوس مهال په افغانستان کې له نړیوالو نظامي ځواکونو سره مرسته کوي، لکه په افغانستان کې نړیوال سوله ساتې ځواکونه (ایساف) د امریکا ځانګړې قواوې، د ازادۍ د پایښت د عملیاتو غړي ځواکونه یا هغه ځانګړي ځواکونه چې د قوماندې د دغو جوړښتونو له حدودو څخه بهر فعالیت کوي د ژنیو د ۱۹۴۹ کال د څلورګونو تړونونو غړي هیوادونه دي. که څه هم ټول هغه هیوادونه چې افغانستان ته یې نظامي ځواکونه استولي دي د ۱۹۷۷ کال مل لومړي اودوهم پروتوکولونو غړي نه دي، خو د دې سره د هغو اصولو په مراعات کولو مکلف دي چې د نړیوال دودیز قانون برخه ده.

### (ii) د بشري حقونو د نړیوال قانون له مخې مکلفیتونه

د بشري حقونو نړیوال قانون هم د وسله والې نښتې او هم د سولې په وخت کې د تطبیق وړ ګڼل کیږي. د بشري حقونو نړیوال قانون د بشر پالنې د نړیوال قانون سره متممي او یو د بل پیاوړي کوونکي توګه د تطبیق وړ دي.

افغانستان د بشري حقونو څو نړیوال تړونونه لاسلیک کړي دي،[12] چې په هغو کې د مدني او سیاسي حقونو نړیوال تړون (آي سي سي پي آر) شامل دي او د افغانستان دولت په دې مکلف کوي چې په خپل

---

[8] لومړي الحاقي پروتوکول، ۴۸ ماده. ۵۱ (۲) ماده هم وګوئ چې وایي: مکلي "وګړي نباید تر هدف لاندي راشي" او همدارنګه ۵۲ (۲) ماده هم وګورئ چي وایي "بریدونه باید یوازي پوځي هدوفونو پوري محدود وي ".
[9] لومړي الحاقي پروتوکول، ۵۱ (۱) (ب) ماده. د برید په وخت د احتیاط په هکله ۵۷ ماده هم وګورئ.
[10] دویم الحاقي پروتوکول. ۱۳ (۱) ماده.
[11] لومړي الحاقي پروتوکول، ۵۷ (۱) او ۲ (الف) (ii) مادي.
12 افغانستان د بشري حقونو د بین المللي لاندنیو تړونو او معاهدو یو غړي هیواد دي: د مدني او سیاسي حقونو نړیوال تړون په ۲۴ اپریل ۱۹۸۳؛ د اقتصادي اجتماعي او کلتوري حقونو تړون ۲۴ اپریل ۱۹۸۳؛ د نژادي تبعیض د ټولو شکلونو د له منځه وړلو بین امللي تړون، ۵ اګست ۱۹۸۳؛ د ښځو په وړاندې د تبعیض د ټولو شکلونو د له منځه وړلو تړون، ۵ مارچ ۱۹۸۳؛ د شکنجې او نورو توهینوونکو او غیر انساني جزا او چلند د منع کولو تړون، ۲۶ جون ۱۹۸۷؛ د ماشوم د حقونو تړون، ۲۷ اپریل، ۱۹۹۴؛ او دماشومانو د حقونو ، دماشومانو د پلورلو، د ماشومانو د فحاشی او د پورنوګرافی د منع دکنوانسیونو اختیاري بروتوکول، ۱۹ اکتوبر کال ۲۰۰۲؛ او په وسله واله جګړه کې د ماشوم ګډون په باب د تړون اختیاري پروتوکول چې د ۲۰۰۳ کال د سپتمبر په ۲۴ تصویب شوي دي. منبع : http://www.aihrc.org.af/English/Eng_pages/X_pages/conventions_af_z_party.html

قلمرو یا د دولت د حاکمیت په سیمه کې ټولو اوسیدونکو د بنسټیزو بشري حقونو ساتنه وکړي
سره لدي چې په افغانستان کې نا دولتي ډلي، د وسله والو ډلو په ګډون، نه شي کولاي په رسمي ډول د بشري حقونو دنړیوالو تړونونو غړي شي؛ خو کوم ځاي نادولتي ډلې، لکه طالبان عملاً سیمه په ولکه کې لري، نو طالبان په دي اړه ډیر مکلف ګڼل کیږي ،چې د نړیوال بشري حقونو مکلفیتونه مراعات کړي.[13]

## د امنیت شورا ۱۳۲۵ پریکړه لیک

څرنګه چې د ملګرو ملتونو د امنیت شورا په ۱۳۲۵ پریکړه لیک کې ویلي ،چې د ټولو هیوادونو لپاره خورا مهمه ده چې د ښځو او نجونو په اړه د نړیوال بشردوستانه او د بشر حقونو اړوند ټول نورمونه پیاده کړي او د وسلواله شخړي په مهال د جنس په بنیاد د تاو تریخوالي د مخنیوي په موخه د ښځو او نجونو د خوندي ساتني لپاره ځانګړي اړین ګامونه واخلي.[14]

### (iii) د نړیوال جنایي قانون په وړاندې مکلفیتونه

افغانستان په ۲۰۰۳ کال کې د روم نړیوالي جنایي محکمې اساسنامه تصویب او له هغې سره یو ځاي شو. له دې امله افغانستان لومړني مسوولیت لري چې د نړیوالو جرمونو په اړه تحقیق وکړي؛ لکه جنګي جرمونه، د بشریت ضد جرمونه او نسل وژنه، او د خپلو محاکمو په صلاحیت کې هغه تر عدلي تعقیب لاندي ونیسي. که افغانستان ونه شي کولاي او یا و نه غواړي چې دغه کار وکړي، نړیواله جنایي محکمه کولاي شي په افغانستان کې خپل صلاحیتونه عملي کړي.

هغه دولتونه چې نظامي ځواکونه یې په افغانستان کې د نړیوالو نظامي ځواکونو په لیکه کې شامل دي او د افغانستان د شخړې یوه خوا ده ، مسوولیت لري چې هغه نړیوال جرمونه تحقیق او تعقیب کړي چې د دوي اتباع په افغانستان کې ددغو جرمونو په ارتکاب تورن وي.[15]

په ځانګړي توګه دولتونه مکلف دي چې د نړیوالي جنایي محکمې د اساسنامې ۸ (۲) (اي) (آي) مادي څخه سرغړونه تر عدلي تعقیب لاندي ونیسي. دغه ماده وایي "په قصدي ډول په عام ولس یا انفرادي اشخاصو باندې چې په مستقیم ډول په شخړو کې ښکیل نه وي مخامخ برید کول" په داخلي وسله والو شخړو کې جنګي جرم ګڼل کیږي."

---

13 د ملګرو ملتونو عمومي سر منشي، په سریلانکا کي د حساب ورکوني په اړه د عمومي منشي د کارپوهانو د پلاوي راپور ۲۰۱۱، ۳۱ مارچ پاراګراف ۱۸۸. دغه راز وګورئ د لیبیا په عربي جمهوریت کي د بشرپالني د بین المللي قانون د نقض په اړه د څیړنو د بین المللي کمیسیون د تحقیقاتو راپور A/HRC/17/44 ۱ جون ۲۰۱۱.

14 دغه مراجعو ته مراجعه وکړئ: ;S/RES/1325 (2000)او همدارنګه S/RES/1820. (2008), S/RES/1888 (2009), S/RES/1889 (2009), and S/RES/1960 (2010).

15 پرته له دي نظر نیولو کي چې دولتونه د نړیوالي جنایي محکمي غړي دي او که نه دي، دوي بیا هم مکلفیت لري چې د بشري حقونو او دبشر پالني نړیوال قانون څخه سختي سرغړوني تحقیق وکړي.

**(iv) د ملي قوانينو په وړاندې مکلفيتونه**
دولت ضد عناصرو غړي د افغانستان د جنايي قوانينو له مخې د عدلي تعقيب وړ دي.د نړيوال فوځي ځواکونو غړي د دوي د خپلو دولتونو د ملي قوانينو د نقض له امله پر حساب ورکولو مسؤل دي.

**د ملکيانو تعريف /خوندي جنګيالي**
يوناما د ملکي وګړو لپاره يو تعريف کاروي او تطبيقوي چې د نړيوال قانون سره سمون خوري. په افغانستان کې د وسله والې شخړې نورې خواوې او فعالان د ملکي وګړو لپاره خپل خپل تعريفونه جوړوي چې په لاندې برخه کې به توضيح شي.

**يوناما**
يوناما د ملکي کسانو لپاره هغه تعريف کاروي چې د بشرپالنې د نړيوال قانون په معيارونو برابر دي. د بشرپالنې د نړيوال قانون له مخې "ملکي" هغه څوک دي چې جګړه مار نه وي، (د نظامي/ نيمه نظامي ځواکونو غړي) يا د منظمو وسله والو ډلو غړي چې د شخړې يوه خوا وي، او هغه کسان چې د عمومي پاڅون[16] برخه نه وي. يو ملکي کس هغه وخت او دهغې مودې په ترڅ کې خپل موقف له لاسه ورکوي چې په وسلواله شخړه کې په مستقيم ډول برخه واخلي.

د بشرپالنې نړيوال قانون په شخړه کې له ښکيلو خواوو څخه غوښتنه کوي چې د نظامي عملياتو په ترڅ کې تل د ملکي کسانو او جګړه مارو ترمنځ تشخيص وکړي. هغه کسان چې په شخړه کې برخه نه اخلي يا له دې وروسته په شخړه کې برخه نه اخلي خوندي دي او بايد بريد ور باندې ونه شي. لکه د ملکي کسانو په څير، هغه جګړه مار چې (ژوبل شوي، ناروغه ، ويجاړه شوي کښتي عمله، توقيف شوي يا تسليم شوي وي) يا هغه کسان چې د وسله والو ځواکونو د روغتيايي يا مذهبي پرسونل برخه وي د بشرپالنې د نړيوال قانون لاندې له بريدونو څخه خوندي دي.

د افغانستان په وسلواله شخړه کې دغه راپور د خلکو د بيلا بيلو کتګوريو په وړاندې بريدونه مستند کوي چې په جګړو کې په مستقيم ډول برخه نه اخلي لکه د عامه خدمتونو کارکونکي، ښوونکي، د روغتيايي کلنيکونو کارکارکونکي او په عامه خدمتونو کې شامل کسان، سياسي مشران او د دفترونو خاوندان، د نا دولتي موسسو کارمندان او د ملکي پوليسو پرسونل چې د جنګيالو په څير وظيفې نه تر سره کوي او دولت ضد عناصرو پر ضد عملياتو کې برخه نه اخلي.[17]

[16] د ۵۰ مادې لومړۍ پاراګراف د لومړي پروتوکول د ژنيو د کنوانسونونو لومړي پراګراف سره مقايسه کړئ. وګورئ: نايلز ميلځر، "د بشرپالنې د بين المللي قانون لاندې په دښمنيو کې د مستقيمې برخې اخيستنې په اړه لارښوونې." ۲۰۰۹، ا جولاي.

[17] يوناما هغه پوليس افسران جنګي افراد ګڼي چې په مستقيم ډول په نښتو کې برخه اخلي. په دې کې د افغانستان ملي پوليس، محلي پوليس، سرحدي پوليس شامل دي چې په معمول ډول د ياغيانو ضد فعاليتونو کې برخه اخلي، خو که داسې شواهد پيدا شي چې د هغې په خلاف وي. يوناما د افغانستان ترافيک پوليسو او نور پوليس افسران، چې يوازې د ملکي پوليس وظيفې اجراء کوي د جنګي افرادو په توګه نه پيژني.

## لنډیز

*د میدان ښار په مرکز کې چاودنه رامنځ ته شوه. دا یو غیر انساني کړنه وه. ګڼ شمیر بې ګناه ملکي وګړي مړه او ټپیان شول. په ټولیز ډول ۱۷۱ تلفات رامنځ ته شول چې له دي جملې څخه څلور تنه مړه وو. ګڼ شمیر ملکي کورونه او دولتي ودانۍ په بشپړ ډول ویجاړې یا سختې زیانمنې شوې. زه په خپل کور کې د خپل کورنۍ غړو سره یو ځای وم چې د درندې چاودنې غږ مې واورېد. د دې اغېز زښت زورور و او ما لومړي فکرکاوه چې چاودنه زما د کور دننه وشوه. ما ټکان وخوړ او ټول وبېرېدو- دا مې په ژوند کې تر ټولو ډارونکې ورځ وه. زما پلار ، دري وروڼه او خور مې ټپیان شول. کله چې مې د فامیل غړي په وینو او ټپي حالت کې ولیدل نو ځان مې کابو نه کړای شو او چغې مې پیل کړې. ما فکر کاوه چې ګوندې ټول فامیل مې له لاسه ورکړ. کله چې په دې پوه شوم چې دوي ژوندي دي نو ډیر خوښ شوم.*

-- د ملکي کس کیسه چې د ۲۰۱۲ کال د نومبر په ۲۳ مه د میدان وردګ ولایت په میدان ښار[18] کې د ځاي پرځاي شوي چاودیدونکي وسیلي په پایله کې یې د فامیل پنځه غړي ټپیان شو چې دغه چاودنې ټول څلور وژلي او ۱۶۷ نور یې ټپیان کړي.[19]

د افغانستان وسلواله شخړې په دوامدار ډول په ۲۰۱۲ کال کې خورا ډیر شمیر ملکي افغانانو ته تلفات واړول. د افغاناستان لپاره د ملګرو ملتونو مرستندویه هیئت (یوناما) په ۲۰۱۲ کال کې د ۷۵۴،۲ملکي افغانانو مړینه او نور ۸۰۵،۴ ملکي کسانو ژبله (۵۵۹،۷ ملکي تلفات ) ثبت کړي دي. دغه شمیرنه د ۲۰۱۱[20] کال پرتله ملکي مړینه کې ۱۲ سلنه کمښت او ژوبله کې کم اندازه ډیروالي راغلې چې د افغانستان په دي روانه لانجه کې پرله پسي انساني زیان په جګړه کې د ښکیلو خواو ډیر ژمنتیا او هڅو غوښتنه کوي چې د ملکي خلکو تلفات راټیټ او خوندي ساتنې ته یې پاملرنه وکړي.

یوناما په ۲۰۱۲ کال کې د دولت ضد وسلوالو لخوا ۲۱۷۹ ملکي کسانو مړینه او ۹۵۲،۳ کسانو ژوبله ( ۱۳۱،۶ ملکي تلفات) ثبت کړي


---

[18] طالبانو په خپله ویب پاڼه د دغه برید مسؤلیت په غاړه اخستې او خبري رسنیو ته یې بریښنالیک استولي چې دغه برید کې دوي د یو موټر کې ځاي پرځاي شوي چاودیدونکي توکي کارولي چې دولت نه د وسلواله جګړې کې د نیول شوي اعدام شویو بندیانو( مظنون طالبانو غړي) غچ واخلي چې د افغانستان دولت د کابل پل چرخي زندان کې د نومبر په ۲۰ او ۲۱ اعدام کړ.
http://shahamat-english.com/index.php?option=com_content&view=article&id=20416:quick-glance-at-2012-jihadi-achievements-part-1&catid=3:articles&Itemid=5 .

[19] د۲۰۱۲ کال د دسمبر په ۱۹ نیټه د یوناما په میدان وردګ میدان ښار کې مصاحبه

[20] یوناما په ۲۰۱۱ کال کې ټول ۸۳۷،۷ ملکي تلفات ( ۱۳۱،۳ مړه او ۷۰۶،۴ ټپیان ) مستند کړي. د ۲۰۱۱ کال په وسلواله شخړه کې د یوناما د ملکي تلفاتو کلنې راپور په لاندې اړیکه وګورئ:
http://unama.unmissions.org/Portals/UNAMA/Documents/UNAMA%20POC%202011%20Report_Final_Feb%202012.pdf. په ۲۰۱۲ کال کې ټول ۵۵۹،۷ ملکي تلفات چې د ۲۰۱۱ کال ملکي تلفاتو پر تله ۴ سلنه ټیټوالې ښي.

چې د ۲۰۱۱ کال پر تله ۹سلنه لوړوالی ښي. په ۲۰۱۲ کال کې د ټول ملکي تلفاتو ۸۱ سلنه دولت ضد عناصرو ته منسوب شوي.[21]




د ۱۳۱،۶ ملکي تلفاتو د جملې څخه چې د دولت ضد عناصرو لخوا اړول شوي ، یوناما هدفي وژنو [22] کې ۱۰۸ سلنه ډیر والي ثبت کړي او د ځاي پر ځاي شوي چاودیدونکوتوکو د بې تفکیکه استمال له امله تلفاتو کچه لوړه شوي په ځانګړي توګه دغیر قانوني دفشار په ذریعه چاودیدونکي توکي چې د قرباني د تماس سره فعالیږي ډیروالي راغلي. دا ډیر زیان اړونکي چاودیدونکي توکي د ماشومانو په ګډون په هر هغه چا چوي چې قدم پري کیږدي یا هره واسطه لکه د ملکي مني بوس د پاسه تیریدو سره سم چوي. جګړه زیلې سیمه کې افغان ښځي، ماشومان او سړي د د ولت ضد عناصرو لخوا د مخ په ډیریدونکي ګواښ، ډار، خوزښت حق، د زده کړي او روغتیایي خدمتونو ته لاسي حق کې د مخنیوي سره مخ دي.

په ۲۰۱۲ کال کې د ملکي تلفاتو اته سلنه مرګ ژوبله دولت پلوه ځواکونو ته منسوب شوي ( ۳۱۶ مړه ۲۷۱ ټپیان) چې د ۲۰۱۱ کال پر تله ۴۶ سلنه کمښت ښي ( ملکي مړینه کې ۳۹ سلنه کمښت او ۵۳ سلنه


[21] په ۲۰۱۱ کال کې یوناما د دولت ضد عناصرو ته منسوب د ۲۰۸،۲ کسانو مړینه او ۴۲۸،۳ کسانو ژوبله ( ۶۳۶،۵ ملکي تلفات) ثبت کړي.د ۲۰۱۱ کال په وسلواله شخړه کې د یوناما د ملکي تلفاتو کلنې راپور په لاندې اړیکه وګورئ: http://unama.unmissions.org/Portals/UNAMA/Documents/UNAMA%20POC%202011%20Report_Final_Feb%202012.pdf. په ۲۰۱۲ کال کې دولت ضد عناصرو ته منسوب نهه سلنه ډیر والې، د ملکي کسانو په مړینه کې د ۲۰۱۱ کال پر تله یو سلنه کمښت او ۱۵ سلنه ژوبله کې ډیر والي څخه عبارت دي.

[22] دغه شمیره د یو هدفمند برید پیښي د ټپیانو او وژل شوي کسانو تعداد ښیي. د بیلګې په توګه، د یو شخص په وړاندي د چاودیدونکو توکو کارول چې د څو تنو د تلف کیدو لامل وګرځید.

ژوبله کې ټیټوالي راغلي).[23] په ۲۰۱۲ کال کې د افغان ملي امنیتي ځواکونو د فعالیتونو په پایله کې اوښتي تلفات ۲۰۱۱ کال ته ورته وو، چې ۳۳ ملکي کسانو مړینه او د ۶۳ کسانو ژوبله ثبت شوي وه ، چې ډیرې یې د ځمکني نښتي په پایله کې رامنځ ته شوي.[24]

پاتي نور ۸۴۱ ملکي تلفات ( ۲۵۹ مړه او ۵۸۲ ټپیان ) له دي امله کوم لوري ته منسوب نه کړاي شو، چې یا د نښتي پر مهال په متقابل ډزو کې ، د پولې پوري غاړي بمبارۍ یا د جګړي چاودیدونکو پاتي شونو له امله رامنځ ته شوي.

د یوناما موندني ښيي چې د ۲۰۱۲ کال په لومړۍ نیمایي کې د ملکي خلکو مرګ ژوبله کمه شوي خو د کال په وروستی نیمایي کې دتلفاتو کچه بیا لوړه شوې. د ۲۰۱۲ کال په لومړیو پنځه میاشتو کې د ملکي تلفاتود کمښت عمده لاملونه د وخت د مخه د سخت ژمي موسم چې د مخالف وسلوالو فعالیتونو په مخ کې خنډ ګرزېدلي ، او هم د دولت ضد عناصرو پرضد نظامي عملیاتو اغیزي دي. یوناما د ۲۰۱۲ کال د جولاي د لومړۍ نیټي څخه تر ۳۱ دسمبر پورې د ۲۰۱۱ کال د ورته مودي پر تله ملکي تلفاتو کې ۱۳ سلنه ډیروالي ثبت کړي، او د هیواد په ځیني برخو کې د سختي جګړې او ملکي ځاینو کې د چاودیدونکو توکو د ځاي پر ځاي کیدو له امله ملکي مرګ ژوبله کې ۱۷ سلنه ډیروالي راغلي.[25]




[23] یوناما په ۲۰۱۱ کال کې دولت پلوه ځواکونو عملیاتو ته منسوب د ۵۱۷ کسانو مړینه او ۵۷۱ ژوبله ( ۱،۰۸۸ تلفات ) ثبت کړي و. د ۲۰۱۱ کال په وسلواله شخړه کې د یوناما د ملکي تلفاتو کلني راپور په لاندي اړیکه وګورئ.
.http://unama.unmissions.org/Portals/UNAMA/Documents/UNAMA%20POC%202011%20Report_Final_Feb%202012.pdf

[24] د ملکي وګړو د تلفاتو په هغه مجموعي شمیر کې چې افغان ملي امنیت ځواکونو ته منسوب دي دولت پلوه ځواکونه هم بکښي شامل دي.

[25] یوناما په ۲۰۱۱ کال کې د ۹۴۹ کسانو مړینه او ۱۵۱۱ کسانو ژوبله(۲،۴۶۰ ملکي تلفات) د تعبیه شوي چاودیدونکو توکو له امله ثبت کړي. د ۲۰۱۱ کال په وسلواله شخړه کې د یوناما د ملکي تلفاتو کلني راپور په لاندي اړیکه وګورئ.
http://unama.unmissions.org/Portals/UNAMA/Documents/UNAMA%20POC%202011%20Report_Final_Feb%202012.pdf

## د دولت ضد عناصر او ملکي خلکو خوندي ساتنه

د ۲۰۱۲ کال په اوږدو کې یوناما د بې توپیره تعبیه شوي چاودیدونکو توکو، په ځانګړي توګه د فشار په ذریعه چاودیدونکي توکي او نور داسي تاکتیکونه چې تعبیه شوي چاودیدونکي وسېلي چې ځان مرګو اوپیچلو بریدونوکي هم کارول کیږي او د ملکي ګنې ګونې سیمه کې په دوامدار ډول استمالیږي ثبت کړي.

په ۲۰۱۲ کال کې تعبیه شوي چاودیدونکي توکې د ملکي خلکو لپاره تر ټولو ستر ګواښ و ، چې په ۷۸۲ بیلا بیل پېښو کې یې ۸۶۸ ملکي خلک مړه او ۱،۶۶۳ نور ژوبل کړي چې د ۲۰۱۱ کال پر تله دري سلنه ډیر والې ښي.[26] هر هغه ځاي چې نظامي هدف یکې نښه ګرزول کیږي نود چاودیدونکي وسیلي ایخودونکې یا انفجار ورکونکي مسؤل کس د ملکي خلکو خوندي ساتنې په اړه احتیاط نه کوي ، اود دي سربیره د ملکي او نظامي هدف تر منځ توپیر نه کوي او یا هم د ملکي خلکو شتون او بوختیا ته هیڅ پاملرنه نه کوي چې د نړیوال بشردوستانه قانون لاندي مکلفیت څخه سرغړونه ده.

یوناما په ګوته کوي چې د افغان ماشومانو، ښځواوسړیو پر ژوند د تعبیه شوي چاودیدونکو وسیلو اغیزې د ژوند حق سملاسي ګواښ تر کچې اوړي. پاتې شوي تعبیه شوي چاودیدونکي توکي[27] ـــ چې ځاي پر ځاي شوي وي خو نا چاودي وي ـــ په ټولنه کې د روغیتا او زده کړي ته لاس رسي په مخ کې خنډ ګرزي ، او په ټولنه کې د بد امنې چاپیریال رامنځته کولو سره په دوامدار ډول د ملکي خلکو ژوند د مرګ او ژوبلي ګواښ تر څنګ شتمني هم ویجاړوي. د ولسوالیو ټولنې په پراخه کچه د ځاي پر ځاي شوي ماینونو په اړه چې کله دوي د راپور په لټه کې شي او یا ملي امنیتي ځواکونو ته خبر ورکړي ،هغه مهال د دولت ضد وسلوالو د غچ اخستلو سره مخ کیږي.

یو ناما د ۱،۰۷۷ ملکي تلفاتو ( د ۶۹۸ مړینه او ۳۷۹ ژوبله ) د هدفي وژنو ثبت کړي[28] چې د ۲۰۱۱ کال په پرتله یې ۱۰۸ سلنه ډیر والي په ګوته کوي. د ملکي خلکو قصدي وژنه ، دولتي چارواکي، مذهبي، قومي مشران، رخصت پولیس او هغه خلک چې د سولي د پروسې ملاتړي کونکي وو، په دي ګمان چې هغه ګنې د دولت ملاتړي دي ، د ۱،۰۷۷ تلفاتو د جملي څخه د دولت ملکي مامورینو تلفات په بې

---

[26] په ۲۰۱۱ کال کي د یوناما د موندنو پر اساس ۹۴۹ تنه ملکي وګړي د تعبیه شوي چاودیدونکو توکو له امله وژل شوي او ۱۵۱۱ ټپیان شوي دي. په نتیجه کي د دغه چاودیدونکو توکو له امله د تلفاتو مجموعي شمیر ۲۴۶۰ تنو ته رسیږي. په وسله واله نښتو کي د ملکي وګړو د ساتني په هکله د یوناما د ۲۰۱۱ کال راپور ته مراجعه وکړي:
.http://unama.unmissions.org/Portals/UNAMA/Documents/UNAMA%20POC%202011%20Report_Final_Feb%202012.pdf

[27] ایښودل شوي تعبیه شوي چاودیدونکي توکي عبارت دي له فشار په ذریعه چاودیدونکي وسیلي، د تارپه وسیله چاودیدونکي ، دلیري کنترول چاودیدونکي توکي چې کیداي شي فعاله یا غیرفعاله اوسي. په میراث کې پاتې شوي چاودیدونکي توکي هغه دي چې د تیر جګړي په مهال خښ شوي ، چې کیداي شي فعاله یا غیرفعاله اوسي، د بیلګې په ډول د چاودیدونکي وسیلي بټري کیداي شي تاریخ تیر یا فعاله شوي نه وي. که څه هم د ایساف او ملي امنیتي ځواکونو د تعبیه شوي چاودیدونکو کشفولو، پاکولو، لمنځه وړل د ۲۰۱۲ کال په اوږدو کې دوام درلود،خود پاکولو شته منابع د اړتیا یوه برخه ترسره کړه.

[28] دغه شمیرنې د ملکي مرګ ژوبلې د تلفاتو ټولي هغه شمیري رانغاړي چې د ملکي خلکو د هدفي وژنې د هري پېښې راولاړ شوي وي، د بیلګې په ډول د یو کس پر ضد د تعبیه شوي چاودیدونکي توکي برید چې په پایله کې ډیر شمیر ملکي خلکو ته تلفات واوړي.

ساري توګه ۷۰۰ سلنه ډېروالی ښي . چې د ډېر اندېښنې وړ يې د لغمان ولايت د ښځو چارو د رياست رئيسه او د هغې معاوينه د ۲۰۱۲ کال د اګست او دسامبر په مياشت د دولت ضد وسلوالو لخوا ووژلې شوي.

يوناما په پرله پسې توګه د دولت ضد عناصرو لخوا د قضايي پريکړو پر اساس د وژنې، دبدن دغړو پريکول، وهل ډبول او د بشر حقونو څخه د سرغړاوي پېښې ثبت کړي. دغه پريکړي هغه مهال پلې کېږي چې اکثرا د اعدام د لياري هغه ملکي خلک مجازات ګوري چې دولت لپاره په جاسوسۍ يا نور جرمونو تورن وي. يوناما په ۱۷ بېلابېلو پېښو کې د ۳۳ ملکي کسانو د وژلو داسې پېښې ثبت کړي چې د دولت ضد عناصرو لخوا د قضايي ناستې وروسته پري سزا تطبيق شوي . دغه ډول قضايي ناستې د نړيوال بشردوستانه قانون څخه سر غړونه ده .[29]

يوناما د دولت ضد عناصرو لخوا ملکي خلکو ته د ګواښ ويري او ډار د کورنو د سوځولو په شمول د ۱۲۱ پېښو پخلې کړي ، چې دا د ۲۰۱۱ کال پر تله ۱۷ سلنه لوړوالي په ګوته کوي. يوناما دي احتمال ته په پام سره چې ممکن داسي پېښې کم راپور شوي وي چې ډيري نامنی او ليري پرتو ټولنو ته لاس رسي او د ناوړه چلند په راپور کولو کې د ټولني پرمخ ستونزي يې عمده لامل دي.[30]

## د ملکي تلفاتو په اړه د طالبانو عمومي اعلامي

د ۲۰۱۲ کال په اوږدو کې طالبانو ۵۳ اعلامي خپرې کړي چې له دي جملې ۲۵ اعلامي د ملکي تلفاتو او بشري حقونو مسالو اړوند وي.[31] په دي اعلاميو کې د ملکي کسانو د خوندي ساتنې په اړه ښکاره ژمنې شوي وي او په افغانستان کې د ملکي کسانو د مرګ ژوبلي ډيره پړه د دولت پلوه ځواکونو د عملياتو د غير قانوني کړنو ته منسوب شوي ده.[32]

په بل لور په عين وخت کې طالبانو اعلامي خپرې کړي چې د رسنيو د لاري يې د ځانمرګو، پيچلو بريدونو، په نښه شوي وژنو يا تعبيه شوي چاوديدونکو توکو پېښې چې په پايله کې ملکي خلکو ته مرګ

---

[29] د ژنيو کنوانسيونو 3مه مشترکه ماده د وسله والو شخړو ټول غړي، د طالبانو په شمول، په دي مکلف کوي چې پر ملکي خلکو باندي د حکمونو د صادرولو او د هغوي د اعداملو څخه چې جنګي جرمونه دي، هرځاي هر وخت ډه ډه وکړي. د ۳ يمې ګډي مادي مطابق د اسي محکمو د مخه د خلکوه محاکمه جنګي جرم ګڼل کيداي شي.

[30] په ۲۰۱۲ کال، د هغو مصاحبو په جريان کي چي د يوناما له خوا د خلکو سره د دوي د ولسوالي څخه بهر ترسره شو، د دولت ضد عناصرو له خو د سرغړونو او تهديدونو په مکرر ډول راپور ورکړ شو.

[31] په ۲۰۱۱ کال کي طالبانو ۵۷ اعلاميي خپور کړل چي په زياترو کي يي د پيښو مسؤليت په غاړه اخيستي وو يا د يو عمل د ترسره کولو د تهديد په شکل او يا يوناما راپورونو ته د ځواب په شکل وو. د يوناما د ۲۰۱۱ کال راپور ته مراجعه وکړئ، د ۲۰۱۱ کال کلني راپور، په وسله واله جګړه کي د ملکي وګړو ساتنه، د مکلي وګړو د تلفاتو په هکله د طالبانو بيانونه، ۱۲ پانه.

[32] د بيلګي په توګه، د طالبانو په يو اعلاميه کي چي د کوچني اختر په وياړ د ۲۰۱۲ کال د اګست په ۱۶ صادر شو په دي ټينګار شوي و چي د ملکي وګړو ساتنه يو اسلامي مکلفيت دي.

ژوبله اوختي د مسؤليت ادعا کړي.[33] په دي اعلاميو کې طالبان په برید کې نښه شوې هدف په ګوته کوي او ځيني وخت د هغوي د تعريف له مخي هغه هدف ملکي نه ګڼل کيږي، او د اړول شوي تلفاتو نوم لړخپروي او ځيني وخت وايي چې د ملکي خلکود خوندي ساتنې په موخه يې ګامونه اخستلي وو.[34] په ځيني اعلاميو کې د فشار په پايله کې چاوديدونکي تعبيه شوي وسيلو استمال ردوي.

يوناما د کال په دويمه نيمايې کې په دولتي چارواکو د برید په هکله د طالبانو په اعلاميوکې نازک بدلون ليدلې، چې تاکيد يې په نظامي اهدافو راڅرخي او د ادارو په داخل کې يې بريدونوباندي زور ورکړي.[35] په اعلاميو کې په ښکاره دغه بدلون ددي ښکارونديو کوي چې د طالبانو مشرتابه دا اړينه ګڼلي چې د ملکي افغانانو د خوندي ساتنې په هکله خپله انديښنه څرګنده کړي چې د سولي د پروسي ملاتړ د پراخه سياسي هدف او د افغانانو د "زړونواو ذهنونو" د ګټلو لپاره وي.

د طالبانو اعلاميي چې په خپلو غړو د ملکي خلکو د خوندي ساتنې غږ کوي هرکلي وايو، خو په عملي ميدان کې هيڅ بدلون تر سترګو شوي ندي. طالبانو په مستقيم ډول د ملکي وګړو هدف ګرزول په ځانګړي ډول په نښه شوي وژنې او تعبيه شوي چاوديدونکو توکو په بې توپيره استمال چې په دي کې د فشار سره فعاليدونکې چاوديدونکې وسيلي هم شامل دي ادامه ورکړي. يوناما د طالبانو په مشرتابه غږ کاندي چې د نړيوال قانون سره موافق خپل مکلفيت ته پام سره په ملکي خلکو خپل بريدونه ودروي، اود ملکي خلکود خوندي ساتلو په اړه دي خپلي څرګنده ژمنې د جنګيالو ترمنځ پلي کړي او د" ملکي خلکو" تعريف ته بيا د سره کتنه وکړي چې د نړيوال بشردوستانه قانون سره سمون ولري اوغير قانوني او فشار سره چاوديدونکو او نور بې توپيره چاوديدونکو توکو استمال ودروي.

## د ټولني ليد لورې : د دولت ضدعناصرو د ولکې لاندي سيمې

که څه هم ملکي خلکو تلفات او د جګړي اړوند د دولت ضد وسلوالو اودولت پلوه ځواکونو ترمنځ تاوترخوالي کچه په ۲۰۱۲ کال ,[36] کې يوڅه ټيټه شوي، خو لامل يې د په ځيني سيمو کې د دولت پياوړي شتون

---

[33]په ۲۰۱۲ کال کي يوناما ۴۶ بيلابيلي پيښي ثبتي کړي چي مسؤليت يي طالبانو په غاړه اخيستي وو. په دغو پيښو کي ۵۱۳ وملکي خلک تلف شوي چي پکښي ۱۵ هدفمن بريدونه، ۱۲ ځان مرګ او ډله ييز بريدونه، ۹ تعبيه شوي چاوديدونکي توکي چاودني او ۷ ځمکني نښتي شامل وو.

[34]د ۲۰۱۱ کال د جون د ۲۷مي په يوه اعلاميه کي طالبانو ادعا کړي چي د دوي جنګيالي تر اخره حده کوښښ کړي چي د ملکي خلکو څخه ساتنه وکړي او ملکي خلکو ته لارښوونه کړي د جګړي تر پايه پوري خپلو کورونو کي پاتي شي. د دغي اعلاميي څخه وروسته د ۲۰۱۲ کال د جون په ۲۱ نيټه په کابل کي د قرغي بند په سپوژمي رستورانت کي يوه ډله ييزه بريد ترسره شوه چي زيات شمير ملکي وګړي ټپيان او ووژل شول.

[35]د بيلګي په توګه، د لوي اختر په وياړ د ښاغلي اميرالمومنين د ۲۰۱۲ کال د اکتوبر ۲۴ نيټي پيام په لاندي ويب سايت کي:
http://shahamat-english.com/.

[36] د ايسف مرکز ، ايساف مياشتني مالومات د ۲۰۱۲ کال تر نومبر بدلونونه،۲۰۱۲ کال دسمبر کې چاپ شو.

یا د ملکي خلکو خوندي ساتنه کې پرمختګ نه دي. د ۲۰۱۲ کال په اوږدو کې ټولنو یوناما ته ویلي چې د دولت ضدعناصرومخ په ډیریدونکي ډول د ولکي سیمه پراخیږي او فکرکوي چې ځینې سیمو کې د افغان امنیتي ځواکونو د محدود شتون او په سیمه باندې د ولکې وړتیا نه لرلو له امله دي. په ګڼ شمیر ولسوالیو کې د یوناما تحقیقات دا څرګندوي چې د افغان امنیتي ځواکونو محدود شتون او دولت ضد عناصرو بشپړ یا د یوي برخي ولکي له امله په پراخه کچه د بشر حقونو سرغړونه کیږي.[37]

په نورو ځاینو کې بیا د دولت شتون او امنیتي ځواکونو د ملکي خلکو خوندي ساتنه ټینګه کړي.

## دولت پلوه ځواکونه او د ملکي خلکو ساتنه

په ۲۰۱۲ کال کې دولت پلوه ځواکونو ( افغان ملي امنیتي اونړیواله نظامي ځواکونو) د ملکي کسانو د تلفاتو د کمښت په موخه ګامونه اخستلي. یوناما د دولت پلوه ځواکونو د نظامي عملیاتو هواي بریدونو، د تلاشي عملیات، ځمکني نښتي او زیات ځواک کارونو پېښو په پایله کې د ملکي مرګ ژوبله کې څرګند کمښت ثبت کړي.

د ۲۰۱۲ کال د جنوري د لومړۍ څخه تر ۳۱ دسمبر پوري، یوناما دولت پلوه ځواکونو ته منسوب د ۵۸۷ ملکي تلفات ( ۳۱۶ مړه او ۲۷۱ ټپیان ) ثبت کړي ، چې د ۲۰۱۱ کال[38] پر تله د ټول تلفاتو کې ۴۶ سلنه ټیټ والي ښي. یوناما د ټول ملکي تلفاتو څخه ۸ سلنه دولت پلوه ځواکونو ته منسوب کړي.

د نړیوال فوځي ځواکونو هواي بریدونه د ټولو ډیر د ملکي کسانو مرګ ژوبلي لامل شوي چې دولت پلوه ځواکونو ته منسوب شوي. یوناما د نړیوال امنیتي ځواکونو[39] د هوایي بریدونو په پایله کې د ۲۰۴ ملکي تلفات ( ۱۲۶ تنه ملکي کسانو مړینه او ۷۸ کسانو ژوبله) ثبت کړي، چې دا د ۲۰۱۱ کال پر تله ورته عملیاتو کې د ملکي تلفاتو ۴۲ سلنه کموالي ښي. دولت پلوه ځواکونو ته منسوب تلفاتو کې ۲۷ سلنه تلفات د هوایي بریدونو له امله رامنځ ته شوي چې د ټول ملکي تلفاتو دري سلنه تشکیلوي. د هوایي عملیاتو په پایله کې د ۱۲۶ وژل شویو له جملې نه ۵۱ یې ماشومان دي.

د هوایي بریدونو د هدف ټاکلو معیار کې دوامداره بیا کتنې ته له دي امله ډیره اړتیا ده ، چې د سپتمبر په ۱۶ د لغمان ولایت د

[37] په وسلواله جګړه کې د ملکي تلفاتو ، د یوناما شپږ میاشتنې راپور په لاندي اړیکه اړیکه وګورئ .
.http://unama.unmissions.org/Portals/UNAMA/Documents/UNAMA%20POC%202011%20Report_Final_Feb%202012.pdf

یوناما په ۲۰۱۱ کال کې ۱،۰۸۸ ملکي تلفات ( ۵۱۷ مړه او ۵۷۱ نور ټپیان) ثبت کړي. د ۲۰۱۱ کال په وسلواله شخړه کې د یوناما د ملکي تلفاتو کلنې راپور په لاندې اړیکه وګورئ.
.http://unama.unmissions.org/Portals/UNAMA/Documents/UNAMA%20POC%202011%20Report_Final_Feb%202012.pdf

[39] یوناما د هوایي بریدونونو په پایله کې په ۲۰۱۱ کال کې د ۲۳۵ کسانو مړینه او ۱۱۸ ژوبله ثبت کړي . مخکې یادونه شوي.

علینګار ولسوالۍ کې یو لړ هوایي بریدونه تر سره شو.[40] د ایساف مطابق د لومړني برید هدف یاغیان ووچې د ایساف او افغان امنیتي ځواکونو د ګڼو سرچینو لخوا تصدیق شوي وو، خو په دي کې یوازي ملکي خلکو ته تلفات اوښتي ، چې ۸ ملکیان چې ډیرې یې ښځې او ماشومان وو مړه ، او نوري ۸ نجونې ټپیانې وي.[41] د لومړني هوایي برید د مخه د برید امر ورکول چې خطایې سره یې مخالف جنګیالي ګڼلي و ( یو مشروع هدف ) خو د ښځو او ماشومانو یوه ډله هدف ګرزیدل په کلکه غوښتنه کوي چې هوایي برید تر سره کیدو د مخه هدف ټاکلو اړوند د بشپړې پالیسۍ بیا کتنې ته ډیره اړتیا لیدل کیږي. یوناما یادونه کوي چې د علینګار د هوایي برید په هکله د پلټنو موندنې علني نه شوې او نه اړوند پالیسۍ کې بدلون راځرګند شو. دا د ایساف د لوګر د ورته هوایي برید پېښې چې د ۲۰۱۲ کال [42] د جون په میاشت کې تر سره شو د هغه څخه یو بیل غبرګون و، چې هغه مهال ایساف یو نوې متممه کړنلاره تعدیل کړه چې پراساس یې په ملکي استوګن ځایونو باندي بمباري مخنیوې وکړ.

په پرله پسې ډول په ۲۰۱۰، ۲۰۱۱ او ۲۰۱۲ کې مخ ځوړ میلان په مستند کولو سره ، یوناما د دولت پلوه ځواکونو[43] لخوا ترسره شوي چانیزوعملیاتو په پایله کې د ۵۴ ملکي کسانو مړینه او ۲۱ کسانو ژوبله ثبت کړي ( ۷۵ ملکي تلفات) چې د ۲۰۱۱ کال پر تله ۳۳ سلنه ټیټ والي ښي.[44] د راپور له مخي د ۲۰۱۲ کال د جولاي میاشت څخه تر ۲۰۱۳ کال تر جنورۍ پورې ډیرې پوځي عملیاتو کې افغان امنیتي خواکونه مخکښ رول لري ، چې له مخي یې ۸۰ سلنه عملیات افغان امنیتي ځواکونه تر سره کوي.[45]

د تیرو کلنو سره سم چې په تېرو دوه کلنو کې چې کوم میلان تر سترګو شوې ، یوناما د زیات ځواک د کارونې د پېښو[46] په پایله

---

[40] برید کونکي هوایي عملیات د مخه سنجول شوي هوایي عملیات دي چې د دفاعي هوایي برید څخه بیل وي.

[41] د ایساف په مرکز کې د ایساف دغړو سره د یوناما ناسته، سپتمبر او اکتوبر ۲۰۱۲ کابل.

[42] د ۲۰۱۲ کال د جون په ۱۶ نیټه، ایساف د ملکي خلکو په استوګن ځاي هوایي برید تر سره کړ، چې د اوه ښځو،پنځه ځوانې انجونو، او یو لس میاشتنې ماشوم په ګډون ۱۸ ملکي وګړي ووژل. ایسف ددي په غبرګون کې یو متمه ماده ( فراګو ) صادرکړه چې په دفاعي حالت کې د استوګنې ځایونو باندي هوایي بریدونه ودروي.

[43] په شمیرنو کې د افغان امنیتي او نړیواله ځواکونو مستقل او ګډ عملیات شامل دي.

[44] د شپنیزوچانیزوعملیاتو( چاپو) د شمیراوملکي تلفاتو په اړه دقیق مالوما ت تر لاسه کول د محرمتیا له امله ستونزمن کار دي. د شپنیزو عملیاتو د بشپړ شمیرو په اړه مالومات چې د افغان ، نړیواله ځواکونو، ځانګړو قواو ، ځانګړو عملیاتو ځواکونو او خارجي استخباراتي شبکو تر سره کړي او ددي په پایله کي رامنځ ته شوي ملکي تلفات په عام ډول نه اعلانیږي. د دواړه محدویتونو ترڅنګ یاني د عملیاتو چاپیریال او مالوماتو ته محدود لاس رسې ته په نظر یوناما د دي احتمال نه ردوي چې شاید د شپې لخوا چانیزو عملیاتو له امله بشپړ تلفات نوي راپورشوي.

[45] د جمهور رئیس اوباما او جمهور رئیس کرزي د ۲۰۱۳ کال د جنوري په ۱۱مه ګډه اعلامیه. لاس رسي اړیکه .http://www.whitehouse.gov/blog/2013/01/11/president-obama-hosts-president-karzai, ۲۰۱۳ کال د جنوري ۱۹ نیټه

[46] د زیات ځواک د کارونې پیښې یا د ''ځواکونو د خوندي ساتل '' هغه پیښې شامل دي چې پوځیان وژونکي یا غیر مهلکه وسله هغه مهال وکاروي چې ملکي وګړي نظامي پرسونل لخوا اشارو ته د نظامي کاروان ته په نږدي کیدو ،رسیدو یا تر مخکیدو او فوځي پوستي ته په رسیدو پر وخت پاملرنه ونه کړي.

کې ملکي تلفاتو کې ۲۶ سلنه ټیټوالی ثبت کړي، چې په ۳۳ بیلا بیلو پېښوکې د دولت پلوه ځواکونو لخوا ۴۹ ملکي تلفات ( ۱۴ مړه او ۳۵ ټپیان و) رامنځ ته شو. ډیری پېښې یې افغان امنیتي ځواکونو ته منسوب شوي. د ایساف لخوا د زیات ځواک کارونې په پایله کې د اوښتي ملکي تلفاتو پېښې د ۲۰۱۱ کال د ۱۵ پېښو څخه په ۲۰۱۲ کال کې پنځه ته راکښته شوي. د ۲۰۱۲ کال سپتمبر په میاشت کې ایساف ۳۷۳ نمبر معیاري عملیاتي کړنلاره صادرکړه چې د زیات ځواک د کارونې په اړه لارښونه ده ،او له مخې یې د ځواکونو خوندي ساتنې ته د تهد ید عمل اود دي په غبرګون کې اقدامات یې په څرګند ډول تعریف کړي .

## افغان امنیتي ځواکونه او د ملکي وګړو خوندي ساتنه

د انتقال پروسه چې د نړیوال امنیتي ځواکونو څخه امنیتي مسؤلیت افغان ځواکونو ته لیږدوي په ۲۰۱۲ کې ادامه درلوده، چې یوناما د افغان امنیتي ځواکونو د عملیاتو په پایله کې اوښتونکي ملکي تلفات په ډیرغور نظارت ترسره کړي . د ۲۰۱۲ کال پر مهال افغان امنیتي ځواکونو ته د ۳۳ ملکي وګړو مړینه او ۶۳ کسانو ژوبله منسوب شوې. د دي جملې څخه ډیری یې د مخالف وسلوالو سره د ځمکنۍ نښتې وروسته هغه مهال رامنځ ته شوي ، چې د افغان امنیتي ځواکونو پوسته یا کاروان د برید لاندې راغلي وي.

یوناما د افغانستان دولت د داسې اقداماتو او دایساف لخوا د افغان امنیتي ځواکونو د ظرفیت لوړونې ګامونه ستایې چې له امله یې افغان ټولنې خوندي او ملکي تلفات تعقیب او راکم شي. د ۲۰۱۲ کال د می په میاشت کې افغان دولت د جمهوري ریا ست د مالوماتو دهم غږي مرکزکې د ملکي تلفاتو د تعقیب هیئت وټاکه اود اداري چارو ریئس ډاکټر مدبر یې د ملکي وګړود خوندي ساتنې په اړه دجمهورریئس سلاکارګمارلې. یوناما د دافغان امنیتي ځواکونو د مشرتابه ( دفاع ، کورنیوچارو وزارت، ملي امنیت ریاست) لخوا ګډه ژمنتیا مشاهده کړي ، چې ملکي تلفات تعقیب او راکم کړي اوامنیتي اداري همغږې کړي.د ۲۰۱۲ کال د مارچ په میاشت کې د افغانستان دولت د جمهور رئیس ۴-۲۹ نمبر فرمان صادر کړ چې ټول امنیتي ادارو ته یې لارښونه کړي چې د افغانستان قانون، پالیسي او طرزالعمل سره سم ځانګړي عملیات تر سره کړي. د دي سره یوناما دا هم مشاهده کړي چې د افغان امنیتي ځواکونود رهبري یوه برخه کې بې علاقه ګې ښودلې چې د افغان امنتي ځواکونو د عمیلیاتو په پایله کې ملکي تلفات ومني او یا دهغه پیښو پلټنه تر سره کړي. دا حالات ښي چې د افغان امنیتي ځواکونو د عملیاتو له امله رامنځ ته شوي ملکي تلفات کم راپور کیږي.

د ملکي تلفاتو د کموالي په اړه د افغان امنیتي ځواکونواو ایساف تر منځ په ګډه هلو ځلوپه پایله کې د ملکي تلفاتود کمښت ګډ کاري ګروپ چې د مالوماتو د شریکولو ناست ځاي دي ، او دملکي تلفاتو ګډ بورډ ، دافغان امنیتي ځواکونو او ایساف په ګډه د وګړو د خوندي ساتنې کانفرانس جوړول نوري هڅې وي. یوناما

داسې هڅې تشویقوي چې افغان امنیتي ځواکونه په بشپړ ډول په تخنیکي عملي بحثونو کې راګډ شي او په عملي ډول د ۲۰۱۳ کال پوځي عملیاتو کې د ملکي خلکو خوندي ساتنې اړینه پالیسي په سمه توګه پلي کړي.

په ۲۰۱۲ کال کې د تعبیه شوي چاودیدونکو مخ په ډیریدو بریدونو چې دغه میراث کې پاتي شوي توکو یو ستر ګواښ متوجه کړي ، دولت په دي اړه ظرفیت او منابعو ته اړتیا لري چې تعبیه شوي چاودیدونکو توکو پرضد مبارزه، د دي کشفول، لیري کول ، او استثمار یې په خپله تر سره کړي چې اوس مهال یې په بنیادي ډول ایساف تر سره کوي.[47] د ۲۰۱۲ کال د چاودیدونکي توکو پر ضد ملي ستراتیجي چې همدې کال د جون په ۲۴ نیټه د افغانستان د ملي امنیت شورا لخوا پریکړه وشوه یو مهم ګام دي چې د افغان امنیتي ځواکونوظرفیت لوړکړي اود تعبیه شوي چاودیدونکو توکو مخ په زیاتیدونکې ګواښ مخنیوي او حل ومومي . یوناما په ایساف او نورو اړوند غړو غږکوي چې د افغان امنیتي ځواکونو پوره ملاتړ وکړي چې د قوماندي او کنترول وړتیا ولري اود چاودیدونکو توکو پر ضد عملیات، د لمنځه وړل او استثمار یې په اغیزمن ډول سره تر سره کړاي شي. د ۲۰۱۳ ــ۱۴ پوري ایساف او نړیواله ټولنه د افغان امنیتي ځواکونو مرسته او ملاتړ باید په خپل لومړیتوبونو کې ونیسي ، تر څو د چاویدونکو توکو پرضد ستراتیجي پلي کړاي شي.

## ځمکنی نښتې او ملکي وګړو خوندي ساتنه

د ۲۰۱۲ کال په اوږدو کې د دولت ضد عناصرو او دولت پلوه ځواکونو د ځمنکنی نښتو پر مهال ۴۳۶ ملکیان مړه او ۱۷۸،۱ نور ژوبل شوي ، چې د ۲۰۱۱ کال پرتله ۲۲ سلنه ټیټ والي ښي. د ځمکنی نښتو په پایله کې اوختي تلفات د ټول ملکي تلفاتو ۲۱ سلنه جوړوي چې د تعبیه شوي چاودیدونکو توکو وروسته تر ټولو لوړ تلفات دي.

سره له دي چې په مرکزي ، مرکزي لوړه سطحه ،شمال ختیځ ، شمال او لودیځو سیمو کې یې ډیروالي تر سترګو شوې چې په دغه سیمو کې د ناقانونه وسلوالو ډلو د ډیریدوسره تړاو لري. د بیلګې په ډول د شمال سیمه کې فاریاب څلورم ځاي لري چیرته چې ډیرې نښتې رامنځ ته شوي.[48] په سویل ، سویل ختیځ او ختیځ سیمو کې د ځمکنی نښتو له امله کمښت تر سترګو شوې چې د افغان او ایساف ځواکونو د ولسوالیو د مرکزونو د باندي عملیات ترسره کولو او دولت پلوه او مخالف وسلوال تر منځ کم شمیر ښکیلتیا سره ارتباط لري.

## د افغانستان سیمه ایزو پولیسو پروګرام

یوناما د سیمه ایېزو پولیسو دوامداره نظارت تر سره کړي چې د سیمه اېیزو پولیسو سلوک، د دي پروګرام د ملکي خلکو خوندي

[47]
[48] د ملګرو ملتونو د امنیت او مسؤنیت څانګې راپور د ۲۰۱۲ کال د جنوري ۹ مه نیټه.

ساتني د اغيزو په اړه مختلف راپورونه تر لاسه شوي. ډيري ټولنو د سيمه ايېزو پوليسو د شتون په سيمه کې د امنيتي چاپيريال د ښه کيدو راپور ورکړي چې ۲۰۱۲ کال کې په ټول افغانستا ن کې د سيمه ايېزو پوليسو د پراخيدو سره مطابقت لري.

يوناما د سيمه ايېزو پوليسو د ناوړه چلند په هکله د دولت غبرګون کې پرمختګ مشاهده کړي چې د کورنيوچارو وزارت او کابل کې د سيمه ايېزو پوليسو رياست ، په سرغړونو تورن سيمه ايېزو پوليسو غړود پلټني او محاکمي په هکله ګامونه اخستي. د بيلګي په توګه کورنيو چارو وزارت د ۲۰۱۲ کال په نيمايي کې د سيمه ايېزو پوليسو د نظارت او تحقيق څانګه رامنځ ته کړه چې په هره څانګه کې د افغان امنيتي ځواکونو اضافي غړي ځاي کړل. د دي هلو ځلو سره سره بيا هم ، سيمه ايېزو پوليسو په ځينو ولسواليو کې د معافيت تر څنګ د بشري حقونو څخه سرغړونې ته ادامه ورکړي.

له دي سره يوناما په څو ولسواليو کې د بشر د حقونو څخه د جدي سرغړونې د سيمه ايېزو پوليسو د پالېسي او طرزالعمل پرته ګمارنې او ارزيابي پيښې ثبت کړي[49]. يوناما د سيمه ايېزو دفاعي ګروپونو څخه سيمه ايېزو پوليسو ته اړولو او يوځاي کيدلو پر مهال د ټينګي ارزيابۍ او چاڼ نشتوالي مشاهده کړي. د بيلګي په ډول د کندوزولايت د ايساف په نوښت د سيمه ايېزي دفاع ځواکونو څوکسان چې د بشر حقونو څخه د سرغړونې سابقه يې درلوده ، د کوم خاص ارزيابي او چاڼ پرته سيمه ايېزو پوليسوکې ځاي په ځاي شول ، چې د سيمه ايېز پوليسو د غړي په ډول يې د ملکي خلکو پر ضد ناوړه چلند ته تر اوسه ادامه ورکړي. [50] د ټولني خلک په پرله پسې ډول د سيمه ايېزو پوليسو ګروپونو باندې د ملي پوليسو کمزوري کنترول او د ضرورت پر مهال عارضي او کمزوري نظارت او د سيمه ايېزو پوليسو د تير او اوس مهال د بشرحقونو څخه د سرغړونې له امله حساب نه ورکړې د انديښنو راپورنه ورکړي.

يوناما سيمه ايېزو پوليسو ته منسوب ۵۵ پيښې ثبت کړي ،چې په پايله کې ۲۴ ملکي وګړ ي مړه او ۳۸ نور ټپيان شوي ( ټول ۶۲ ملکي تلفات). د دي څخه ۱۳ پيښې د ځمکنی نښتو په پايله کې رامنځ ته شوي، خود ملکي تلفاتو ډيرې پيښې د سيمه ايېزو پوليسو د ملکي خلکو پر وړاندي د بشري حقونو څخه د سرغړونې له امله په ځانګړي ډول په شمال ختيځ او شمالي سيمو کې رامنځ ته شوي.

د راپور له مخي چې راتلونکي کې د سيمه ايېزو پوليسو پروګرام شميره ۴۵،۰۰۰ غړو ته لوړيږي ، نو له دي امله د کورنيو چارو وزارت نه په ځانګړي او سملاسي ډول غوښتنه ده چې د سيمه يزو پوليسو د نظارت او حساب ورکړه پياوړي شي.

## د دولت ضد عناضرو پرضد سيمه ايېز پاڅون

---

[49] يوناما د کندوز ولايت په دشت ارچې ، چاردره ، علي اباد او د اوروزګان ولايت په خاص اوروزګان ولسواليو د بشري حقونو څخه د جدي سر غړونو ګڼ شمېر پېښې ثبت کړي.
[50] په کندوز ولايت کې دوه ولسوالی دشت ارچي او چاردره دي. د دي راپور د سيمه يزو پوليسو برخه وګورئ.

د ۲۰۱۲ کال پر مهال یوناما د طالبانو او نورو دولت ضد عناصرو پر ضد ، په مرکزي، شمالي ، سویل ختیځ او ختیځو سیمو کې د راپور له مخې سیمه ایېز پاڅونونه ثبت کړي. ډیرې داسې پاڅونونه لنډ مهاله یا دعام لاریون کونکو څخه جوړوو. سیمه ایېزه ناقانونه وسلواله ډلې چې د دولت ملاتړي وو تل یې داسې پاڅونونه رهبري کړي او د دولت ضد وسلوالو پر ضد یې د وسلوال مقاومت لپاره خلک تشویق کړي ، خپل ملاتړ کونکي یې منظم او دولت ضد وسلوالو پر ضد یې سیمه ایېز افغان امنیتي ځواکونو سره وسلواله ملاتړي اومرسته کړي.[51] د ۲۰۱۲ کال د اپریل په میاشت کې د پام وړ پاڅون د غزني ولایت په اندړ ولسوالي پیل شو. یوناما د دي پاڅون څخه راولاړ په مستقیم یا غیر مستقیم ډول ۴۵ ملکي تلفات ثبت کړي دي.[52]

## وسلوالې ډلې اود ملکي وګړو خوندي ساتنه

په ۲۰۱۲ کال کې یوناما د ناقانونه وسلواله ډلو لخوا د ملکي وګړو د بشري حقونو نه د سرغړاوي مخ په ډیریدونکې پېښې ثبت کړي ، چې ۲۸ پېښې د ۶۲ ملکي تلفاتو لامل شوي. دغه پېښې عبارت دي له هدفي وژنو، اختطاف، ګواښ، ډار اچونې، د ټیکس شوکونه، د ښوونځیو نیول، ښوونکو ته ګواښ ، جنسي تجاوز او وژلو پېښې شامل دي.[53] یوناما ډیرې د ناوړه چلند رامنځ ته شوې پیښې په فاریاب او کندوز ولایتونو کې ثبت کړي.

د غیر قانوني وسلواله ډلو دویم ځلي څرګند والې او شتون چې یوشمېر یې دولتي لیکو کې ځاي شوي او نور په خپلواکه توګه عملیات ترسره کوي، بیا په ځانګړي ډول د شمال اوشمال ختیځوسیمولیري پرتو ولسوالیو کې د دولت ضد عناصروډیریدونکي شتون سره تړاو لري چې سیمه ایېز وسلواله ډلې راڅرګندیږي ، د مخالف وسلوالو پر ضد جنګیدل ، ټولنه خوندي ساتل ، نظامي ځواکونو د لیږد له امله امنیتي تشه ، سیاسي ناکراري او عمومي نا امني پوري تړاو لري. ډیرې ناقانونه ډلې د معافیت سره فعالیت کوي او هیڅ یو مقام ته مسؤلې ندي او ملکي خلک جدي ګواښ سره مخ کوي.[54]

## ماشومان او وسلواله شخړه

[51] د نړیوال قانون له مخې ملکي وګړي د نیغ په نیغه بریدونو څخه خوندي دي، لیکن هغه مهال خوندیتوب له لاسه ورکوي چې په جګړه کې مستقیم ګډون وکړي. په غیردولتي ډله پوري تړلي منظم وسلواله غړي په جګړه کې ملکي حیثیت له لاسه ورکوي او تر کومه چې جګړه کې د جنګیالي په څیر ګډون کوي ترهغه مهال د برید هدف ګرزیدي شي.
[52] دغه تلفات د ۲۰۱۲ کال کې د اپریل او دسمبر تر منځ موده کې ثبت شوي ، او هغه کسان په دي کې ندي شامل چې په جګړه کې په مستقیم ډول داخل وو.
[53] یوناما دغه کړنې د بشري حقونو نه سرغړونه کې ډله بندي کوي ، کوم مهال چې نادولتي وسلواله ډلي په جګړه کې په فعاله ډول ښکیل وي او مستقیما دولت سره تړاو ولري. کله چې وسلوالې ډلي امنیتي او د ترهګري په ضد عملیات د دولتي چارواکو لکه امنیې قومندان ، د ملي امنیت افسر او ولسوال د غیر رسمي قوماندې لاندي تر سره کوي، یوناما دا تایدوي چې دغه ډلید په شخړه کې د ښکیلو خواوو څخه د وسلوال ځواک یوه اغیزمنه برخه تشکیلوي چې دواړه مکلفیتونه په غاړه لري چې د نړیوال بشر دوستانه او بشري حقونو نړیوال قانون څخه د سرغړوني په تور مجازات شي.
[54] مخکي یادونه شوې.

د ۲۰۱۲ کال د وسلواله شخړې په تاو تریخوالي کې ۳۰۲،۱ افغان نجونو او هلکانو ته مرګ ژوبه اوښتې ( ۴۸۸ ماشومان وژل شوي او۸۱۴ نور ټپیان شوي) . د۲۰۱۱ کال پرتله ډیرلږ کمښت ښي. د ټولو تاکتیکونو په پایله کې د ماشومانو تلفات رامنځ ته شوي خو ډیرې ماشومان د تعبیه شوي چاودیدونکو توکو او ځمکنۍ نښتو پر مهال زیانمن شوي. د ۳۰۲،۱ افغان نجونو او هلکانو د مرګ ژوبلې څخه د۷۸۸ (۲۸۳ مړینه او ۵۰۵ کسانو ژوبله) د دولت ضد عناصرو د عملیاتو په پایله کې رامنځ ته شوي.

د دولت پلوه ځواکونو په عملیاتو کې ۱۷۴ تلفات(۹۰ ماشومان مړه او ۸۴ نور ټپیان شوي). د پاتي نورو ۱۱۵ مړینه او ۲۲۵ ژوبله هیڅ یوه لوري ته نده منسوب شوې چې د دې څخه ډیر یې د جنګې چاودیدونکو پاتې شونو له امله رامنځ ته شوي. د جګړې چاودیدونکي پاتې شونو په مقابل کې ماشومان تر هرچا ډیر زیانمونکي پاتې شوې ; په ټولیز ډول د ۲۰۸ تلفاتو څخه ۱۶۰ تلفات ماشومان چې ډیر ځوانان وو، د جګړې د چاودیدونکو پاتې شونو له امله رامنځ ته شوي او دا د همدغې وسلې په پایله کې د ټولو تلفاتو ۷۷ سلنه تشکیلوي.

یوناما په وسلواله شخړه کې د ماشومانو د استمال او استخدام ۳۹ پیښو راپور تر لاسه کړي ، ۱۱۶ ماشومان په کې شامل دي.[55] د دولت ضد عناصرو ماشومان په جګړه کې دځان مرګي بریدونو د ساتونکي د پوځي مالوماتو لاس ته راوړنو او په ځینې وختونو کې د جنسي ګټې اخستنې په موخه استمال کړي. نړیوال قانون د ماشومانو نه جنسي ګټه اخسته او په جګړه کې د برخې اخستنې لپاره استخدام په ځرګنده جنګي جرم ګڼل کیږي.[56]

د ماشومانو جلبول دوه ځلي زیانمن کیدو لامل ګرځي ،چې ماشومان چې استخدام شوي ماشومان هم برید تر سره کوي او هم دبرید پر مهال وژل کیږي. یوناما دري داسي پیښې مستند کړي چې دري ماشومان د ځان وژونکي برید ترسره کولو پر مهال مړه او ۴۸ نوري یې د افغان امنیتي ځواکونو لخوا په دي تور نیول شوي چې ځان مرګي بریدونو ترسره کولو پلان یې درلود. افغان امنیتي ځواکونو

---

[55] د ماشومانو د حقونو کنوینسیون د تعریف له مخې ماشوم هغه څوک دي چې سن یې د اتلس کلنې ټیټ وي (۰-۱۷).

[56] د روم د اساسنامې اتمه ماده (2)(b)(xxvi), (e)(vii) په هر ډول وسله واله نښته کې د ماشوم عسکرو (د ۱۵ کلونو څخه کم عمر) ګمارل، ثبتول او کارول جرم ګڼي. د جمهوري ریاست ۲۳۱۲ نمبر فرمان د ماشوم عسکرو ګمارل په کلکه منع کوي. که څه هم افغان امنیتي ځواکونه د ماشوم عسکرو د ګمارلو څخه د مخنیو ي لپاره د ۲۰۱۱ کال په جنوري میاشت کې د لاسلیک شوي عمل پلانون په تطبیق کې پرمختګ کړي، خو بیا هم د هیواد په کچه د نظارت او راپور ورکونې کاري ګروپ دا موندلې چې د افغان امنیتي ځواکونو، په خاصه توګه د افغان ملي پولیسو، له خوا د ماشوم عسکرو ګمارل په بشپړ ډول نه د دریدلي. د ماشومانو او وسله واله نښتو په هلکه د ملګرو ملتونو د سرمنشي په ۱۱مه کلني راپور کې چې ۲۰۱۱ کال پرمختګونه تر پوښښ لاندي نیسي او د ۲۰۱۲ کال په اپریل کې خپور شو، د افغان ملي پولیسو نوم د ماشوم عسکرو د ګمارلو له کبله بیا هم د راپور په ضمیمه کې راغې او د افغان محلي پولیسو نوم هم پکښې اضافه شو. د ۲۰۱۲ کال په مارچ کې حکومت خپل لومړنې راپور وړاندي کړ چې په عمل پلان کې د تطبیق وړ اقدامات هم پکښې راغلي و.

داسي ډیر نور ماشومان د دولت ضد عناصرو سره د تړاو په تور نیولي.[57]

## ښځې او نجونې او سلواله شخړه

ښځې او نجونې په دوامدار ډول د وسلواله جګړي د اغیزو نه ډیري زیانمنې شوي[58]. د وژل شوو او ټپي شوو افغان ښځو اونجونو شمیرې د ۲۰۱۱ کال پرتله ۲۰ سلنه لوړه شوي چې ۸۶۴ تلفاتو څخه یې ۳۰۱( مړې او ۵۶۳ نورې ټپیانې دي). ډیرې ښځینه قربانیان هغه مهال وژل شوې یا ژوبل شوي چې د کور یا پټي ورځنې کار کې بوختې وي.

د ۸۶۴ افغان ښځو او جونو د مرګ ژوبلي څخه ۵۰۴ ( ۱۷۱ مړینه او۳۳۴ ژوبله) د دولت ضد عناصرو د عملیاتو په پایله کې رامنځ ته شوي ، او د ۱۵۵ تلفات ( ۶۷ مړینه او ۸۸ ژوبله) دولت پلوه ځواکونو ته منسوب شوي. متباقي ۲۰۴ ( ۶۳ مړینه او ۱۴۱ ژوبله) هیڅ لوري ته نده منسوب شوي ، چې اکثره یې د جګړي د چاودیدونکو پاتي شونو له امله راپیښ شوي.

یوناما په ۲۰۱۲ کال کې د ۵۱ ښځو او انجونو په نښه شوي وژنې چې د ۲۰۱۱ کال کې ۱۶ تلفاتو پر تله دري برابره زیاتوالې موندلې ژوره اندیښنه ښکاره کوي. په ۲۰۱۲ کال کې ښځو هدفي وژنو ادامه درلوده .په ځانګړي ډول د ډیرې ناوړه پیښه د دولت ضد عناصرو لخوا د اګست او دسمبر په میاشت کې د لغمان ولایت د ښځو چارو ریاست د دوه رئیسانو وژنه وه.

## وسلواله شخړه او زدکړي ته لاس رسې

د هیواد په ټولو سیمو کې د وسلواله شخړې تاو تریخوالې په مستقیم ډول زده کړي ته لاس رسي اغیزمن کړې. د یوناما دفتر ۷۴ داسي پېښې مستند کړ ي چې په کې ښوونځي سوځول شوي، ښوونکي او نور پرسونل یې ګواښل شوي او ډارول شوي ، ښوونځي ته ځیرمه تعبیه شوي چاودیدونکي توکي ایښودل ، د راکټ بریدونه ، ځمکنې نښتې، تالاشي اود نظامیانو لخوا د ښوونځیو نیول شامل دي.ښوونځي نیول شوي او د نظامي اهدافو لپاره کارول شوي ،چې د ښوونځیو خوندي حیثیت او ماشومان د خطر سره مخ کوي. یوناما د ښوونځیو د نیونې ۱۴ پیښې ثبت کړي..[59]

---

[57] د جګړي په تړاو د افغانستان په نظارت خانو کې د توقیفیانو سره د چلند په اړه د یوناما راپو وګورئ. دغه کلنې راپور د ۲۰۱۳ کال د جنوري په ۲۰ مه خپور شو ،کوم چې د افغان چاروکو په لاس ( ملي امنیت ، ملي پولیس او سیمه ییز پولیس) د ۸۰ ماشومانو ناقانونه توقیفول او شکنجه ثبت کړي ، او د ملي امنیت په تړاو جرایمو لکه ځانمرګي بریدونو تورن وو http://unama.unmissions.org دغه لنک وګورئ.

[58] د نجونو د تلفاتو شمیري د ښځو او نجونو او ماشومانو په حصه کې له دې امله شامل دي چې دوه ګوني ځل دوي زیانمنونکي دي ،خو د نجونو شمیري په ډاټابیس او عمومي شمیرو کې یو ځل شمیرل شوي او مستند شوي دي.

[59] د ۲۰۱۲ کال په وسلواله جګړه کې د هیواد په کچه د ماشومانود کاري ډلي راټوله شوي او تحلیل شوي مالومات.

د طالبانو لخوا په ۲۰۱۲ کال کې څرګنده اعلامیو د لیارې په مکرر ډول دزده کړې ملاتړ په اړه تاکید کړې او د ښوونځیو پر ضد بریدونو مسؤلیت یې رد کړې. ډیرې مستند شوې بریدونه او د زده کړې په چارو کې د لاس وهنې پیښې د طالبانو په ګډون د دولت ضد عناصرو ته منسوب شوې.

## وسلواله شخړه او روغتیا حق ته لاس رسی

یوناما روغیتایې مرکزونو باندې د مستقیم بریدونو ۲۱ پېښې ثبت کړې چې د ۱۲ملکي تلفاتو لامل ګرځیدلې.[60] په دې پېښو کې تعبیه شوي چاودیدونکي توکي ، هدفي وژنې ، اختطاف او روغیتیایې مرکزونو او پرسونل باندې قصدي بریدونو په ګډون ګواښل او ډارولو پېښې شامل دي. په یو شمیر سیمو کې د امنیت خرابیدونکې وضعیت ، د افغان امنیتي او ایساف ځواکونو په عملیاتو کې ځانګړې بدلون او د دولت ضد عناصرو د اغیزاو ولکه روغیتایې خدمتونو ته د محدود لاس رسي څرګند لاملونه دي.

یوناما د امریکا متحده ایالاتو ځانګړې ځواکونو او ملي اردو عملیاتو کې د یو بې نښه ملکي روغتیایې کلینک د قبضې پیښه ثبت کړې چې د میدان وردګ ولایت ،چرخ ولسوالی کې د ۲۰۱۲ کال د اکتوبر د ۲۳ – ۲۵ نېټې پورې نیولې و. دغه کلینک تړل شوي و چې د یو نظامي مرکز په څیریې تري ګټه اخسته ، او له دې سره یو لنډ مهاله توقیف ځاې په څېر تري کار اخستې شو چې ډیر شمیر ملکي خلک پکې توقیف شوي او بیا وروستو خوشې کړاي شوي وو. دغه کار کیداي شي د نړیوال بشردوستانه قانون څخه سرغړونه و بلل شي ، چې دهغې له مخې روغیتایې پرسونل او ځانګې یې یوازې د روغتیایې خدمتونه لپاره ټاکل شوي ، باید هر مهال یې درناوي او ساتنه وشي.[61]

د دې پیښې وروسته ایساف د عامې روغتیا ریاست سره د دې هم غږې په موخه ولید چې د ټول کلنیکونه په خاص ډول نښه کړې.[62]

## د شخړې له امله د ملکي خلکو بې ځاې کېدنه

د ۲۰۱۲ کال په مهال د وسلواله شخړې له امله د ملکي افغانانو بې ځایه کیدو دوام موندلې . د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو د اداري ( یو- ان -ایچ – سي – آر ) مطابق په ۲۰۱۲ کال کې ۲۹۹،۹۴ کسان نوي بې ځایه شوي. په افغانستان کې د وسلواله شخړې له امله په ۲۰۱۲ کال کې په ټولیزډول ۲۹۸،۴۸۶ [63] کسان داخلي بې ځایه

---

[60] د ۲۰۱۱ کال پر تله داسې ۱۰ ورته بریدونه ثبت شوي ،چې په پایله کې یې شپږ ملکې تلفات رامنځ ته شوي.

[61] اصول نمبر ۲۵، ۲۸ ؛ روغتیاي او مذهبي پرسونل او شیان .عرفي نړیوال بشر دوستانه قانونو ،لومړي جلد، د جن ماري هینکرتز او لویس دوسواک بیک ، اي سي ار سي ، کامبرج ۲۰۰۵.

[62] پّ کابل کې د ایساف په مرکز کې د یوناما او ایساف غونډه ۲۰۱۳ کال دفبروری ۱۶ مه .

[63] د یو ان ایچ سي ار د ۲۰۱۳ کال د جنوري ۱۷ نیټي مکتوب.

شوي ، چې ډېر تمرکز يې د افغانستان په سويل او ختيځو سيمو کې ثبت شوي. د ۲۰۱۲ کال پر مهال د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو اداري ۱۵۸،۱۰۹ نور داخلي بې ځايه شوي خلک ثبت کړي چې هغوي د ۲۰۱۲ تر مخه بې ځايه شوي وو.

## د پولې پورې غاړې ګولۍ ورول

يوناما د افغانستان په ختيځ کې د پولې پوري غاړې ګولۍ ورولو ۲۰۶ پېښې ثبت کړي[64] چې له امله يې ۱۲ ملکيان مړه او ۶۳ نور ټپيان شوي. د کورونو او مسجدونو ويجاړيدل ، د ځنګلونوسوځېدل، د څارويو د مړينې او کورنيو بې ځايه کيدو راپورونه هم تر لاسه شوي. د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونواداري په وينا ۷۷۴ کورنئ ( ۶۲۵،۴ نفره) په ختيځه سيمه کې دننه او د باندې بې کوره شوي. د کونړولايت د دانګام ولسوالۍ څخه ۷۶۰ فاميله ( ۵۵۳،۴ نفره) د پولې پورې غاړي ګولۍ ورولو له امله بې ځايه کيدو راپور ورکړل شوي.

## مشاهدات / ليدنې

د پيل راهيسي ۱۱ کاله کيږي ،چې د افغانستان وسلواله جګړې کې ملکيانو ته دوامداره ډيرزيات تلفات اړولي. ملکي تلفاتو کې لږ کمښت بيا هم د ډاډګيرنې خبره ده، خو په لويه کچه د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې دوام ، په ځانګړي توګه مخ په ډيريدونکي تاوتريخوالي او نيغ په نيغه د ملکي وګړو په نښه شوي وژنو د زرګونو افغان ماشومانو، ښځو او سړيو ژوند ، کاروبار او سوکالي د ګواښ سره مخ کړي. د افغانانو د امنيت، زده کړي، روغتيايي اسانتياوې ، انصاف ته لاس رسي او د خوزښت حقونو څخه په ناوړه توګه سرغړونه شوي چې په يو شمېر جګړه زپلي سيموکې د جګړي له امله ملکي خلک مسؤن نه وو.

ټول هيواد کې د ناقانونه وسلواله ډلو د مخ په ډيرېدو خپريدل او د دولت لږ حضور تر څنګ د مخالف وسلوالو په ځېنو سيمو زياتيدونکې ولکه تل په دي مانا ده چې ملکي خلک د ګواښ سره مخ کيدو پر مهال خوندي ځاي نه لري. ملکي وګړي تل د جګړي او تاوترخوالي په منځ کې بند پاتي دي. همدا حالت د ټولو اړوند سرچينو څخه په ۲۰۱۳ کال کې د ملکي خلکو خوندي ساتنې په موخه د سملاسي ښه ګامونه اخستلو غوښتنه کوي. د کونړ ولايت و ته پور ولسوالي يو تن قومي مشر د ملکي خلکو حالت داسي بيان کړه :

زه د ولسوالۍ د شورا غړي يم او د طالبانو ملاتړ نه کوم . که تلفون راته وکړي ورځم . که يوناما او دولت راته تلفون وکړي هم

[64] يوناما د پولې پورې غاړي ګولۍ ورول نظارت کړي او د هري پيښې د پخلې په اړه ګڼ شمير سرچينو سره اړيکې نيولې چې عبارت دي له ، قرباني ، مشران، ډاکټران، ملي پوليس، سرحدي پوليس او ملي امنيت. يوناما د ۱۲ کسانون مړينه او ۶۳ نورو ژوبله د ملکي وګړو تلفات تائيدوي. يوناما په ډېرو پيښو کې د قرباني او دهغه د خپلوانو سره مصاحبه کړي خو هغه مهال چې د تلفاتو د تايد لپاره لومړني منابع موجود نه وي د سيمې د چارواکو سره د دويم لاس سرچينو په حيث ورسره مالومات کره شوي.

راځم .د دوه اورونو په منځ کې نښتي یو. که نن راغلي یو دا زموږ لپاره یو خطر دي. خلک به څخه پوښتنه کوي دلته څه لپاره راغلي یاست؟ دوي څه کول غواړي؟ خو موږ د خلکو د غوښتنو سره سم وینا کو.

- د کونړ ولایت د وټپور ولسوالی د قومي مشر سره د یوناما مرکه ،چې د د طالبانو د محکمې لخوا د دري ملکي کسانو د وژلو په اړه یې مالومات ورکړ.

دوامداره وړاندیزونواوخبرو اترو ته په پام سره چې په ۲۰۱۳ کې د سولې خبرو سره مرسته کوي ، یوناما بیا ځل په دې اړه تاکید کوي چې د دغه خبرو ترسره کیدو پر مهال چې د جګړي حل لیاري ته رسیږي په روانه شخړه کې د ملکي خلکو خوندي ساتنه په لومړیتوب کې ونیسي ، او هغه اغیزمنو اقداماتو ته دي بشپړه پاملرنه وکړي چې د ملکي خلکو مرګ ژوبله راکمه کړي. ملکي افغان وګړو ته د داسي خبرو ارزښت او اعتبار یوازي هغه مهال ښکاري چې د هغوي د ورځنې ژوند امنیت او مسؤنیت کې پرمختګ راځرګند شي.

## ***سپارښتنې***

یوناما په ۲۰۱۳ کال کې بیا په ټینګار سره په جګړه کې ښکېلو خواو – دولت ضد وسلوال ، افغان ملي او نړیوال ځواکونه دي ته رابولي چې د ملکي خلکو د خوندي ساتنې په اړه نور ګامونه واخلي او خپل قانوني مکلفیت سره سم د ملکي کسانو تلفات مرګ ژوبله راکمه کړي. یوناما د ملکي خلکودخوندي ساتنې د ښه والي په موخه لاندې سپارښتنو وړاندیز کوي.

### د دولت ضد عناصر

- د بشرپالنې د نړیوال قانون د اوصولو سره سم د توپیر ، تناسب او احتیاطي تدابیر په پام کې ونیسي او د ملکي خلکو تعریف دي د بشرپالنې د نړېوال قانون سره په مطابقت کې پلې کړي .

- هغه کړنلارې، هدایات او لارښوونې دې په عمل کې پلې کړي چې د ملکي خلکو د وژنې څخه مخنیوې کوي او هغه افراد چې ملکي کسان وژنې یا یې ټپیان کوي ورسره حساب وشي.

- د نړیوال قانون سره سم دې د ملکي خلکوقصدي هدفي وژنې ودروي او هغه فرمانونه چې پرملکي خلکو د بریدونو اود هغوي د وژنې جواز ورکوي ملغا اعلان کړي

- د فشار په ذریعه چاودیدونکوتوکو کارونه ودروي او د ځاي پرځاي شوي چاودیدونکو توکو بې توپیره استمال مخنیوي وکړئ، په ځانګړي توګه د ځان وژونکو بریدونو، او په عامه اوملکي ځایونو کې دچاودیدونکو توکو ځاي پر ځاي کول بند کړئ. دغیر قانوني او بې تفکیکه وسلو پرکارونه لکه د فشار

په ذریعه چاودیدونکي وسیلو د بندیز په اړه لارښود صادر کړئ.

- د وژنو، شکنجې، ناوړه چلند او نور د بشري حقونو سر غړونه په ځانګړي توګه هغه موازي قضایي جوړښتونه ودروي چې د مرګ سزاګانې ټاکي.

## د افغانستان دولت

- د افغان ملي امنیتي ځواکونو د روزنې تمویل په موخه دي لاډیري هڅې وکړي چې دوي لپاره اړتیا سره سم منابع او مرسته برابره شي تر څو د دي جوګه شي چې په ډاډمنه توګه ملکي خلک خوندي وساتلې شي.
- د یو دولتي دایمي اداري په رامنځ ته کولو سره د حساب ورکونې پروسې ته د ودي تر څنګ ملاتړ وکړئ، چې د اړوند ادارو استازي ولري او واک ولري چې د ملکي تلفاتو د پیښو پلټنه وکړي او ملکي تلفاتو پېښو ته ځواب ویلي شي.
- د چاودیدونکو توکو پرضد د دولت ستراتیجي پلي کولو ته لومړیتوب ورکړئ اوهڅه دي وکړي چې دافغان امنیتي ځواکونو ظرفیت ته وده او منابع ورکړي چې قومانده او کنترول لاس کې واخلي او د چاودیدونکو توکو پر ضد عملیات، د لمنځه وړل او استثمار یې په اغیزمن ډول تر سره کړي.
- څرنګه چې د سمیه ایېزو پولسو پروګرام پراختیا مومي، د چاڼ او بیا ارزونې، د ګمارنې، نظارت او حساب ورکړې میکانیزم دي د سیمه ایېزو ټولنو په همکاري نورغښتلي شي، بیا په ځانګړي ډول د ولسوالیو په کچه د بشري حقونو د سرغړونې او ناوړه چلند څخه مخنیوې او ټولنه په ښه ډول خوندي شي. د سیمه ایېزو پولیسو جنایاتو ته دنړیواله نظامي ځواکونو او بسپنه ورکونکي هیوادونو په ملاتړقانونې ځواب اوچلند ډاډ من شي .
- ټول غیر دولتي وسلوال دي بې وسلي او ترخیص شي او په دي اړوند دي اړین ګامونه واخستل شي چې د دغو ډلو په لاس د بشري حقونو څخه سرغړونو د حساب ورکړه ډاډمنه کړي.

## نړیوال پوځي ځواکونه

- په دوامداره توګه دتاکتیکي لارښودنواوعملیاتي پروسیجرونواوهغه تاکتیکي کړنلارو چې هوایې بریدونه تنظمیوي بیا غور او کتنه یې تر سره کړي، په خاص ډول د هغه معیار بیا کتنې ته اړتیا ده چې د برید ترمخه د' هویت/ حیثیت[65]،

[65] یوناما اود بشر د حقونو عالي کمشنرۍ د جنګیدونکي جنګیالي ایرادي په اړه په دي نظر دي ، چې په نښه شوي شخص باید کره او تثبیت شي چې هغه یو مشروع فوځي هدف دي : لکه دوامداره جنګیدونکي جنګیالې / جګړه مار او یا ملکي کس چې نیغ په نیغه جګړه کې برخه اخلي

په سمه توګه نښه او وپیژني. د عملیاتو وروسته باید د افغان حکومت په همکاری دهغوعملیاتو چې د ملکي خلکودمرګ ژوبلي لامل شوي دي پلټنو ته ادامه ورکړي.

- د افغان ملي امنیتي ځواکونو د روزلو اوسنبالولو سره دوي ته کافي منابع ورکول چې د قوماندي او کنترول وړتیا ولري اود چاودیدونکو توکو پرضد عملیات، د لمنځه وړل او استثمار یې په اغیزمن ډول سره تر سره کړاي شي.
- د ملکي تلفاتو کمښت، تعقیب ، پلټني او حساب ورکړي په موخه د افغانستان دولت د هلوځلو ملاتړ دي نورهم ډیر شي.
- شفافیت او حساب ورکوني ته وده ورکول او د ملکي اغیزمنو افغانانواو ټولنو سره د ښه اړیکو جوړول، او په هغو پیښو کې چې د ملکي خلکو مرګ ژوبله را منځته کړي د ایساف د پلټنو د موندنو عمومي خپرول، انظباطي او حساب ورکوني په اړه ګامونه ترسره کړي او په منظمه توګه د اوښتي زیان جبیره او اصلاح وشي.

## د دولت ضد عناصر او د ملکي کسانو ساتنه

*زما ورور یو بې ګناه ملکي کس و، هغه هیڅکله هم د جګړې د ښکېلو خواوو د کومې ډلې په وړاندې جګړه نه وه کړې. طالبانو څو ځلې هغه ته د مرګ ګواښ وکړ. د جون پر ۵ نېټه، تعبیه شوي چاودیدونکي توکي، چې زما د ورور د وژلو په موخه د طالبانو له خوا ځای پر ځای شوي وو، هغه ته نږدې وچاودیدل، خو هغه له برید څخه خوندي پاتې شو. طالبانو هغه له دولت او له خپلو خلکو سره د پرمختیایي پروژو په پلي کولو کې، د مرستې کولو له امله نه خوښاوه. په پای کې طالبانو هغه د جولاي پر ۶ نېټه هغه مهال ووژه چې له لمانځه وروسته له خپلو ملګرو سره په خبرو اترو بوخت و . دوو طالبانو چې مخونه یې پټ وو، زما د ورور په مخ، متو او سینه باندې ۱۰-۱۴ مرمۍ فایر کړې.*

-- د ۲۰۱۲ د جولاي په ۶ نېټه د بلخ ولایت، د چمتال ولسوالي په عرب مزاري کلي کې د دولت ضد عناصرو له خوا د هدفي وژنې د قرباني شخص ورور.[66]

په ۲۰۱۲ کې د دولت ضد عناصرو له خوا یوناما د ملکي کسانو ۲۱۷۹ وژنې او ۳۹۵۰ ژوبلې (د ملکي کسانو۶۱۳۱ تلفات) مستند کړې دي. دا د ملکي کسانو په وژنه کې یوه سلنه کموالي او د هغوي په ژوبله کې ۱۵ سلنه زیاتوالي ښیي، په عام ډول دا د ۲۰۱۱ کال پرتله د دولت ضد عناصرو ته منسوب د ملکي کسانو په تلفاتو کې ۹ سلنه زیاتوالي په ډاګه کوي.[67] په ۲۰۱۲ کې د ملکي کسانو د تلفاتو ۸۱ سلنه د دولت ضد عناصرو ته منسوب شوې کومه چې په ۲۰۱۱ کال کې ۷۲ سلنه وه.


دولت ضد عناصرو د جګړې په بې توپیره تاکتیکونو کې زیاتوالي راوستې او په ځانګړي ډول یې د ملکي کسانو د ګڼې ګوڼې په سیمو کې د فشار په نتیجه کې چاودیدونکي ځای په ځای شوي توکو کارولو تر څنګ ځانمرګي او پیچلي بریدونه تر سره کړي .دولت په هغو پیښو کې چې اټکل کیده په ښکاره ډول هدفونه نظامي دي، د تعبیه شویو توکو د ځای پر ځای کولو یا چاودلو مسؤل لوري د احتیاطي تدابیرو په نیولو کې پاتې راغلي، څو ملکي کسان له برید څخه وژغوري،او په دې نه دي بریالي شوي چې د نظامي هدفونو او ملکي کسانو ترمنځ توپیر وکړي او/یا یې د ملکي کسانو فعالیت ته هغه ډول پاملرنه نه ده کړې لکه څرنګه چې یې د بشرپالنې

---

[66] د قرباني شخص له خپلوانو سره د یوناما مرکه، ۲۰۱۲ کال د جولاي ۶، مزار شریف، د بلخ ولایت.

[67] په ۲۰۱۱ کې یوناما د دولت ضد عناصرو له خوا د ملکي کسانو ۵۶۳۶ تلفات (د ملکیانو ۲۳۰۸وژنې او ۳۴۲۸ ژوبلې) مستند کړي. په وسله واله شخړه کې د ملکي کسانو د ساتنې په اړه د یوناما د ۲۰۱۱ کال راپور په دغه ویب پاڼه کې وګورئ: http://unama.unmissions.org/Portals/UNAMA/Documents/UNAMA%20POC%202011%20Report_Final_Feb%202012.pdf

نړیوال قانون غوښتنه کوي. دغه ډول کړنې د بشرپالنې د نړیوال قانون د توپیر، تناسب او احتیاطي تدابیرو له اصولو څخه سرغړونه ده، کوم چې د جګړې له ټولو ښکیلو خواوو څخه د هغو د ملاتړ او په پام کې نیولو غوښتنه کیږي.




د دولتي چارواکو، مذهبي مشرانو، قومي مشرانو، په رخصت تللي پولیس افسرانو او د سولې د پروسې ملاتړ کونکو قصدي هدف ګرځول او په دې ګمان دي چې د دولت ملاتړي دي، د ملکي وژل د ملکي کسانو د تلفاتو په شمیر کې ډراماتیک زیاتوالي د ډیرې اندیښنې وړ دي.

یوناما همدارنګه د نا قانونه موازي قضایي جوړښتونو لاندې د وژنو، د اندامونو د غوڅولو ، وهل ټکولو او د بشري حقونو د نورو سرغړونو پیښې چې د دولت ضد عناصرو لخوا ترسره شوي ثبت کړي دي. په دغو جوړښتونو کې هڅه کیږي څو هغو ملکي کسانو ته په چا چې د دولت لپاره د جاسوسي او نورو جرمونو تورونه لګېدلي لکه څنګه چې د دولت ضد عناصرو لخوا تعریف شوي، سزا ورکړي.

### *د طالبانو له نظره د ملکي کسانو تعریف*

طالبانو په څرګند ډول ویلي چې ځینې هغه کسان څوک چې د نړیوال قانون د مخې د ملکي کسانو تر تعریف لاندې راځي او د بریدونو څخه خوندي وي ښایي د برید هدف وګرځول شي، چې دا د نړیوال بشر دوستانه قانون سره په ټکر کې ده.

په ۲۰۱۲ کال کې، طالبانو د ملکي دولتي کارکونکو، قومي مشرانو، دولتي کارګرانو ، قراردادیانو، موټر چلونکو ،ژباړونکو او نورو ملکي کسانو د یو شمیر هدفي وژنو مسؤلیت منلي او د دې ډول ملکي کسانو وژل یې د وژنو او نیولو د هدف ګرځولو په خپل لست کې شامل کړي.[68] د بیلګې په توګه، په هغه بیان کې چې د ۲۰۱۲

[68] په فوځي شخړه کې د ملکي کسانو د ساتنې په هکله د ۲۰۱۲ کال د یوناما ۶ میاشتني راپور ته مراجعه وکړي، ۱۶ پاڼه: د ملکي کسانو هدفي وژنې، د الفاروق په نوم د پسرلني عملیاتو د پیل په هکله د افغانستان د اسلامي امارت د رهبري د شورا بیان، د ۲۰۱۲ کال د مۍ دوهمه او د طالبانو بیانونه، به دې راپور کې یو څپرکی

کال د اګست په میاشت کې صادر شو ، طالبانو ملکي دولتیکارکونکي مشروع هدف ګڼلي. د دولتي اداري د ملکي غړو قصدي وژنه او هدف ګرځول د نړیوال بشر دوستانه قانون څخه سرغړونه ده، او د هغي له مخي یواځي فوځي ځایونه یو مشروع هدف ګرځیدلي شي. تر هغه چې ملکي وګړي په شخړه کې په مستقیمه توګه برخه نه وي اخیستي، باید تر هغه ملکي کسان هدف و نه ګرځول شي.

## *تعبیه شوي چاودیدونکي توکي او د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو تاکتیکونه*

*د دي پیښي پر مهال ما د خپلي کورنۍ دري غړي له لاسه ورکړل: زما ۲۰ کلن زوي، ۱۸ کلن وراره، او زما ۶۳ کلن ورور. زما زوي په دې وروستیو کې د پوهنتون په ازموینو کې بریالي شوي و او هیله یې لرله چې د انجینرۍ پوهنځي ته لاړ شي. زما زوي یواځي ۲۰ کلن او زیاتي هیلي یې درلودلي. هغه هیڅ کله هم فکر نه کاوه چې دومره ژر به ځوانیمرګ شي. له مرګ نه یوه ورځ وړاندي ما تیر وار هغه ولید. هغه له کلي څخه په دې نیت راغلي و چې زموږ سره یوه شپه وکړي. زه او س د خپل زوي، وراره او ورور د بیرته راتګ لپاره هیڅ هم نه شم کولاي.*

-- د ۲۰۱۲ کال د مارچ په ۱، د فاریاب ولایت د قیسار په ولسوالي کې د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو په یوه پیښه کې د وژل شویو ملکي کسانو خپلوان چې په دي پیښه کې ۵ ملکي کسان ووژل شول.[69]

په ۲۰۱۲ کال کې ، د دولت ضد عناصرو لخوا د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو نا قانونه او بي توپیره کارول د ملکي کسانو د وژني ستر لامل وو او د ملکي کسانو د زیاتو تلفاتو باعث ګرځیدلي.[70] د ۲۰۱۱ کال پرتله په ۲۰۱۲ کال کې د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو له امله د ملکي تلفاتو په شمیر کې ۳ سلنه زیاتوالي راغلي.[71]

د ۲۰۱۲ کال د جنوري له لومړي نیټي څخه د ډسمبر د میاشتي تر ۳۱ مي نیټي، یوناما د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو ټولټال ۷۸۲ پیښي ثبتي کړي (په ۲۰۱۲ کال کې په ورځ کې د ۲ تعبیه شویو چاودیدونکو توکو نه زیاتو ملکي کسانو ته تلفات اړولي) چې په نتیجه کې یې ۲۵۳۱ ملکي کسانو ته تلفات اوښتي( ۸۶۸ ملکي کسان

---

http://unama.unmissions.org/Portals/UNAMA/Documents/UNAMA%20POC%202011%20Report_Final_Feb%202012.pdf

[69] د قربانیانو د خپلوانو سره د یوناما مرکي، فریاب ولایت، د ۲۰۱۲ کال د مارچ دریمه.


[70] په افغانستان کي تعبیه شوي چاودیدونکي توکي د ملکي او پوځي تلفاتو تر ټولو ستر لامل دي . ، د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو پرضد ملي ستراتیژي ، ۲۰۱۲ کال لومړي مادي ته مراجعه وکړي ، د ۲۰۱۲ کال د جون په ۲۴ تصویب شوي.

[71] په ۲۰۱۱ کال کي یوناما د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو د کاروني له امله د ملکي کسانو ۲۴۶۰ پیښي ثبتي کړي چي په دې کي ۹۴۹ د وژني او پاتي نوري ۱۵۱۱ د ټپیکیدو پیښي دي. په وسلواله شخړه کي د ملکي کسانو د ساتني په اړه د یوناما د ۲۰۱۱ کال کلني راپور ته مراجعه وکړئ:
http://unama.unmissions.org/Portals/UNAMA/Documents/UNAMA%20POC%202011%20Report_Final_Feb%202012.pdf

وژل شوي او نور ۱۶۶۳ ټپیان شوي) د ټولو ملکي تلفاتو ۳۴ سلنه جوړوي، او د دولت ضد عناصرو ته منسوب د ملکي تلفاتو ۳۸ سلنه تشکیلوي.

یوناما د روان کال په دویمه نیمایي کې د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو په فعالیت کې هغه وخت چې کله د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو د پېښو له امله ۶۲ سلنه ملکیانو ته تلفات واړول چې د دولت ضد عناصرو د عملیاتو د شدت سره تړلي وه لږ زیاتوالي مشاهده کړي.[72]

یوناما مشاهده کړي چې د ملکي کسانو په زیاترو پېښو کې چې د تعبیه شوي چادیدونکو توکو له امله رامنځ ته شوي، داسي ښکاري چې دغه وسیلو کوم خاص پوځي اهداف په نښه کړي نه وو او یا په داسي ډول کارول شوي چې اغیزي یې بې توپیره وي چې دا د بشر پالني د نړیوال قانون څخه سرغړونه ده . د بیلګي په توګه، یوناما د ۲۹۸[73] پیښو چې له امله یې ۹۱۳ ملکي کسانو ته تلفات اوښتي (په دي کې ۳۹۳د وژنو او ۵۲۰ د ټپي کیدو پیښي دي) تصدیق کړي، په دي پیښو کې د فشار سره چاودیدونکي توکي کاریدلي چې اکثرا یې په هغو سړکونو کې ښخ شوي ، په کومو چې ملکي کسان تګ او راتګ کوي. دا د دي تاکتیک په کارولو سره د ۲۰۱۱ کال پرتله چې کله یوناما د وژل کیدو ۷۴ او د ټپي کیدو ۶۷ پیښي ثبت کړي ، ډیر زیاتوالي ښیي.
د دولت ضد عناصرو لخوا د کارول شویو تعبیه شویو چاودیدونکو توکو زیاتره معلومه برخه د قرباني شخص پواسطه د فعال شویو تعبیه شویو چاودیدونکو توکو په بڼه کې وي چې په دې کې د فشار سره چاودیدونکي تعبیه شوي توکي ډیر کاریدلي. د قرباني شخص د تماس پواسطه د فعال شویو تعبیه شویو چاودیدونکو توکو پراخوالي په جنوبي ولایتونو کې ډیر دي، چیري چې په ستره پیمانه تعبیه شوي چاودیدونکي توکي کاریدلي.[74]



په افغانستان کې د فشار په پایله کې چاودیدونکي توکي هغه مهال چوي، کله چې څوک او یا نقیله وسیله ور باندي تیره شي. په افغانستان کې د فشار سره چاودیدونکي توکي د اټکل له مخي د ۲۰ او ۲۵ کیلو تر منځ چاودیدونکي توکي لري چې دا د ټانک ضد یو معیاري ماین دوه برابره زیات چاودیدونکي توکي دي، خو دا توکي اکثرا د پرسونل ضد ماین په شان حساسیت لري. دا په دې مانا چې هغه د یوه وژونکي پرسونل ضد ماین په شان چې د یوه ټانک د له منځه وړلو قابلیت لري، عمل کوي. که چیري ملکي کسان او یا نقلیه وسیله په دې چاودیدونکو توکو ور برابره شي نو د هغوي په وراندي د ژغورني او خلاصون امکان نه لري. یو زیات شمیر تعبیه شوي چاودیدونکي توکي چاودیدلي چې د چاودني وزن یې نږدې ۲-۴کیلو ګرام پورې و او په ځانګړي ډول د پیاده افرادو د معیوب کولو یا وژلو لپاره عیار شوې وو.[75]

په ۲۰۱۲ کې طالبانو څو بیانیې خپرې کړي چې د دوي له خوا تعبیه شویو چاودیدونکو توکو ته په کې اشاره شوې چې له لیرې واټن څخه یا د قوماندې په ذریعه یې هدف په نښه کړي او د هغو چاودیدونکو توکو کارول یې نه دي منلي چې د فشار په نتیجه کې چوي ،لکه ، د ۲۰۱۲ په اکتوبر کې طالبانو وویل چې دوي "هیڅکله د هیواد په هیڅ ځاي کې هم داسې ماینونه نه خښوي چې پخپله وچوي ، بلکه هر ماین له لیرې څخه کنترولیږي او یوازې په نظامي هدفونو انفجار کوي".[76]

خو د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو د فعالیت په اړه د ایساف ارقام او معلومات ښیي چې د شمېرو له مخې په ۲۰۱۱ او ۲۰۱۲ کلونو کې په هدف باندې برابر چاودیدونکو توکو د کارونې او د بې تشخیصه کارونې په منځ کې کوم د پام وړ توپیر نه دي لیدل

---

[75] د یوناما کتنه د ایساف د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو ضد څانګې سره، د ایساف مرکزي دفتر، کابل، اکتوبر او نومبر ۲۰۱۲.

[76] د افغانستان اسلامي امارت، "د یوناما د نورو په وړاندې د چاودیدونکو وسیلو په اړه د اسلامي امارت غبرګون" د اکتوبر ۲۲، ۲۰۱۲ په دې پته موندلاي شي: http://shahamat-english.com/index.php?option=com_content&view=article&id=19206:reaction-of-islamic-emirate-regarding-accusations-of-unama-about-explosive-devices&catid=4:statements&Itemid=4, accessed 4 February 2013

شوي. نږدې ۷۰ سلنه د تعبیه شویو چاودیدونکو توکي داسې عیار شوي چې د قرباني سره د تماس په پایله کې چاودیدونکي توکي دي.[77]

یوناما خپل موقف بیا هم څرګندوي چې د قربانیانو د تماس په ذریعه چاودیدونکي تعبیه شوي توکي بې تشخیصه وسیلې دي ځکه چې د ملکي او نظامي هدف ترمنځ توپیر نه شي کولای او د بشرپالنې د نړیوال قانون له مخې یې کارول غیر قانوني کار دي.

په ۲۰۱۲ کې تعبیه شوي چاودیدونکي توکي په داسې ځایونو کې چاودیدلي دي چې ملکي کسان هلته ډیر وي لکه سرکونه، مارکیټونه، دولتي دفترونه، د خلکو د یو ځای کیدلو عمومي ځایونه، لکه بازارونه، د ښوونځیو د ننه او بهر، دوکانونه او د بس سرویس تم ځایونه. د دولت ضد عناصرو تعبیه شوي چاودیدونکي توکي په ځانګړي توګه د فشار په نتیجه کې چاودیدونکي وسیلې په داسې ځایونو کې ځاي په ځاي شوي لکه مواصلاتي لارې د پیاده رو او موټرونو د لویو لارو په ګډون ،چې ملکي کسان خو یا پیاده ، په بایسکل سپاره وو، په بسونو، ټکسي او یا په شخصي موټرو کې وو وژلي او ژوبل کړي دي.

په ځینو حالاتو کې، مخالف وسلوالو څو داسې وسیلې خښې کړي دي چې د ملکي کسانو لپاره یې ډیرې ناوړې پایلې درلودې. د مثال په ډول، د ۲۰۱۲کال د جولاي په ۸ نېټه د کندهار ولایت د ارغستان په ولسوالی کې د دوو ترلو شویو تعبیه شویو چاودیدونکو توکو د انفجار له امله ۱۴ تنه ملکیان ووژل شول، چې دری تنه یې ښځې او څلور تنه یې ماشومان وو او دري نور یې ژوبل کړل. په لومړی پېښه کې د سرک د غاړي یو تعبیه شوي چاودیدونکي توکي د سوارلیو په یوه موټر وچاود ، چې ښځې او ماشومان په کې سپاره وو. څو هغه مهال چې یو تراکتور چې ملکي کسان په کې سپاره وو د پیښې ځاي ته ورسید چې مرسته وکړي نو دویم تعبیه شوي چاودیدونکي توکي انفجار وکړ او ټوله سوارلي یې ووژله.

که څه هم د دولت ضد عناصرو ځینې وخت داسې تعبیه شوي چاودیدونکي توکي کارولي دي چې له لرې څخه کنټرولیږي څو دولت پلوه ځواکونه په نښه کړي، په ځینو پیښو کې دې ډول تاکتیکونو ملکي کسان په داسې ډول زیانمن کړي چې د تناسب اصل نه دي مراعات شوي، په ځانګړي ډول په هغو وختونو کې چې د دولت ضد عناصرو نظامي هدفونه په داسې ساحو کې په نښه کړي چې شاوخوا یې ملکي خلک اوسي. د مثال په ډول، د نومبر په ۲۶ مه د لرې کنټرولیدونکي وسیله چې په یوه بایسکل پورې تړلې شوي وه، د خوست ولایت د خوست په ښار کې وچاودیده چې لږ تر لږه ۲۶ تنه ملکي کسان یې ژوبل کړل. افغان ملي پولیسو راپور ورکړي چې طالبانو په دې ذریعه هغه ملي پولیس په نښه کړي و چې د عمومي مارکیټ

[77] له ایساف سره د یوناما د نظامي مشاورتي واحد کتنه، ایساف مرکزي دفتر، کابل، ۴ جنوري، ۲۰۱۳.

ساتنه يې کوله. طالبانو د دې پېښې مسؤليت په يوه بيانيه کې چې د رسنيو له خوا خپره شوه و نه مانه. له داسې مسؤليت څخه انکار کول په داسې پېښو کې چې ډېر شمېر ملکي تلفات ولري يو معمول ګرځېدلی دی.

دغه راز تعبيه شوي چاوديدونکي توکي د داسې يوې لارې په ډول هم کارول شوي چې هدفي وژنې ترسره کړي. د مثال په ډول د ډسمبر په څلورمه د لغمان ولايت د مهتر لام په ښار کې د ليري کنترول کېدونکي چاوديدونکې توکې هغه وخت وچاوديد چې د اليشنګ د ولسوالي ولسوال، د ماليې مدير او يو کاتب ولسوالۍ ته د تللو په حال کې وو. دغه هدفي وژنه له هغه وروسته وشوه چې د اليشنګ د ولسوالۍ ولسوال ته اخطار ورکړل شوي چې کار پرېږدي.

د بشرپالنې د نړيوال قانون له مخې د ملکيانو هدفي وژنې منع دي. دغه سرغړونې په هغه مهال ډيره جدي بڼه خپلوي چې بريدونه د تعبيه شويو چاوديدونکو توکو په ذريعه ترسره شي ځکه چې دا ډول وسيلې تشخيص نه شي کولای او اغيزې يې ډيرې بې تناسبه پاتې کيږي. د مثال په ډول، د اګست په ۱۴ د کندز ولايت د دشت ارچي په ولسوالي کې يوه داسې وسيله په يوه موټر سايکل پورې تړل شوې وه چې هدف يې محلي پوليس و او په يوه ګڼه ګوڼه کې وچاوديدله چې ۱۲تنه ملکي کسان يې ووژل چې دوه تنه يې نجونې وي او ۲۲ نور يې ټپيان کړل.

يوناما د تعبيه شويو چاوديدونکو توکو د ټولو ډولونو په کارولو سره چې ډېر ځله په هغو سرکونو باندې چوي چې ملکي کسان ورباندې تګ راتګ کوي، انديښمنه ده. د دې پيښو مثالونه په لاندې ډول دي:

- د جولاي په ۱، د غزني ولايت د غزنې په ښار کې يو تعبيه شوي چاوديدونکي توکي د يوه شخصي بس په وړاندې وچاوديده چې ۵ تنه ملکيان يې ووژل او ۱۱ تنه يې ژوبل کړل. د بلخ د ولايت د دولت اباد په ولسوالي کې د اکتوبر په ۱۹ يو تعبيه شوي چاوديدونکي توکي د فشار په ذريعه چاوديدونکي توکې د يوه واړه بس په وړاندې وچاوديده چې ۱۵ تنه ملکي سوارلي يې ووژلي او ۱۹ تنه نور يې ژوبل کړل.
- د اکتوبر په ۳۱، هلمند ولايت د موسي قلعه په ولسوالي کې د سړک د غاړي يو تعبيه شوي چاوديدونکي توکي د يوې عرادې موټر په وړاندې وچاوديده چې لس تنه ملکيان يې ووژل او دوه تنه نور يې ژوبل کړل.
- د نوومبر په ۱۶، د فراه ولايت د پشت رود په ولسوالي کې يو محلي بس چې ميلمانه يې د يوه واده لپاره وړل دليري څخه کنترولېدونکي چاوديدونکې توکي باندې وخوت چې ۱۳ تنه ملکي کسان يې ووژل چې نږدې ټول يې ماشومان او ښځې وي او لس کسان يې ټپيان کړل.

- د نومبر په ۲۹ د اروزګان ولايت د ديراوت په ولسوالي کې د سرک د غاړې يوه تعبيه شوي چاوديدونکي توکي د يوه واړه بس د لاندې وچاوديده چې څلور تنه ملکيان يې ووژل او ۱۴ يې ټپيان کړل چې په دې حمله کې ۱۳ تنه ماشومان وو.

## ځانمرګي او پيچلي بريدونه[78]

> حاجي رسول، يو نامتو قومي مشر، وفات شو او موږ ټول د هغه جنازې ته ورغللو. يو ناڅاپي په ګڼه ګونه کې خلکو نارې کړې "ځانمرګی بريد کوونکی، ځانمرګی بريد کوونکی" بيا ما يوه قوي چاودنه واوريده. له هغه وروسته ما د خلکو ژړا اوريدله. هغه صحنه چې ما په خپلو سترګو وليدله لکه د جنګ د ميدان په شان وه. ډير مړي پراته وو او زما په شاوخوا کې ټول کسان ټپيان شول. ځانمرګي بريد کوونکی يو ۱۶ کلن هلک و.
>
> -- د ننګرهار ولايت د دور بابا په ولسوالي کې د ځانمرګي بريد يو تن عيني شاهد، چې د ۲۰۱۲ د سپټمبر په ۱۴ وشو او ۲۰ تنه ملکي کسان يې ووژل او ۶۶ تنه نور يې ژوبل کړل.[79]

په ۲۰۱۲ کې يوناما د ملکي تلفاتو ۱۵۰۷ پيښې ثبت کړې (۳۲۸ تنه وژل شوي او ۱۱۷۹ تنه ژوبل) چې د ۷۳ ځانمرګي او پيچلو بريدونو په پايله کې رامنځ ته شوي (د ۲۰۱۱ کال پرتله چې ۹۰ داسې پيښې وشوې او په پايله کې يې ۱۶۵۳ تنه ملکي تلفات رامنځ ته کړل ). په ملکي تلفاتو کې دغه نهه سلنه کموالی چې د ځانمرګو او پيچلو بريدونو له امله رامنځ ته شوي هغه ملکي تلفات نه رانغاړي چې د هدفي وژنو په پايله کې پيښ وي او لومړني وسيله يې ځانمرګي بريدونه وو.[80]

ځانمرګي بريدونه د نوعيت په لحاظ د انفرادي کس په ذريعه چې يا واسکټ لري او يا موټر چلوي چې په چاوديدونکو موادو بار وي، تر هغو بريدونو پورې په کې شامليږي چې څو تنه ځانمرګي بريد کوونکي په کې برخه لري او پيچلې حملې کوي چې زيات شمير جګړه مار په کې داخل وي.

---

[78] د يوناما تعريف له پيچلو بريدونو څخه هغه همغږي شوي او سنجول شوي بريد دي چې ځانمرګي وسيله (د ځاي پوري تړلي تعبيه شوي چاوديدونکي توکي يا په موټر کې ايښودل شوي). له يوه څخه زيات بريد کوونکي، او له يو ډول څخه زياتې وسيلې (په ځاني پورې تړلي چاويدونکي توکي جمع چاوديدونکي ګولۍ) په کې شاملې وي. دغه درې واړه عناصر بايد موجود وي ترڅو يو بريد په کابل کې د ملګرو ملتونو د خونديتوب او امنيت د ادارې په نظر يو پيچلي بريدل وګڼل شي.

[79] له عيني شاهدانو سره د يونما مرکې، د سپتمبر ۵، ۲۰۱۲، جلال آباد، ننګرهار ولايت.

[80] څرنګه چې يوناما هره د ملکي تلفاتو پيښه يوازې يو ځل مستنده کوي، د ځارنمرګو بريدونو په پايله کې د حقيقي تلفاتو شمير په ۲۰۱۲ کې له ۱۵۱۵ څخه زيات دي. د مثال په ډول، هغه پيښې چې ځانمرګي بريد کوونکي يو لوړ پوړي حکومتي چارواکي په نښه کوي او په يوه مسجد کې د ننه چاودنه کوي، د داسې پيښې په ډول مستنده کيږي چې "هدفي وژنې" ګڼل کيږي او د تعبيه شويو چاويدونکو توکو له تاکتيک څخه کار اخيستل شوي.

د دولت ضد عناصرو په عامه ځایونو کې د ځانمرګي بریدونو مختلفو ډولونو ته ادامه ورکړې. او ملکي کسان یې په پرله پسې ډول په داسې ځایونو لکه عمومي مارکیټونو، د قومي مشرانو د راټولیدو ځایونه او دولتي دفترونه دي، په نښه کړي. د مثال په ډول، د نومبر په ۳۰مه په چاودیدونکو توکو یو بار موټر د میدان وردګو ولایت په میدان ښار کې د احصائیي امریت د کوڅې مخې ته وچاودیده چې څلور تنه ملکیان یې ووژل او ۱۱۲ تنه نور یې ژوبل کړل.[81] په دې برید کې څوسوه ودانۍ او کورونه وران شول. دغه ډول بې تشخیصه بریدونه د بشرپالنې د نړیوال قانون له مخې منع دي او کیدای شي چې د جنګي جرمونو په حیث وپیژندل شي.

په ۲۰۱۲ کې د داسې پیښو بیلګې:

- د اګست په ۱۴، د نیمروز ولایت د زرنج په ښار کې دریو تنو ځانمرګو برید کوونکو چې چاودیدونکي توکي یې په ځانونو پورې تړلي وو په عین وخت کې د ملي پولیسو په دریو موټرونو په داسې مختلفو ځایونو کې برید وکړ چې ډیر ملکي کسان هلته اوسیدل. دې بریدونو لږ تر لږه ۳۰ تنه ملکي کسان ووژل او ۱۳۰ تنه نور یې ژوبل کړل.
- د سپتمبر په لومړۍ نېټه، د میدان وردګ ولایت د سید اباد ولسوالۍ په مرکز کې دوو ځانمرګو بریدونو نهه تنه ملکیان ووژل او ۶۸ تنه نور یې ژوبل کړل. لومړي ځانمرګي برید کوونکي چې چاودیدونکو تعبیه شویو توکي یې په ځان پورې تړلي وو د ملي پولیسو د ماموریت مرکزي دفتر په دروازه کې ځان پورې تړلي چاویدنکو توکي وچول او دویم کس ځانمرګي برید کوونکي چې موټر یې په چاودیدونکو موادو بار و خپله وسیله د ولسوال دفتر، د نړیوالو ځواکونو نظامي بیس او ملي پولیسو دمرکزي دفتر په منځ کې وچوله .
- د سپتمبر په ۴، د ننګرهار ولایت د دور بابا په ولسوالي کې یوه ځانمرګي برید کوونکي د ولسوالۍ ولسوال په نښه کړ او د جنازې په مراسمو کې یې ځان وچاوه چې ۲۲ تنه ملکیان یې ووژل او ۶۹ تنه نور یې ژوبل کړل.
- د سپتمبر په ۱۰، د کندز ولایت د کندز په ښار کې یوه ځانمرګي برید کوونکي په یوه مرکزي چوک کې برید وکړ او ۱۷ تنه ملکیان یې ووژل او ۳۷ تنه نور یې ټپیان کړل.
- د اکتوبر په لومړۍ نېټه، د خوست ولایت د خوست په ښار کې یوه ځانمرګي برید کوونکي چې چاودیدونکي مواد یې په ځان پورې تړلي وو، برید وکړ چې نړیوال نظامي کسان او ګزمې یې په نښه کړې وي خو اته تنه ملکي کسان یې ووژل او ۶۳ تنه نور یې ژوبل کړل.

[81] طالبانو په رسنیو کې مسوولیت منلي او ویلي یې دي چې په موټر کې د تعبیه شویو چاودیدونکو موادو برید د جنګي اسیرانو د هغه عمومي وژنې په غبرګون کې شوي چې دولت د څرخي پله یه زندان کې د ۲۰۱۲ د نومبر په ۲۰ او ۲۱ کې ترسره کړي.

## ***هدفي وژنې***[82]

> *زما مور، پلار، ورور او دوو خویندو د مهترلام په ښار کې سودا کوله او خپل شخصي موټر يې د ښځو د چارو د رياست د ودانۍ د باندې د امنيتي انديښنو له امله درولي و. وروسته له هغه چې هغوي زما د کوچنۍخور لپاره څپلۍ را ونيولې نو بيرته خپل موټر ته را ستانه شول. يو بم د موټر سره وچاودید چې زما مور يې ووژله، پلار او دوه خويندې مې ټپيانې شوې. زما مور د طالبانو او د هغو کورنيو له خوا چې د قرباني غړو سره يې مرسته کړې وه اخطارونه تر لاسه کړي وو.*
>
> -- د لغمان ولايت د ښځو د چارو د رئيسې لور چې مور يې د ۲۰۱۲ کال د جولاي په مياشت کې د مهترلام په ښار کې ووژل شوه.[83]

يوناما په ۲۰۱۲ کال کې د هدفي بريدونو په ۵۶۵ پيښو کې ۱۰۷۷ تلفات (۶۹۸،وژنې او ۳۷۹ ملکي ټپي کيدنې) ثبت کړي دي. دا د ۲۰۱۱ کال پرتله په ملکي تلفاتو کې د دغه تاکتيک په کارولو سره ۱۰۸ سلنه زياتوالي ښکاره کوي.[84] دغه زياتوالي په هغو تاکتيکونو کې هغه هميشني بدلون په ګوته کوي چې د دولت ضد عناصر يې په قصدي ډول د هغو ملکي وګړو د هدف ګرځولو لپاره کاروي چې په هغو باندې د دولت او يا هم د نړيوالو ځواکونو سره د ملاتړ ګومان کيږي . د ملکي وګړو د ټپي کيدو په لړ کې ډير زياتوالي چې د موخه ييزو وژنو د بريدونو له امله رامنځته کيږي کيدلای شي چې د تعبيه شوو چاوديدونکو توکو د کارولو په پايله کې وي چې د دې له امله زيات ملکي وګړي ټپيان کيږي.

د ۱۰۷۷ ملکي تلفاتو د جملې څخه چې د هدفي وژنو په پايله کې را منځته کيږي د ملکي مړينو او ټپي کيدو شمېر چې په قصدي ډول يې د دولت کار کوونکي هدف ګرځولي ۷۰۰ سلنه زياته شوې ده. په ۲۰۱۲ کال کې يوناما د ملکي دولتي کار کوونکو د هدفي وژنو ۴۷ جلا جلا پيښې ثبت کړي دي چې په هغو کې ۱۰۷ ملکي وګړي وژل شوي او ۱۴۸ تنه نور ټپيان شوي دي. په ۲۰۱۱ کال کې يوناما د هدفي

---

[82] موخه ييزه يا هدفي وژنه يوه ارادي وژنه چې د وړاندې څخه پلان شوې او په عمدي ډول د دولتونو او يا هم د هغوي د استازو له خوا چې د قانون تر نامه لاندې (يا هم په وسله واله جګړه کې د يوې سازمان شوې ډلې ) فعاليت کوي د يو ځانګړي شخص چې د مجرم او متخلف سره په فزيکي لحاظ د ولکې لاندې نه وي د مرګوني ځواک کار ول دي. دغه ډول بريدونه کولای شي چې ګڼه شميره کې ملکي مرګ ژوبله رامنځته کړي ، په تيره بيا په داسې حالاتو کې چيرته چې بې توپيره تاکتيکونه، لکه تعبيه شوې چاوديدونکو وسيلې کارول کيږي. يوناما ټولې هغه ملکي وژنې او ټپي کيدنې چې نيغ په نيغه د دغه ډول هدفي وژنو څخه رامنځته کيږي مستند کوي.

[83] د لغمان په ولايت کې د ۲۰۱۲ کال د جولاي په مياشت کې د يوناما مرکه.


[84] په ۲۰۱۱ کال کې يوناما دملکي تلفاتو ۶۰۵ پيښې (۵۱۲ ملکي مړينې، او ۹۳ ټپي کيدنې چې د موخه ييزو وژنو له امله رامنځته شوي ثبت کړي دي. د ۲۰۱۱ کال لپاره په وسله واله جګړه کې دملکي وګړو دساتنې په اړه د يوناما کلنې راپور ګورئ. http://unama.unmissions.org/Portals/UNAMA/Documents/UNAMA%20POC%202011%20Report_Final_Feb%202012.pdf

وژنو۲۳ دغه ډول پېښې ثبت کړې چې له مخې یې ۲۳ تنه مړه او ۱۱ تنه نور ټپیان شوي.

په دې توګه د دولتي چاروا کو هدفي وژنې په ختیځو ، مرکزي، شمالي او جنوبي سیمو کې زیاتوالي موندلي خو په ملکي وژنو کې په ډراماتیک ډول لوړوالي چې د دغه ډول وژنو څخه را منځته کیږي ګڼ شمیر یې په هغو دوو بریدونو پورې تړاو مومي چې د هیواد په شمالي سیمه کې تر سره شول. د جولاي په میاشت کې یو ځانمرګي برید کوونکي هغه مهال د ملي شورا غړي او دولتي چار واکي چې د سمنګانو د ولایت د ایبک په ښار کې د واده په مراسمو بوخت وو په نښه کړل چې په نتیجه کې یې ۲۳ تنه ملکیان ووژل او ۴۵ نور ټپیان شول. داکتوبر په ۲۶، یو ۱۵ کلن ځانمرګي برید کوونکي د فاریاب د ولایت والي په نښه کړ او د میمنې د ښار په یوه جوماتکې یې چاودنه وکړه چې له امله یې ۴۰ تنه د ۶ ماشومانو په شمول ووژل شول او نور ۵۹ تنه ټپیان شول.

د هدفي وژنو ځیني مثالونه په لاندې ډول دي:

- د مارچ په ۲۱، د سرپل ولایت په صیاد ولسوالی کې د دولت ضد عناصرو یو ملکي کس چې د مارچ په ۱۵ اختطاف شوي و، وواژه. د افغان محلي پولیسو یو غړي چې د قرباني شخص خپل و هم اختطاف شوي. طالبانو د دغو په نښه شوو وژنو مسؤلیت د یوې اعلامیې په خپرولو په غاړه واخیست.
- د مئ په ۲ ،د پکتیکا د ولایت د شرنې په ولسوالی کې د دولت ضد عناصرو دوه تنه ملکي وګړي په ډزو و وژل. د وژل شوو څخه یو یې د افغان ملي اردو متقاعد غړي او دوهم یې د ښاروالی د صفایي د څانګې یو قراردادي کار کوونکي و.
- د جولاي په ۹مه ، د غزني ولایت د غزني د ښار په مرکز کې د دولت ضد عناصرو د غزني د ولایت څارنوال هغه مهال چې نوموړي د خپل دفتر پر لور روان و و واژه. په دغه پېښه کې یو بل سړي او یوه نجلی ټپیان شول .
- د نومبر په ۲۹ ، د کندهار ولایت د پنجوایي په ولسوالی کې یو تن قومي مشر د خپل کور څخه اختطاف او د دولتي ضد عناصرو له خوا د ډیرې شکنجې وروسته ووژل شو. د هغه جسد د اکتوبر په ۳۱، کلي ته نږدې په یوه کنډواله کې و موندل شو.
- د نومبر په ۲۸ ، د بادغیس ولایت د قلعه نو په ولسوالی کې د دولت ضد عناصرو د کرهنې د ریاست دوه کار کوونکي په ډزو ووژل.




## د دولت ضد عناصرو له خوا د بشري حقونو څخه سرغړونې

*زما د تره زوي او پلار د دوو نورو کلیوالو سره یوځای د طالبانو له خوا اختطاف شول. مړي د خپل پلار او ترورزي جسدونه زموږ د کلي خواته په نږدې غره کې وموندل. د جنازې او تکفین نه وړاندې د غسل ورکولو پر مهال ولیدل شول چې هغوی ډېر زیات شکنجه شوي وو. مړي فکر کاوه چې هغوی د دوي څخه د اعتراف اخیستلو هڅه کوله څو ثابته کړي چې هغوي د دولتي ځواکونو څارګر دي. مړي د هغوي په پښو، اوږو د وینو تور داغونه ولیدل او همدارنګه د هغوي د بطن او د بدن په نورو پستو برخو باندې شاوخوا د اوسپنې د ګرمو میلو زخمونه ولیدل. له څو ورځو وروسته طالبانو یوه ویډیو خپره کړه چې په هغې کې یې زما پلار، زما د تره زوي او هغه کلیوال د اعتراف سره و ښودل چې هغوي د دولت لپاره معلومات برابرول. د دې پېښې وروسته ۱۵ کورنیو پریکړه وکړه چې اسد اباد او نورو خوندي سیمو ته ولاړ شي. د طالبانو له خوا تهدیدونه او ګواښونه د دې لامل شو چې د ولسوالۍ د شورا د غړو سره یوځای د ولایت د والي څخه غوښتنه وکړو څو په دې اړوند اقدام ترسره کړي ، خو هغه پدې هلکه څه ونه کړل.*

-- د هغه یوه قومي مشر خپلوان چې په ۲۰۱۲ کال کې د کنړ په ولایت کې د طالبانو د محکمې د حکم پر اساس وژل شوي.

د ۲۰۱۲ کال په اوږدو کې یوناما د دولت ضد عناصرو له خوا د قانوني محکمې پرته د اعدامونو، شکنجو او ناوړه سلوک، او یا هم د ملکي وګړو له خوا د هغوي د نقل او حرکت، زده کړي ته لاس رسي ، د بیان د ازادی او په اغیزمن ډول د هغوي د حقونو جبیري راپورونه چې په پرله پسې توګه رارسیدلي دي، مستند کړي دي. په ډېري حالاتو کې تیري او سرغړونې په هغو ساحو کې رامنځ ته شوي، چیري چې د دولت او افغان ملي امنیتي ځواکونو شتون محدود وو.

*د قضايي مجازاتو متوازي جوړښت: تر تورونو لاندې راغلو دولتي څارګرانو وژنې*

په ۲۰۱۲ کال کې يوناما په ۱۷ بېلابېلو پېښو کې د ۳۳ کسانو د وژنې چې د دولت ضد عناصرو له خوا د ملکي وګړو د اعدامونو د مجازاتو په توګه مستند کړي دي چې هغوي يې د دې تورونو له امله مجازات کړي دي چې ګواکې د دولت لپاره يې جاسوسي کړې او يا هم دا چې د دولت سره يې تړاو درلودلې او يا هم د نورو جرمونو په تورونو چې د دولت ضد عناصرو له خوا هغه جرمونه ګڼل شوي هغوي د دغو مجازاتو سره مخ شوي دي. د دغو ۱۷ پېښو څخه يواځې ۱۱ يې په لويديځه سيمه کې ترسره شوي او دا د هغه جريان په لړ کې دي چې يوناما د ۲۰۱۱ کال څخه مستند کړي دي.[85] نړيوال بشر دوستانه قانون په ټولو اړخونو د دولت ضد عناصرو په شمول د پلي کيدو وړ دي چې دا قانون پر ملکي وګړو د مجازاتو او اعدامونو تر سره کول په هر زمان ، مکان او په هر حالت کې منع کوي.

يوناما دا مشاهده کړې هغه ملکي وګړي چې د دولت ضد عناصرو تر کنترول لاندې سيمو کې اوسيږي دولتي قضايي ميکانيزمونو او خدماتو ته ډير لږ لاس رسي لري. د دولت ضد عناصرو د قانون د حاکميت د دغې تشې څخه ګټه اخيستې څو هلته متوازي عدلي جوړښتونه رامنځته کړي او د جنايي او مدني قضيو، شخړو په اړه خپلې وروستنۍ پريکړې صادرې کړې او په ځينو قضيو کې وګړي تر محاکمې لاندې راولي او په دې تور ورته مجازات ورکړي چې د دولت پلوه ځواکونو سره يې همکاري درلودلې. دغه متوازي قضايي جوړښتونه غير قانوني او د افغانستان دقوانينو پر بنسټ هيڅ ډول مشروعيت نه لري. هغه شديد مجازات چې د دغه ډول جوړښتونو له خوا تر سره کيږي هغه د افغانستان د جزا د قانون له مخې جرمي اعمال دي او په ځينو حالاتو کې د جنګي جرمونو په لړ کې راځي.[86]

يوناما د دولت ضد عناصرو له خوا د ټولنې، د دولت پلوه رهبرانو او قومي مشرانو د وژنې ګڼ شمير پېښې ثبت کړي چې تر مخه يې هغوي ته د دې اخطارونه ورکړي وو چې د دولت سره همکاري پريږدي او که نه نو د ناوړه پايلو سره به مخ شي. د بيلګې په ډول د نومبر په ۲۵ د کنړ ولايت د وټه پور په ولسوالۍ کې د دولت ضد عناصرو يوې ډلې چې د افغان ملي اردو يونيفورم يې اغوستې و د يو قومي مشر کور ته ننوتل او هغه يې د زوي او د هغه کلي د دوو نورو ملکي وګړو سره يوځاي اختطاف کړ. د دولت ضد عناصرو د دغه قومي مشر په وړاندې د هغه وراره وواژه چې د نومبر په ۲۱ يې

---

[85] په ،لويديځه سيمه کې نا قانونه وژنې ، وګړرئ: د متوازي قضايي سيستم د لارې د اعدامونو لپاره په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو د ساتنې په اړوند د يوناما د ۲۰۱۱ کالني راپور په لاندې ويب پاڼه کې وګورئ:
http://unama.unmissions.org/Portals/UNAMA?Documents?UNAMA%20POC%202012Report_Final_Feb%202012.pdf

[86] ديوناما تحليلونه د ټولنو له خوا د راپور کړاي شوو طزالعملونو عناصر چې د منل شوو نړيوالو بشري حقونو د معيارونو په اړه دي نه ازروي، دبيلګې په ډول د عادلانه محاکمې معيارونه.

اختطاف کړي و. د دولت ضد عناصرو دغه ټول پنځه تنه په ډزو ووژل او د هغوي مړي يې د هغوي کورونو ته په نږدي واټن کې پريښودل.

په ۲۰۱۲ کال کې نور مثالونه په لاندې ډول دي:

- د اکتوبر په ۲۶ ، د غزني ولايت د اندړو د ولسوالی څخه طالبانو پنځه تنه هغه مزدوران چې د نړيوالو ځواکونو په مرکز کې استخدام شوي وو اختطاف کړل او هغوي يې په مرګ محکوم او ويې وژل. قربانيان يې د وژل کيدو نه وړاندې د پنځو ورځو لپاره له ځانه سره ساتلي و.
- د نومبر په ۸ ، د کنړ ولايت د مرورې په ولسوالی کې د طالبانو يوې ډلې د هغوي د تش په نامه ولسوالی د چارواکي له خوا يو تن په دې تور چې ګواکې هغه نړيوالو نظامي ځواکونو ته جاسوسي کوي ونيو. د نومبر په ۹ نيټه د طالبانو تش په نامه محکمې هغه په مرګ محکوم کړ او وروسته يې وواژه. د هغه مړي يې وروسته د هغوي خپلوانو ته وسپاره.

*تهديدونه، ډاروني او ځوروني*

په ۲۰۱۲ کال کې يوناما د دولت ضد عناصرو له خوا د تهديدونو او د ملکيانو د ډاروني ۱۲۱ پيښې تاييد کړي دي، دا د ۲۰۱۱ کال پرتله ۱۷ سلنه زياتوالي ښي، په همدي کال کې يوناما ۱۰۳ دا ډول پيښې ثبت کړې وې. په ډيري حالاتو کې د وژني، تهديدونه، بريدونه، د کورونو د سوځولو د بشري حقونو څخه د سرغړونو په لړ کې راځي. يوناما همدارنګه د دا ډول پيښو د کمي راپور ورکوني احتمال په ګوته کړي چې د دي کار لامل لرې پرتو کليو ته محدود لاسرسې او هغه ستونزې دي، چې د راپور ورکونې پر مهال کليوال ورسره مخ دي.

## د ملکي تلفاتو په اړه د طالبانو عامې اعلاميې

په ۲۰۱۲ کال کې طالبانو پخپله ويب پاڼه کې ۵۳ اعلاميې خپرې کړي چې ۲۵ يې د ملکي تلفاتو او بشرى حقونو د ساتنې په اړوند مسئلو پورې تړلي دي. دغه بيانيې د ملکي تلفاتو په اړه د عامه پوهاوي د انديښنو څرګندويه دي. پدغو اعلاميو کې همدارنګه ادعاء شوې چې په افغانستان کې د دولت پلوه ځواکونو د عملياتو په پايله کې زيات ملکي تلفات اوښتي.[87] په اوو اعلاميو کې طالبانو ادعاء کړې چې د هغوي پلويانو او مجاهدينو هميشه کوښښ کړي څو د عملياتو پر مهال د خپل اسلامي مسووليت او ملکلفيت له مخې ملکيان وژغوري.[88]

---

[87] په ۲۰۱۱ کال کې طالبانو ۵۷ عامې اعلاميې وکارولې چې د هغو اکثريت يې کې د دغو پيښو او يا هم تهديدونو چې هغه سرته رسوي مسووليت په غاړه اخيستي دي او همدارنګه د ملکي وګړو د ساتنې په اړوند يې د يوناما اعلاميو ته غبرګونښکاره کړي دي. د يوناما د ۲۰۱۱ کال په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو د ساتنې په اړه د يوناما کاني راپور کې ، د ملکي تلفاتو په اړه د طالبانو عامې اعلاميې، ۱۲ مخ وګورئ
http://unama.unmissions.org/Portals?UNAMA/Documents/UNAMA/20%POC%202011%20Report_Final_Feb%202012.pdf

[88] دبيلګې په ډول د طالبانو يوه اعلاميه چې د ۲۰۱۲ کال د اګست په ۱۶ نيټه د کوچني اختر په مناسبت خپره شوه په کې راغلي وو چې د ملکي وګړو ساتنه ديني فريضه ده.

پدي هکله ډیر مثالونه موجود دي څو د طالبانو له خوا د تعبیه شوو چاودیدونکو توکو د تاکتیکونو د کاروني معیار په ډاګه کړي او په ځانګړي ډول تاکید شوي چې ځاي پر ځاي شوي چاودیدونکي وسیلي د کارونکي په واک کې وي ، بلکه نه هغه وسیلي چې د قرباني د تماس له امله چوي. پر موخه ییز معیار باندې په خاص ډول تاکید سره او د لیرې واټن څخه د تعبیه شوو چاودیدونکو وسیلو کارول چې وربانديې استدلال شوي دي د هغو موندنو او راپورونو سره تناقض لري چې طالبانو د فشار په ذریعه فعالیدونکي چاودیدونکي وسیلي لپاره کار اخیستي دي.؟

په عین وخت کې طالبانو ګڼ شمیر داسې اعلامیې خپرې کړي چې په هغو کې یې د رسنیو د لارې د ځانمرګو بریدونو، پیچلي بریدونو، دهدفي وژنو، او تعبیه شوو چاودیدونکو وسیلو د کارولو په پیښو کې چې په نتیجه کې یې ملکي وګړو ته مرګ ژوبله اوښتي مسؤلیت پر غاړه اخیستي دي. دغه ډول اعلامیې معمولآ د طالبانو په ویب پاڼه کې نشر شوي او یا هم نیغ په نیغه د رسنیو په اختیار کې ورکړل شوي. دا اعلامیې د طالبانو ټاکلي هدف باندې د برید په اړه نظر، د دغه ډلي په اند د تلفاتو شمیر او ځینې وخت د ملکي خلکو د خوندي ساتنې په اړه د اخستل شویو ګامونو په اړه مالومات ورکوي.

د ملکیانو د ژغورنې په اړه د یوناما د عامو راپورونو او مطبوعاتي اعلامیو په غبرګون کې طالبانو پنځه اعلامیې خپرې کړي. دغې ډلې ادعاء کړې چې د یوناما راپورونه د دولت او ایساف په پلوی کې په یو اړخیز ډول خپاره شوي، او په دې اړه یې د جګړې په تړاو د هغو تلفاتو د پیښو یادونه کړي چې د دولت پلوه ځواکونو له خوا تر سره شوي او دا چې هغه ګواکې د یوناما په راپور کې نه دي ځاي شوي.

*په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو د ساتنې په اړه د یوناما د ۲۰۱۲ کال د۶ میاشتني راپور په وړاندې د طالبانو غبرګون*

د اګسټ په ۱۰، په پوځي شخړه کې د ملکي کسانو د ساتنې په هکله د یوناما د ۲۰۱۲ کال د شپږ میاشتني راپور په هکله طالبانو په څرګند ډول غبرګون وښود. په بیان کې په یوناما د حکومت پلوه ځواکونو په عملیاتو کې د ملکي تلفاتو د پیښو د حذف تور لګیدلي او په نوموړي بیان کې یې د ۲۰۱۲ کال د لومړیو ۶ میاشتو د دوري په هکله د داسې پیښو ټولټال ۴۶ بیلګي برابري کړي دي.

یوناما د هرې هغې پیښې په اړه چې طالبانو وړاندي کړي بیا کتنه او تصدیق کړي چې د ۴۶ پیښو له جملي څخه یې د ۱۷ پیښو وار د مخه تصدیق کړي او هغه یې د یو ناما د ملکي تلفاتو د ارقامو په شپږ میاشتنې راپور کې د شامل کړي .[89] د طالبانو په بیان کې د معلوماتو د بررسي په تعقیب یوناما د دوو ه اضافي

[89] په ۵ پیښو کې یوناما د ملکي کسانو د تلفاتو ورته شمیري ثبت کړي، په ۳ نورو پیښو کې ، یوناما د ملکي کسانو د تلفاتو زیاتي پیښې ثبت کړي او په پاتې ۹ پیښو کې یوناما د طالبانو پرتله د ملکي کسانو کمې شمیري ثبت کړي دي.

پیښو تصدیق کړي او هغه یې په خپل ډیټابیس کې اضافه کړي.[90] په پاتې ۲۷ پیښو کې، یوناما معلومه کړې چې پیښه یا خو د شخړې سره تړاو نه لري(د بیلګې په توګه، د عامه تظاهراتو پر مهال د افغان ملي امنیتي ځواکونو لخوا د ځواک کارول) او یا وژل شوي ، ټپي شوي او توقیف شوي کسان د ملکي کسانو په کتار کې ندي شمیرل شوي او یا هم د ادعاګانو په کولو ندي توانیدلي .[91]

*د افغانستان په هکله د ملګرو ملتونو د سر منشي د درې میاشتني راپور په هکله غبرګون*

په ورته ډول، د ډسمبر په ۱۶،طالبانو د ملګرو ملتونو امنیت شورا ته د ملګرو ملتونو د سر منشي د درې میاشتني راپور په غبرګون کې په افغانستان کې د حالاتو په تړاو اعلامیه خپره کړه . په بیان کې، طالبانو د حکومت پلوه ځواکونو لخوا د ملکي تلفاتو ۲۰ پیښې ثبت کړي او ادعا یې کړې چې یوناما د دې پیښو په ثبت کولو کې پاتې راغلې . یوناما ټولې پیښې وڅیړلې او تصدیق یې وکړ چې د یوناما لخوا ۱۱ پیښې ثبت شوي او هغه یې د سر منشي په راپور کې ور اضافه کړي . د طالبانو د اعلامیې په تعقیب،یوناما دوه اضافي پیښې تصدیق کړې او هغه پیښې یې د یوناما په ډیټابیس کې رسولي دي .[92] د پاتې ۷ پیښو په اړه،یوناما معلومه کړې چې پیښه یا خو د شخړې سره تړاو نه لري، او یا خو وژل شوي ، ټپي شوي او توقیف شوي کسان ملکیان نه وو او یا د ادعاګانو په تشخیص کره کولو ندي توانیدلي .[93]

*د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو د کارولو په هکله د طالبانو اعلامیې*

د ۲۰۱۲ کال د اکتوبر په ۲۲، د یوناما د مطبوعاتي پاڼې په غبرګون کې طالبانو بیان خپور کړ او په هغه کې یې د تعبیه شویو او فشار په ذریعه چاودیدونکو توکو پواسطه د ملکي تلفاتو غندنه کړې.[94] طالبانو ادعا کړې چې دوي هیڅ کله هم د هیواد په کومه برخه کې ژوندي ځمکني ماینونه ندي ځاي پر ځا ي کړي، یواځې یې هغه ماینونه چې د ریموټ آلې پواسطه فعالیږي کارولي او دا ډول ماینونه یې یواځې د پوځې موخو په وړاندې کارولي. د ۲۰۱۲ کال په ترڅ کې، یوناما ۲۹۸ پیښې ثبت کړې ، کومو کې چې د فشار په ذریعه چاودیدونکې توکې ځاي پر ځاي شوي توکې کاریدلي او د ۹۱۳ ملکي کسانو د تلفاتو باعث ګرزیدلي، او د ریموټ کنترول په واسطه د

---

[90] د دغو پیښو ملکي تلفات د دي کال په ارقامو او د ۲۰۱۲ کال لپاره د یوناما د ملکي تلفاتو په ارقامو کې اضافه شوي.

[91] د یوناما د موندنو او طالبانو لخوا د ټولو په نښه شویو ۴۶ پیښو د تفصیلي شمیر لپاره لومړي ضمیمي ته مراجعه وکړي.

[92] د دغو پیښو څخه ملکي تلفات د دغه راپور په ارقامو او د ۲۰۱۲ کال لپاره د یوناما د ملکي تلفاتو په ارقامو کې اضافه شوي.

[93] د یوناما د موندنو او طالبانو لخوا د ټولو په نښه شویو ۲۰ پیښو د تفصیلي شمیر لپاره دوهمي ضمیمي ته مراجعه وکړي.

[94] یوناما د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو د فشار د تختې پواسطه ملکي تلفات غندي او د یاغیانو څخه ددي توکو د بندیز غوښتنه کوي، ۲۰۱۲ کال د اکتوبر ۲۰ ، لاندې http://unama.unmissions.org/Default.aspx?tabid=12254&ctl=Details&mid=15756&ItemID=35858&language=en-US

۱۸۳ تعبیه شویو چاودیدونکو توکو په پیښو کې ۶۲۵ ملکي کسانو ته تلفات اوښتي.[95]

د یوناما لخوا د فشار په ذریعه د چاودیدونکو توکو په پایله کې د ثبت شویو ملکي تلفاتو د هر ډول پیښو مسئولیت طالبانو په غاړه ندي اخیستي. پداسي حال کې چې طالبان د فشار په ذریعه د چاودیدونکو توکو کارول نه مني خو لږ تر لږه یې په یوه پیښه کې په ضمني توګه مني . د مارچ د ۲۵ راهیسي، طالبانو په ایساف تور ولګاوه چې د ملکي کسانو نه د ډال په حیث کار اخلي، له دي امله هغه تعبیه شوي چاودیدونکي توکي کوم چې د ایساف لپاره د هلمند ولایت په ګرشک سیمه کې ایښوول شوي و چاودنه ورکړي شوه چې په نتیجه کې یې زیات ملکي تلفات رامنځ ته شول.[96] د هغوي په نږدیوالي کې د خلکو د تګ او راتګ له امله د هغوي د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو د غیر قصدي چاودني په منلو سره، طالبانو منلې چې د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو نمونه په احتمالي ډول د فشار په ذریعه چاودیدونکي توکي دي چې د هغوي د غړو لخوا کارول شوي .

په ۲۰۱۲ کال کې طالبانو د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو د ۹ پیښو ځخه په کومو کې چې چې د چاودیدونکي توکیکارول شوي مسئولیت منلي چې په نتیجه کې یې ۳۹ ملکیانو ته تلفات اوښتي .[97] د لیري کنترولیدونکي چاودیدونکو وسیلو په غیر متناسبه او له توپیره پرته کارول د ملکي کسانو لپاره له ځانه سره بدي پایلې درلودلې .

---

[95] په داسي حال کې چي یوناما هغه ملکي تلفات کوم چي د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو د فشار د تختو د کارولو له امله رامنځ ته شوي ثبت کړي، طالبانو د دغو پیښو له جملي ځخه د یوي پیښې مسولیت هم ندي منلي. د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو په یو شمیر زیاتو پیښو کې د حکومت ضد عناصرو په دننه کې مسولیت کومې ځانګړې پوځي ډلې ته نه شي منسوب کیدلاي.

[96] د طالبانو د بیان مطابق: راپورونه اضافه کوي چي نن سهار د وخته ډارنو امریکایي اشغالګرو ځواکونو یو شمیر بیګناه ښځي او ماشومان اړ ایستل ځو د میرامندو په سیمه کې د سیلاب سرخ غونډي ته نږدي کوڅو وګرځي، د هغو تعبیه شویو چاودیدونکو توکو په چوولو سره چي نږدي ځا ي په ځاي شوي ډیر کسان شهیدان او ټپیان شوي خو د دي سربیره د هغو یاصلي شمیري معلومي ندي. د طالبانو بیان: د ګرشک په جګړه کې ، ډارنو اشغالګرو ځواکونو ملکي کسان د ډال په حیث کارولي ، یو شمیر شهیدان شوي ، د ۲۰۱۲ کال د مارچ ۲۵، په سرچینه کې ژباړه.

[97] یوناما تصدیق کړي چي د ۹ پیښو د جملي ځخه په ۷ پیښو د ریموت کنترول په واسطه کاریدونکي تعبیه شوي چاودیدونکي توکي کاریدلي.

*د ملکي تلفاتو د پېښو په اړه د طالبانو لخوا د مسئولیت په غاړه اخیستل*

*په دې کې هیڅ شک نشته چې مجاهدین په خپلو تاکل شویو موخو په خاص ډول په استشهادي بریدونو کې ډېر دقیق دي او ډېرې زیاتې هڅې کوي څو په دښمن کلکې حملې تر سره کړي او هغوي ته زیات تلفات واړوي، که څه هم چې دښمن دا وضعیت په بل ډول شکاره کوي.*

د طالبانو بیان په کابل کې د قرغي د سپوږمۍ په رستورانت کې د یوه پیچلي برید چې په پایله کې یې ۲۸ ملکیانو ته تلفات واوښتل، مسئولیت مني، دا برید د ۲۰۱۲ کال د جون د میاشتې په ۲۱ ترسره شو.[98]

په ۲۰۱۲ کال کې یوناما ۴۶ جلا پیښې ثبت کړې، طالبانو د دې پیښو مسئولیت په کومو کې چې ملکي کسانو ته مرګ ژوبله اوښتې په څرګند ډول منلي.[99] د دې پیښو په پایله کې ټولټال ۵۱۳ ملکي تلفات رامنځ ته شوي، په دې کې د هدفي وژنو ۱۵پیښې، د ځانمرګو او پیچلو بریدنو ۱۲ پیښې، د تعبیه شویو چاودیدونکو ۹ پیښې او د ځمکني ښکیلتیا ۷ پیښې شاملي دي.[100] د ملکي تلفاتو زیاتره برخه د یو شمیر سترو ځانمرګو بریدونو، پیچلو بریدونو او تعبیه شویو چاودیدونکو توکو د پیښو له امله چې په عامه ځایونو کې له توپیره پرته ترسره شوي، رامنځ ته شوي.

طالبانو په څو بیانیو کې ویلي چې دوي ملکیان نه بلکه مخصوص هدفونه یې په نظر کې نیولي دي، خو له وخت څخه د مخه چاودنې او یا د نورو تخنیکي لاملونو له کبله دا ډول پیښې د ملکي کسانو د تلفاتو سبب ګرځیدلي. سره له دې چې دوي خپله اراده څرګنده کړې څو مخصوص هدفونه په پام کې وساتي، خو د دې ډول تاکتیکونو اغیزې زیاتره بې تناسبه او یا بې تشخیصه لګیدلي او له دې امله غیر قانوني او د نړیوال قانون په خلاف کې وي.[101]

*د بریدونو د هدف په اړه د طالبانو په خبرو کې بدلون*

په یوه بیانه کې چې د ۲۰۱۲ کال د مې په دویمه د الفاروق د پسرلي عملیاتو سره سم خپره شوه، طالبانو وویل چې دوي د حکومت ټول پلویان د بریدونو مشروع هدفونه ګڼي، کوم چې د مدني یا

[98] د طالبانو بیان: د بیلابیلو سرچینو څخه د کابل د تیرو عملیاتو پایلي Wednesday, 7 , Sya'ban 1433 Wednesday, 27 June 2012 10:10, http://shahamat-english.com/index.php?option=com_content&view=article&id=20075:results-of-the-last-kabul-operation-from-various-sources&catid=3:articles&Itemid=5.

[99] طالبانو د مستقیم بیان د صادرولو او یا رسنیو ته د معلوماتو د ورکولو له لاري د پیښو مسولیت منلي.

[100] په څلورو نورو پیښو کې ګواښ/ تهدید، زورونه، انسان تښتونه او اختطاف شامل دي.

[101] د مثال په ډول ځانمرګي پیښه د ۲۰۱۲ د نومبر په ۲۳ په موټر کې د تعبیه شوي چاودیدونکي توکي په ذریعه په میدان ښار کې د میدان وردک ولایت په مرکز کې وشوه، چې ۱۷۱ ملکي کسان تلفات یې درلودل. (څلور تنه ووژل شول او ۱۶۷ تنه ژوبل شول) او په بشپړ یا قسمي ډول یې ۴۲ حکومتي ودانۍ ویجاړې کړې. افغان چارواکو راپور وکړي چې ځانمرګي کس د تخنیکي لاملونو له امله هدف ته تر رسیدو پخو ځان وچاوده.

ملکي قوانینو په پلي کولو کې کار کوي.[102] د ۲۰۱۲ کال په لومړیو شپږ میاشتو کې په څو اعلامیو کې راغلي چې په ښکاره ډول په طالبانو او یا افغانانو غږ کوي چې په حکومتي چاروکو او د دوي په ملاتړو باندې بریدونه وکړي . یوناما دغې ټکي ته بیا اشاره کوي او څرګندوي چې د "ملکي کسانو" څخه د طالبانو تعریف د بشرپالني له نړیوال قانون سره سمون نه لري. نړیوال قانون "ملکي کسان" هغه اشخاص بولي چې په جنګ کې ښکېل نه وي (د نظامي او نیمه نظامي ځواکونو غړي) یا د منظمو وسله والو ګروپونو غړیتوب و نه لري چې د جګړې یوه خوا جوړوي او ټول هغه کسان بلل کیږي چې په مستقیم ډول په جګړو کې برخه نه اخلي.

یوناما په ۲۰۱۲ کې د طالبانو په دې بیان کې یو بدلون مشاهده کړي چې دوي تر زیاته بریده په نظامي هدفونو زور اچولي دي. د اکتوبر په ۲۲، په یوه بیانیه کې ویلي ، چې د لیري څخه کنترولیدونکي چاودیدونکي توکي یوازي نظامي اهداف په نښه کوي. د اکتوبر د میاشتي د ۲۴ نیټي په وینا کې طالبانو له خپلو پلویانو غوښتي څو د "دښمن په لیکو" کې داخلیدل زیات کړي، ځکه داسي تاکتیک ښایي ښه پایلي ولري .[103] په داسي حال کې چې طالبانو په ښکاره ډول خپل پلویان په دولتي کار کونکو د بریدونو څخه نه دي منع کړي ، خو په نظامي هدفونو باندې زور اچول ښایي په دې مانا وي چې ملکي کسان وژغورل شي. په ۲۰۱۲ کې دوي په خپله وروستۍ بیانه کې چې د ډسمر په ۱۷ خپره شوه، طالبانو محلي پولیس او اربکیان په دې تورن کړل چې د طالب جنګیالیو او ملکي کسانو په وړاندې یې سرغړوني کړي او د خپلو قانوني هدفونو د تعریف په اړه یې څه نه دي ویلي.

د ملکیانو د ژغورني او ساتني په اړه په عام ډول داسي بیانیې ښایي د طالبانو هغه اندیښني او هڅې څرګندې کړي چې د سوله ییزې بدلیدونکي پروسي په ترڅ کې د افغانانو "زړونه او ذهنونه" ځان ته مایل کړي.


که څه هم د طالبانو ویناوې د حکومتي ملکي کارکونکي په نښه کولو کې یوه احتمالي وقفه وي، څر نګه چې د دې راپور موندني څرګندوي ،نو داسي ویناوي په عمل کې په پراخ ډول نه دي پلي شوي .[104] د دې لپاره چې د ملکي کسانو په هدف نیولو کې په واقعي ډول بدلون راڅرګند شي، طالبان باید په عام ډول بیانیې صادرې

[102] د طالبانو د وینا سره سم: "د الفاروق د عملیاتو لومړي هدف به بهرني تیري کوونکي، د دوي سلا کاران، د دوي قراردادیان، او د ټولو اړونده نظامي، د سري خدمتونو او کومکي برخو کارمندان، دغه راز د کابل د ګوډاګي رژیم لوړ رتبه کارمندان، د پالمان غړي، د دفاع وزارت، د امنیت د ریاست، د داخله وزارت کارمندان، د په اصطلاح د سولې د عالي شورا غړي، د اربکي په نوم ملیشي او ټول هغه خلک وي چې د مجاهدینو په ضد کار کوي، او د افغانستان د اشغال لپاره لار هواروي او د دې سبب ګرځي چې تیري کوونکي قوت پیدا کړي. دغه ټول به د الفاروق په عملیاتو کې د برید هدف وګرځي." د الفاروق د عملیاتو د پیل په مناسبت د اسلامي امارت د مشرتابه وینا، ۲۰۱۲، مۍ ۲ (ژباړه)

[103] د طالبانو وینا: "د لوي اختر په مناسبت د محترم امیر المؤمنین د مبارکي پیغام" ۲۰۱۲، ۲۴ اکتوبر ګوري http://shahmat-english.com


[104] په دې راپور کې د هدفي وژنو په اړوند برخه وګورئ.

کړي چې په هغو کې د ملکي کسانو تعریف بیا وکړي او مشروع هدفونه څرګند کړي، چې د بشرپالني له نړیوال قانون سره سمون ولري او د دې یقین ورکړي چې ټول طالب جنګیالي دغو لارښوونو ته درناوي کوي او د سرغړونې په صورت کې جزا وویني. د دې ډول هڅو پایلې باید د طالبانو له خوا د ملکي کسانو د تلفاتو په شمیر کې د کموالي په ذریعه وښودل شي.



## حکومت پلوه ځواکونه او د ملکي کسانو ساتنه

د حکومت پلوه ځواکونو د نظامي عملیاتو په ذریعه، چې هوایي بمباری، د پلټني عملیات، ځمکني عملیات، او د زیات ځواک کارول په کې شامل وو، په ۲۰۱۲ کې د ملکي کسانو تلفات په شکاره ډول کم شوي دي. یوناما د ۲۰۱۲ کال د جنوري له لومړی نیټې څخه د همدي کال د دسمبر تر ۳۱ پوري ۵۸۷ ملکي تلفات ثبت کړي دي (۳۱۶ تنه وژل شوي او ۲۷۱ نور ټپیان دي) چې حکومت پلوه ځواکونو ته منسوب کیږي. دغه شمیر د ۲۰۱۱ کال په پرتله د ملکي کسانو په مرګ کې ۳۹ سلنه کموالي ، ۵۳ سلنه د ملکي خلکو په ژوبلیدو کې او په ټولیز ډول ۴۶ سلنه کموالي د ملکي خلکو په تلفاتو کې څرګندوي.[105] په ۲۰۱۲ کې د ملکي کسانو د ټولو تلفاتو ۸ سلنه حکومت پلوه ځواکونو ته منسوب شوي چې همدغه اندازه په ۲۰۱۱ کال کې ۱۴ سلنه وه .




### *د ملکي کسانو تعریف:*

*د افغانستان ملي امنیتي ځواک*

د یوناما په غوښتنه د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو ویاند د دي قواوو په عملیاتو کې ملکي کسان داسي تعریف کړي دي:

[105] یوناما د حکومت پلوه ځواکونو د عملیاتو په پایله کې ۱۰۸۸ ملکي تلفات ثبت کړي دي. په وسله واله جګړه کې د ملکي کسانو د ساتني کلني راپور ولولئ: http://unama.unmissions.org/Portals/UNAMA/Documents/UNAMA%20POC%202011%20Report_Final_Feb%202012.pdf.

*ملکي کس هر هغه شخص دي چې نه د جګړې په يوه خوا پورې تړلي وي او نه وسله او يونيفورم ولري، لکه ماشومان، سپين ږيري، ملکي مامورين، د روغتيا کارمندان، انجينران، يا په بله ژبه هغه څوک چې په فعال ډول په جګړه کې برخه و نه لري. د حکومت ضد عناصر چې د ملکي کسانو په څېر ځانونه وښيي او يا د هغو استازيتوب وکړي د دوي په ضد د کره معلوماتو او راپورونو په صورت کې جنګي کسان پيژندل کيږي.*[106]

*ايساف*

د يوناما په غوښتنه، ايساف ملکي کس داسې تعريفوي، لکه څنګه چې د عملياتو ۳۰۷ د معياري چلند په دريم چاپ کې راغلي دي.

*"د بشرپالنې نړيوال قانون ملکي کسان هغه څوک بولي چې په جګړه کې شامل نه وي (د نظامي/نيمه نظامي قواوو غړي) يا د جګړې د يوې خوا د منظمو وسله واله ګروپونو غړي يا د ولسونو د پاڅون يوه برخه نه وي. ملکي کسان کيداي شي هغه مهال خونديتوب له لاسه ورکړي چې په جګړه کې نيغ په نيغه ښکېل شي ، خو خپل دغه موقف بيرته هغه وخت تر لاسه کړاي شي که چيرې ژوبل، ناروغ او توقيف شي يا تسليم شي) او په دې ډول نور په جګړو کې فعاله برخه نه اخلي. د کوم چا سره د تړاو او نور تحليل په موخه د ملکي کسانو د تلفاتو د کمولو د ټيم له خوا ملکيان نور هم يو د بله تفکيک کيږي."*[107]

## هوايي عمليات

*د سهار نږدې درې نيمې بجې وې چې ښځې او نجونې د لرګيو د ټولولو لپاره ځنګله ته ولاړې. ما نږدې په ۴ بجو د هوايي بمباريو غږ واوريد. له دې وروسته د کلي خلک راغونډ شول او موږ د خپلې ساحې د ملي پوليسو افسر ته د بمبارۍ په اړه خبر ورکړ. هغه موږ ته وويل چې په ولايت کې د عملياتو د همغږۍ مرکز د ولسوالۍ چارواکو ته خبر ورکړی چې د عملياتو هدف د طالبانو غير رسمي يا تش په نوم والي و او ملکي کسان په هغه ساحه کې نه وو. له يو څه وخت وروسته ساحه بيا بمبارد شوه. نږدې پنځه بجې وې، چې زه له نورو کليوالو سره، چې ښځې هم په کې شاملې وي نورو کليو ته ولاړو چې وګورو نور تلفات شته او که نه. وروسته له هغه چې موږ وژل شوي او ژوبلې نجونې پيدا کړې، جيټ الوتکو د درنو وسلو په ذريعه موږ تر بريد لاندې ونيولو او يوه ښځه يې بيا ووژله.*

-- د لغمان ولايت د الينګار په ولسوالۍ کې د هوايي بريد يو عيني شاهد، چې د ۲۰۱۲ د سپتمبر په ۱۶ ترسره شو

---

[106] په افغان امنيتي ځواکونو کې د ملکي کسانو د ځارنې د ټيم له مشر، د ولسمشر د دفتر د معلوماتو د همغږۍ له مرکز سره د يوناما ليدنه، جنوري ۳۰، ۲۰۱۳، کابل.

[107] د يوناما او ايساف تر منځ د بريښنا ليکونو تبادله، د ۲۰۱۲ کال جون ۱ او د ۲۰۱۳ د جنوري ۲.

او پنځه ښځې او درې نجونې یې ووژلې او څلور ښځې او درې نجونې یې ژوبلې کړې.[108]

یوناما په ۲۰۱۲ کې د هوایي بمباریو په ذریعه په اوښتو ملکي تلفاتو کې کموالي ثبت کړي دي. خو د دې سره ، د حکومت پلوه ځواکونو له خوا تر ټولو زیات ملکي تلفات د هوایي برید په ترڅ کې رامنځ ته شوي.

یوناما د ۲۰۱۲ کال د جنوري د لومړۍ نیټې نه د همدې کال د ډسمبر تر ۳۱ پورې د ملکي تلفاتو ۲۰۴ قضیې ثبت کړې (۱۲۶ وژنې او ۷۸ ژوبلې ) چې د نړیوالو ځواکونو د ۵۵ هوایي بریدونو په ترڅ کې رامنځ ته شوي دي. دغه شمیر د ۲۰۱۱ پرتله ۴۲ سلنه کموالی ښیي.[109] هوایي عملیات د ملکي تلفاتو د ټول شمیر څخه د ۴۰ سلنې سبب ګرځیدلې چې نسبت یې حکومت پلوه ځواکونو ته کیږي او د ټولو ملکي تلفاتو درې سلنه جوړوي چې ټولو خواوو ته منسوبیږي. د هوایي بریدونو له ۱۲۶ ملکي تلفاتو څخه ۴۰ سلنه ماشومان وو.

*له جګړې څخه مخکې احتیاطي تدابیر*

یوناما د دې اندیښنه څرګنده کړې چې د هغو هدفونو په ضد چې مخکې تعیین کیږي، ایساف د نښتو وړاندې له پوره احتیاط څخه کار نه اخلي تر څو د ملکي تلفاتو مخنیوي وشي. یوناما ایساف ته دغه اندیښنې ډیر ځله ښکاره کړې او له هغوی یې غوښتي چې داسې پالیسي اختیار کړي چې په مرسته یې د هوایي تهاجمي بریدونو پر مهال د هدف نیولو لپاره معیارونه تعریف شوي وي، په ځانګړي ډول د وژونکي قوې له کارولو څخه د مخه دې داسې عوامل رامنځ ته کړي چې د یوه شخص هویت څرګند او تثبیت کړي چې ایا جګړه مار یا ملکي کس په جګړه کې فعاله ونډه لري او که نه..[110]

د نړیوالو نظامي ځواکونو له خوا داسې یو برید د سپتمبر په ۱۶ د لغمان ولایت د الینګار په ولسوالي کې ترسره شو. د ایساف په وینا د دغه برید هدف په دې ساحه کې د د دولت ضد وسلوالو یوه ډله وه.[111] د سهار د پنځو او اوو بجو ترمنځ ایساف د منج کلا په کلي او ډاکه مالریز سیمو باندې چې د نورلام په دره کې پرتې دي، پنځه هوایي بریدونه وکړل او څلور ښځې، درې نجونې او یو هلک یې ووژل او نورې پنځه ښځې او درې نجونې یې سختې ژوبلې کړې. په دې عملیاتو کې هیڅ یو مخالف وسلوال نه نیول شوی او نه ژوبل شوي دي. د ښځو او ماشومانو دغه ډله په داسې حال کې په

---

[108] له قربانیانو او عیني شاهدانو سره د یوناما مرکې، ۲۰۱۲، سپتمبر ۱۷، مهتر لام ښار، د لغمان ولایت.
[109] په ۲۰۱۱ کې یوناما ۲۳۵ قضیې د وژنې او ۱۱۸ هغې د ژوبلیدنې ثبت کړې (۳۵۳ ملکي تلفات) چې د هوایي بریدونو له امله رامنځ ته شوي. وګورئ په وسله واله جګړه کې د ملکي کسانو د ساتنې کلنی راپور.
.http://unama.unmissions.org/Portals/UNAMA/Documents/UNAMA%20POC%202011%20Report_Final_Feb%202012.pdf
[110] د ایساف له مرکزي دفتر سره د یوناما لیدنې، د جون له ۲۰۱۲ څخه د ۲۰۱۳ تر جنوري ۳ پورې، کابل د یوناما او ایساف ترمنځ د بریښنالیکونو تبادله د ۲۰۱۲ د ډسمبر له ۳۱ څخه د ۲۰۱۳ د جنوري تر ۳ او ۸ پورې.
[111] همدا

نښه شوې وه چې څنګله ته د لرګیو او جلغوزو د ټولولو لپاره روان وو.

د ایساف په وینا، دغه حملې د تهاجمي بریدونو یوه برخه وه. دغه بریدونه د نظامي عملیاتو داسې کوم دفاعي برید نه و چې ایساف یا ټولنې د کوم خطر سره مخ کړي . داسې بریښي چې د ایساف او د افغان امنیتي ځواکونو د قوماندې له ټولو سطحو څخه د لومړي برید منظوري اخیستل شوې وه، خو دا معلومه نه وه چې له برید څخه مخکې کوم احتیاطي تدابیر نیول شوي وو.[112] له ایساف سره د مباحثو پر بنسټ په دې تدابیرو کې په عادي ډول داسې تدابیر لکه په قانوني ډول د یوه نظامي هدف تعینول، د هغه هدف د مثبت تشخیص د علایمو ساتل، د بالقوه او ضمني زیانونو ارزونه، او په هغه ساحه کې د ژوندانه د طریقو پیژندنه شامل وي. خو په دې برخه کې داسې ښکاره او مناسب اقدامات نه دي شوي چې د جنګي او ملکي کسانو ترمنځ توپیر وشي او په نتیجه کې ډیر شمیر ملکي کسان تلف شوي دي.

یوناما په دې باور ده چې د الینګار په دره کې د لومړي برید منظوري چې په سهوا ډول یې ملکي کسانو ته مرګ ژوبله واړوله د دې اړتیا په ګوته کوي چې د عملیاتو نه وړاندې په اقداماتو بیا غور وشي ، په ځانګړي ډول په هغو شرایطو کې چې ځانګړي خطر نه وي موجود او د دې فرصت موجود وي چې احتیاطي تاکتیک په کار واچوي، د تاکتیکونو نور بدیلونه تر غور لاندې ونیول شي او د دې وخت پیدا کړي چې د تشخیص لپاره نور شواهد وموومي او له اوضاع څخه پوره خبرتیا تر لاسه کړي. دغه طریقه خاصتا په هغه وخت کې ډیر ارزښت لري کله چې د اشخاصو په پیژندنه او تشخیص کې په ګومان سره "د دښمن اراده" وګڼل شي ،یرته له دې چې ځانګړي شخص او موقف یې وپیژندل شي چې جګړه مار دي او که په جګړه کې برخه اخستونکي ملکي دي. .[113]

ایساف او د امریکا د متحده ایالاتو د حکومت د الینګار د پیښې په اړه ژور تحقیقات کړي او اړونده پالیسي یې تر بیا غور لاندې راوستې ده، که څه هم د پلټنو پایلې لا تر اوسه نه دي خپرې شوې. یوناما په دې باور ده او وړاندیز کوي چې ایساف باید د خپلو پلټنو پایلې خپرې کړي او په عام ډول څرګنده کړي چې مناسبه پالیسي او جزایي تدابیر یې نیولي دي که چیرې تحقیقات وښیې چې غفلت او یا کومه بله د سرغړونې پیښه شوې ده.[114] د ایساف په

---

[112] تیر ځل ذکر شوي.

[113] د امریکا د متحده ایالاتو د اردو د ګډو ځواکونو مرکز، د افغانتسان د ملکي کسانو تلفات مخنیوي، مشاهدات، نظریې او سبقونه، د اردو د سبقونو د زده کړې مرکز، د امریکا اردو ۲۰۱۲.

[114] د وسله والې جګړې په شرایطو کې غفلت ښایي د هغې څرګندې او بخښنې نه وړ ناکامۍ په څیر تعریف شي چې هغه لازمه اندازه او ډول احتیاط و نه شي چې په منطقي ډول یې له اړونده انفرادي شخص یا اشخاصو څخه په داسې شرایطو کې تمه کیدای شي چې دې/دوې د خپل فعالیت په وخت کې درک کړي یا له فعالیت څخه بیرته پاتې شي او په دې ډول داسې یوه پیښه وزیږوي چې په ممنوع شوو د ملکي تلفاتو سبب وګرځي او هغو ته زیان ورسوي او تخریب یې کړي. بوتباي ویلیام. "په بمباریو کې لازم احتیاط او په قضاوت کې تیروتنې" .۹ ۸ برخه، د هدف نیولو قانون، د اکسفور د پوهنتون چاپ فبروري ۲۰۱۲.

وینا، د دې عملیاتو لومړي برید مخکې پلان شوي دي او په دې پلان کې د ایساف او افغان امنیتي ځواکونو ډېري پریکړه کوونکي شامل وو، چې په ګډه سره یې په نظامي لحاظ د برید د مناسبوالي، قانونیت او د دې مسئولیت درلود چې د ملکي کسانو د ژغورنې په اړه احتیاطي تدابیر ونیول شي. ایساف باید ټول لازم تدابیر ونیسي څو یقیني کړي چې د بشرپالنې د نړیوالو قوانینو احکامو ته ژمن دي، لکه د تناسب، تشخیص او احتیاطي اصولو په ګډون او دا یقیني کوي چې داسې ښکاره تیروتنې په هدفي بریدونو کې به بیا تکرار نه شي.

*د بې پیلوټه/ ډرون الوتکو هوایي بریدونه*

د تاکتیکي او عملیاتي پالیسیو د بیا کتنې اړتیا لیدل کیږي چې د هدف ټاکلو سره اړه لري، څو یقیني کړي چې د بشرپالنې نړیوال قانون مراعات کیږي، چې ښایي په افغانستان کې د بې پیلوټه الوتکو وار د مخه پلان شویو بریدونو د پراختیا سره تړاو لري.[115] د ډرون له خوا د غورځول شویو بمونو شمیر په ۲۰۱۱ کې له ۲۹۴ څخه په ۲۰۱۲ کې ۵۰۶ ته ورسید،[116] چې دغه شمیر په افغانستان کې ۷۲ سلنه زیاتوالي څرګندوي.

په ۲۰۱۲ کې یوناما وکولای شو چې د ډرون د بریدونو پنځه پیښې[117] ثبت کړي چې ۱۶ تنه ملکي کسان یې ووژل او دری تنه نور یې ټپیان کړل. دغه شمیر د ۲۰۱۱ کال په پرتله چې د یوناما په ذریعه ثبت شوې وه، یوازې د یوې پېښې زیاتوالي ښیي.

د ملکي کسانو د تلفاتو زیات شمیر په ۲۰۱۲ کې چې د ډرون د بمباریو له امله پیښې شوي د هغو حملو پایلې دي چې په مستقیم ډول یې دولت ضد وسلوال تر هدف لاندې نیولي دي. سره د دې هم، د یوناما د معلوماتو له مخې په ځینو مواردو کې د هدف نیولو په اړه تیروتنې شوي دي. د مثال په ډول یوناما یوه پیښه ثبت کړې چې د اکتوبر په ۲۰ پیښه شوې او د ډرون په ذریعه د لوګر ولایت په برکي برک په ولسوالي کې څلور تنه ماشومان ووژل چې عمرونه یې د ۱۱ او ۱۳ کلونو ترمنځ وو. دري تنه هلکان ځاي په ځاي مړه شول او څلورم ماشوم روغتون ته د کابل په لار ومړ. دغه برید د راپورونو


---

[115] د ۲۰۱۳ کال د جنوري په منځ کې د بشري حقونو او تروریزم ضد خاص راپورتر د ډرون او هدفي وژنو د نورو شکلونو د اغیزو په اړه چې په ملکي کسانو یې درلود د پوښتنې او پلټنې خبر ورکړ او په قانوني او تطبیق وړ چوکاټ باندې ټینګار کوي. په دې ذریعه د ملکي کسانو د تلفاتو په اړه د حقیقي ثبتونو یوه ازښتناکه پلټنه شمیرل کیږي او هدف یې دا ده چې د دې ډول بریدونود مشروعیت او تناسب په اړه د دولتونو د بې پلوه او خپلواکو پلټنو وروسته په ۲۰۱۳ کې عمومي اسمبلي ته راپور ورکړي. مطبوعاتي بیانیه په لاندې پته موندلاي شئ: http://www.ohchr.org/EN/NewsEvents/Pages/DisplayNews.aspx?NewsID=12943&LangID=E.

[116] د ګډو ځواکونو د هوایي برخې قوماندان، د ۲۰۰۷- ۲۰۱۲ د هوایي ځواک احصائیه، د ډسمبر ۳۱، ۲۰۱۲ د ټولو امریکا لپاره مرکزي، په لاندې پته لیدلاي شئ: http://www.afcent.af.mil/shared/media/document/AFD-130114-003.pdf

[117] د ډرون بریدونو له امله د ملکي تلفاتو شمیر ښایي تر دې زیات وي، ځکه چې یوناماتل نه شي کولاي تصدیق کړي چې د هوایي عملیاتو په وخت کې له کوم ډول پلات فورم څخه کار اخیستل شوي دي ( چورلکه، او که له لیري کنترول شوي) چې ملکي تلفات یې رامنځ ته کړي.

له مخې له هغه وورسته وشو چې د مخالفینو او د حکومتي ځواکونو ترمنځ د دې ځای څخه یوځو کیلو متره لیرې جګړه شوې وه.




*د ایساف د پالیسي او د هوايي بریدونو په اړه د عملیاتو بیا کتنه:*

د هوايي بریدونو له امله دملکي تلفاتو د پېښو په غبرګون کې چې د عملیاتي چاپیریال د تعبیر سره تړاو لري، بیا په ځانګړي ډول د الینګار د ولسوالی په پېښه کې ، ایساف د د ي پالیسي یو لار شود پېل کړ چې د دښمن فعل ، د دښمني د قصد، د قوې د حد اقل اندازې، غیر وژونکي او وژونکي قوې او نورو عملیاتو په اړه روښانه تعریفونه لري.

دغه راز ایساف د ایساف قومندان تاکتیکي لارښود 5.1 بیا تر غور لاندې نیولي چې په غیر مستقیم ډول په ملکي سیمو باندې ډزې او هوایي بمباري منع کوي. څرنګه چې د هوايي بریدونو په پایله کې د ملکي تلفاتو زیاته اندازه د دفاعي حملو په ترڅ کې نه، بلکه د تهاجمي بریدونو پر مهال پیښیږي، له دې امله باید تلفات تر ډېره شوني بریده د مخنیوي وړ وي. یوناما د ایساف له خوا د کمولو دغه نوښتونه او تدابیر ستایي.[118]


د هوايي بریدونو په نورو مثالونو کې لاندې پېښې شاملې دي:

- د سپتمبر په ۲۳ ، د کنړ ولایت په مروره ولسوالي کې نړیوالو نظامي ځواکونو دوه تنه مخاف وسلوال تر هدف لاندې ونیول. دې حملې یوه ماشومه نجلی چې په نږدې کروندې کې یې کار

[118] د ملکي کسانو د ژغورني لپاره د ایساف عملیاتي طرز الملونه او لارښوني، برخه په دې راپور کې د زیاتو معلوماتو لپاره ولولئ.

کاوه ژوبله کړه او هغه وروسته اسداباد ته د روغتون په لار کې مړه شوه.

- د ډسمبر په ۵ د وایګل په ولسوالي کې د نورستان په ولایت کې د نړیوالو نظامي ځواکونو له خوا د ډرون په ذریعه میزایل وویشتل شو چې هدف یې شکمن مخالف وسلوال وو. دې حملې درې تنه ملکي کسان ووژل، یو یې ماشوم و او درې تنه ښوونکي وو. دغه ټول قربانیان د یوې کورنۍ غړي وو.




## د پلټنې عملیات

*زه په خپله بستره کې پروت وم، او د شپې په ۱۱:۴۵ مې اواز واورید او چورلکه مې ولیده چې چورلیده. د لوډ سپیکر په ذریعه مې واوریدل چې خلک باید له کورنو څخه نه وځي، که چیرې دوي ووځي، و به ویشتل شي. زما درې وریرونه او زما یو اخښې د میلمنو په خونه کې پراته وو. دوي څلور واړه له بیرې ووتل او څلور سره د نړیوالو ځواکونو له خوا ووژل شول. زما یو وراره د اووم ټولګي زده کوونکي و. له هغه وروسته نړیوالو ځواکونو د کورونو په تلاشي پیل وکړ. دوي زموږ د کور درې دروازې ماتې کړې او یو موټر سایکل ته یې اور واچاوه. دوي ټول کور تلاشي کړ او یو ټوپک یې پیدا کړ، هغه یې مات کړ. له هغه وروسته نړیوالو نظامي ځواکونو زما ورور ونیو او ساحه یې پریښوده.*

-- یو سړي چې درې وریرونه او یو اخښې یې د کندز ولایت د خان آباد په ولسوالي کې د نړیوال نظامي

ځواکونو له خوا د فبروري ۱۵، ۲۰۱۲ د شپې د تلاشي په عملیاتو کې وژل شوي وو.[119]

د ۲۰۱۲ کال د جنوري له لومړۍ او د ډسمبر تر ۳۱ پورې یوناما ۷۵ ملکي تلفات ثبت کړي دي (۵۴ ملکي کسان وژل شوي او ۲۱ نور یې ژوبل شوي دي) چې د حکومت پلوه ځواکونو له خوا د تلاشي او نیولو د عملیاتو په ترڅ کې رامنځ ته شوي. دغه شمیر د ۲۰۱۱ کال په پرتله ۳۳ سلنه کموالي ښیې او د ۲۰۱۰ او ۲۰۱۱ کلونو په همدې مودې کې له کموالي د مخ په ځوړتلفاتو شمېر سره سمون ښیې. یوناما د تلاشي د ۳۵ عملیاتو په ثبتولو توانېدلې چې د دولت پلوه ځواکونو لخوا تر سره شوي او ملکي تلفات یې اړولي، چې د ۲۰۱۱ کال په پرتله د تلاشۍ د عملیاتو په پایله کې د اوښتو ملکي تلفاتو کې ۷۸ سلنه کمښت ځرګندوي.

دا خبره ښکاره نه ده چې د ملکي تلفاتو په شمیر کې دغه کموالي د افغان امنیتي ځواکونو په عملیاتو کې د ښه والي په پایله کې رامنځ ته شوي او که د د تلاشي د عملیاتو په شمیر کې کموالي راغلي و.

یوناما په دې یادونه ټینګار کوي چې د تلاشي د عملیاتو په اړه او د دې عملیاتو په ترڅ کې د ملکي تلفاتو په اړه دقیق معلومات لاس ته راوړل ګران کار دي، ځکه چې ډیري امنیتي ادارې په ګډه سره او یا په جلا توګه عملیات ترسره کوي، او دغه راز د دې عملیاتو طبقه بندي په نظامي لحاظ دغه کار ګران کړي دي.[120] دا خبره ښکاره ده چې د نړیوالو ځواکونو او افغان قواوو له خوا د تلاشي زیات شمیر عملیات ملکي تلفات نه لري.

د تلاشي په عملیاتو کې د ملکي تلفاتو نمونې:

- د مې په ۴، د فاریاب ولایت د غورماچ په ولسوالي کې افغان امنیتي ځواکونو او ایساف د شپې عملیات ترسره کړل چې شپږ تنه ملکي کسان یې ووژل چې درې تنه یې ماشومان او پنځه نور ملکي کسان ټپیان او ژوبل شول. د ملکي تلفاتو دغه شمیر د ډیرو منابعو له خوا یوناما ته ویل شوي.
- د اګست په ۷- ۸ ،د نیمروز ولایت د خاشرود په ولسوالۍ کې د شپې د تلاشي پر مهال یوه ښځه ووژل شوه او دوه تنه ماشومان ټپیان شول.
- د نوومبر په ۶ د هلمند ولایت په لشکرګاه کې د ایساف له خوا د شپې د تلاشي عملیات وشول چې درې تنه ملکي کسان په کې

[119] د کندز ولایت د کندز په ښار کې د کورنۍ له غړو سره د یوناما مرکه، فبروري ۱۹، ۲۰۱۲.

[120] د شپې د عملیاتو د ټول شمیر په اړه معلومات چې د افغان او نړیوالو نظامي ځواکونو له خوا ترسره شوي دي- لکه ځانګړې ځواکونه او نوري حکومتي اداري- په یوازې توګه او په ګډه سره او دوي ته منسوب شمیر د ملکي تلفاتو په عام ډول نه دي نشر شوي. یوناما په فعاله ډول څارنه کوي او ټولي ادعاګانې چې د شپې د عملیاتو په ترڅ کې د ملکي تلفاتو په اړه ورته رسیږي، څیړنه یې کوي، څرنګه چې هم په عملیاتي ډګر کې محدویتونه شته او د معلوماتو لپاره بشپړ لاس رسي نشته، کیداي شي چې یوناما د شپې د عملیاتو له امله د ملکي تلفاتو شمیر په پوره ډول نه وي څرګند کړي.

ووژل شول. د همدې ورځې په ماښام د ټولني خلکو د ولايتي دفتر په لوري په لشکرګاه کې لاريون وکړ او د مړيو جسدونه يې راوړل او ويل يې چې د ايساف ځواکونو يو بزګر، د ده زوي او وراره ووژل. ايساف يوناما ته وويل چې وژل شوي کسان ملکي کسان نه بلکه مخالف وسلوال وو.

## *د قوې زيات کارول*

د تيرو دوو کلونو په موده کې د مشاهده شويو پيښو سره سم[121] د حکومت پلوه ځواکونو له خوا په ۲۰۱۲ کې د زياتې قوې کارولو له امله ملکي تلفاتو کې کموالي ليدل شوي. يوناما د ملکي کسانو د تلفاتو ۴۹ پيښې ثبت کړي دي (۱۴ وژل شوي او ۳۵ ژوبل چې په ۳۳ بيلابيلو پيښو کې رامنځ ته شوي. دغه شمير د۲۰۱۱ کال پرتله د قوې په زياته کارونه کې ۲۶ سلنه کموالي په ډاګه کوي.
دغه کموالي ځرګندوي چې حکومت پلوه ځواکونو هڅې کړي څو ملکي کسان له اصلي خطرونو څخه توپېر وکړي کله چې دوي کاروانونو يا د پوستې ځايونو ته نږدې کيږي او دا راز د غير وژونکي بديلونو کارول يقيني کړي.

د زياتې قوې د کارونې په پايله کې د ملکي تلفاتو نمونې:

- د جون په ۱۱مه، د فراه ولايت د خاک سفيد په ولسوالی کې ملي اردو درې تنه ملکي کسان له هغه وروسته ووژل او يو بل يې ژوبل کړ چې په کاروان کې د هغوي يوه عراده موټر په تعبيه شوي چاوديدونکي توکي ور برابر شو.
- د سپتمبر په ۱۳مه، د فراه په ښار کې د ملي پوليسو يوه تن، چې د ولايتي دفتر ساتونکي و، په يوه موټر هغه وخت چې موټر د توقف اخطار ته توجه و نه کړه ډزې وکړې. په نتيجه کې يو تن ملکي کس ووژل شو او شپږ نور ملکيان چې يوه ښځه او يو ماشوم هم په کې شامل و، زخميان شول.

د اکتوبر ۱، د ننګرهار ولايت د خوګياڼي په ولسوالی کې د افغانستان ملي امنيتي ځواکونو د تاميرات په پوسته کې په يوه ملکي موټر چې يو ناروغ يې کلينيک ته رساوه ډزې وکړې ، او يو تن يې وواژه.

---

[121] د زياتې قوې د کارونې يا د قوې د ساتنې له امله پيښې چې د يوناما په ذريعه ثبتې شوي دي ملکي تلفات لري چې د نظامي ځواکونو له خوا د مرګوني يا غير مرګوني قوې په ذريعه په داسې حالاتو کې رامنځ ته شوې چيرې چې ملکيان د نظامي پرسونل اشارې او اخطارونه نه ويني او يا يې نه پيژني کله چې دوي هغوي ته نږدې کيږي، له هغوي سره غواړي وويني او يا له نظامي کاراونونو څخه تيريږي او يا په داسې حالاتو کې چې مليکان د نظامي پوستو لارښوونو ته پاملرنه نه کوي.

## *افغان ملي امنیتي ځواکونه*

*ملکي تلفات*

د ۲۰۱۲ کال د جولاي په میاشت کې افغان ملي امنیتي ځواکونو د نظامي عملیاتو د زیاتې برخې رهبري په غاړه واخیسته او د ۲۰۱۳ کال د جنوري څخه یې د دې عملیاتو ۸۰ سلنه په خپله پر مخ وړي، که څه هم نړیوال نظامي ځواکونه هم ښایي په دې عملیاتو کې شامل وو. څرنګه چې په نظامي عملیاتو کې یو لړ امنیتي او وسله وال ځواکونه شامل وي، د یوناما د ملکي کسانو د تلفاتو په شمیر کې چې حکومت پلوه ځواکونو ته منسوبیږي، دواړه افغان او نړیوال ځواکونه شامل دي.

د افغان امنیتي ځواکونو په تهاجمي عملیاتو او د دفاعي فعالیتونو په پایله کې ملکي تلفاتو کې په ۲۰۱۲ کال کې زیاتوالی راغلی . د دغو عملیاتو زیاته برخه د ځمکنیو عملیاتو فعالیتونه و چې د د دولت ضد وسلوال په ضد یې ترسره کړي دي او معمولا په هغه وخت کې ترسره شوي چې کله د امنیتي ځواکونو په کاروان یا پوسته برید شوی دی. په دې ترڅ کې ۳۳ ملکي کسان وژل شوي او ۶۳ نور ټپیان شوي دي. دغه شمیر د ۲۰۱۱ کال له شمیر سره یو شانته دي او نږدې ټولې پیښې د ځمکنیو عملیاتو په ترڅ کې پیښې شوې دي.

- د مارچ په ۲۱ ، د لغمان ولایت د دولت شا په ولسوالی کې افغان امنیتي ځواکونو په ملکي کسانو هغه وخت کې ډزې وکړي چې د دوي کاروان په دوو تعبیه شویو چاودیدونکو توکو وخوت او وچاودیدل. د ډزو له امله دري تنه ملکي کسان ژوبل شول، چې دوه یې ښځې او یو یې ماشوم و.
- د می په ۲۶، د فاریاب ولایت د میمنې په ښار کې د امنیتي ځواکونو او حکومت ضد عناصرو ترمنځ د ځمکنیو عملیاتو په ترڅ کې یو ملکي کس ژوبل شو.
- د سپتمبر په ۳۰ د غورماچ په ولسوالي کې د فاریاب ولایت امنیتي ځواکونو د حکومت ضد عناصرو په وړاندې عملیات پیل کړل. د امنیتي ځواکونو له خوا د ډزو په ذریعه څلور تنه ملکي کسان ژوبل شول (یو هلک، یوه ښځه او دوه سړي).
- د ډسمبر په ۲۱، د لغمان ولایت د الینګار په ولسوالي کې طالبانو له درنو او سپکو وسلو سره برید وکړ او امنیتي ځواکونو هرې خوا ته د سپکو وسلو او چاودیدونکو په فیر کولو ځواب ورکړ. ځینې چاودیدونکې ګولی په هدف و نه لګیدې او د اوسیدونکو په مېنه ولګیدې چې یوه ښځه یې ووژله او یوه بله یې ژوبله کړه او درې ماشومان په کور کې دننه ټپیان شول.

### *د ملکي تلفاتو د کمولو په موخه د افغان ملي امنیتي ځواکونو او ایساف نوې پالیسي او تدابیر*

*د ملکي تلفاتو د تعقیب او کمولو په موخه د افغان ملي امنیتي ځواکونو ظرفیت*

یوناما د افغان حکومت هغه تدابیر چې د ملکي کسانو تلفات تعقیبوي او د کمولو هڅه یې کوي، ستایي. د ۲۰۱۲ کال په مې کې حکومت د جمهوري ریاست د معلوماتو د همغږي په مرکز کې د ملکي تلفاتو د تعقیب ټیم ایجاد کړ. د ۲۰۱۲ په اکتوبر کې حکومت ډاکټر مدبر د چارو د دفتر رئیس د ملکي کسانو د ساتنې په اړه د ولسمشر د سلاکار په توګه وټاکه . خو د افغانستان په ملي اردو او ملي پولیسو کې یو دایمي جوړښت شتون نه لري چې د ملکي تلفاتو په اړه ادعاوې او غوښتنې په منظم ډول وڅیړي. د ملکي تلفاتو دیوې پیښې تفتیش د قرباني او یا هم د شاهد د شکایت د لارې او یا داچې د ملي اردو او یا ملي پولیسو د حقوقي او قانون د برخې د افسرانو او یا قوماندانانو د ګومان له مخې د ملي او یا نړیوال قانون څخه د سرغړونې او نقض په توګه تر غور لاندې راځي او پیل کیږي.دغه ډول میکانیزم باید جوړ او یا هم په موجودو جوړښتونو کې په پام کې ونیول شي.

که څه هم د حکومت له خوا داسې هڅې شته چې ملکي تلفات تعقیب او کم کړي، یوناما له دې څخه اندیښمنه ده چې د ملي امنیتي ځواکونو مشرتابه د دې ځواکونو په ذریعه ملکي تلفات نه مني. د ملي اردو او ملي پولیسو لوړپوړو افسرانو په مکرر ډول له دې څخه انکار کړي چې د دوي ځواکونو ملکي تلفات اړولي دي.[122] له دې امله د دې ډیر احتمال شته چې د ملي امنیتي ځواکونو له خوا د ملکي تلفاتو ټول شمیر په راپورونو کې نه راځي. په ځینو حالاتو کې لکه ځمکنۍ جګړې، د ملکي تلفاتو تشخیص چې د ډزو په تبادله کې رامنځ ته کیږي شایې ګران کار وي، خو د دغو تلفاتو شمیر په نورو حالاتو کې ښکاره وي، لکه په داسې حالت کې چې ملکي کسان د نظامي ځواکونو اخطارونو ته پاملرنه و نه کړي.

یوناما د افغان حکومت له خوا نور نیول شوي اقدمات چې قوانین مراعات شي او د ملکي کسانو ژغورنه په کې ممکنه وي، ستایي. د ۲۰۱۲ په مارچ کې افغان حکومت د ولسمشر ۴-۲۹ شمیره فرمان صادر کړ چې ټولو امنیتي ځواکونو ته لارښوونه کوي چې د ځانګړو عملیاتو په ترڅ کې قوانین، پالیسي او طرزالعملونه مراعات کړي.

*د ملکي کسانود تلفاتو د مخنیوي لپاره د ایساف عملیاتي طرز العملونه او تاکتیکي لارښوونې*

په ۲۰۱۲ کې ایساف څو عملیاتي طرز العملونه او تاکتیکي لارښوونې تر بیا کتنې لاندې ونیولې او نوي پالیسۍ یې پیل کړي دي، څو په هوایي بریدونو پورې تړلي ملکي تلفات کم کړي.

د اګست په ۱۵ ،ایساف د ایساف قوماندان ۵.۱ نمبر تاکتیکي لارښود خپور کړ. لکه څنګه چې په دې راپور کې پخوا وویل شول،

---

[122] د خلکو د ساتنې کنفرانس چې یوناما په کې ګډون کړي و، د ایساف مرکزي دفتر، کابل، ۲۰۱۲.

نوي کتنه په غیر مستقیمو فیرونو او له هوا څخه په ملکیانو او نورو جوړښتونو چې ښایي ملکي خلک په کې وي په غورځیدونکو ګولیو محدودیت لګولي. هغه وخت چې د خپل ځان د دفاع لپاره بل بدیل نه وي موجود، استثنا دي.

د زیاتې قوي د کارونې په اړه ایساف د پالیسي نوې لارښونې خپرې کړي. دغه لارښود د هغو عملونو په اړه ښکاره تعریفونه لري چې د قواوو د ساتنې په وړاندې تهدید ګڼل کیږي او همدارنګه د دغو پیښو په اړه د تدابیرو په باب لارښونې کوي. د سپتمبر په ۱۷، ایساف د عملیاتو ۳۷۳ معیاري طرز العمل ، نشر کړ چې د زیاتې قوي د کارونې په اړه لارښود او هدایت دي. د عملیاتو د معیاري طرزالعمل نوي کتنه ښکاره لارښوونې لري چې د خپل ځان دفاع څه ته وایي، د خپل ځان دفاع په پراخه ساحه کې څه شي ده، همدارنګه د دښمن عمل، د دښمن قصد، د قوې حد اقل، غیر وژونکې قوه، او وژونکې قوه څه شي دي. همدارنګه دغه خپرونه د انفرادي سرتیرو او قوماندانانو لپاره نور نوې تشریحات لري چې د دوي په مسوولیتونو پورې تړاو لري او د دې هڅه کوي چې "د نظامي عملیاتو په ساحه کې د زیاتې قوې د کارونې د طرز العملونو په اړه پوهاوي زیات کړي، چې ځواکونه وسائل شي او د ملکي تلفاتو مخنیوي وشي."[123]

ایساف دغه راز عملیاتي کړنلاره ۳۳۲ په مرکز د ګډو څیړنو ټیم سره د پیښو د ارزونې ټیم جوړ کړي. دغه عملیاتي کړنلاره د ایساف قوماندې ته معلومات ورکوي چې تکراري موضوعات بیا روښانه کړي او دغه راز په هغو سبقونو ټینګار وکړي چې د هوایي بریدونو له امله د ملکي تلفاتو په اړه زده شوي دي. د عملیاتي کړنلارې اصلي هدف د هوایي قوې کاروونکي او د هوایي ترمینل کنترول کوونکي او د وسلو د استعمال ویډیویي سیستم او لیکنې چې هغه عوامل ښکاره کړي چې په وروستیو ملکي تلفاتو کې یې نقش درلودلی دی.[124]

د ځینو تهاجمي بریدونو په پام کې نیولو سره چې په تیروتنه یې ملکي کسان تر هدف لاندې نیولي وو (لکه څنګه چې په دې راپور کې مخکې ویل شول) یوناما له ایساف څخه وغوښتل چې د دغو لاندنیو فعالیتونو په اړه پالیسي او لارښوونې په پام کې وساتي، د مخکینې هدف نیولو لپاره ملاحظې خاصتا هغه عوامل چې ایساف د هغو په ذریعه د دښمن قصد،[125] د سملاسي تهدید، د تهدید طریقه او د وړاندې څخه د هدف ګرځولو نور قضاوتونه، کله چې پوره شواهد نه وي موجود، له حملو مخکې معلوموي.

---

[123] د یوناما او ایساف ترمنځ د بریښنالیکونو تبادله، جنوري، ۲۰۱۳.
[124] همدا مرجع
[125] د یوناما/ د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر په دې باور دي چې "د دښمن د قصد" په څیر تشخیص کول باید یو شخص د نظامي او مشروع نظامي هدف په ډول، تایید کړي چې په پرلپسې ډول جنګ کوي/جګړه مار وي او یا ملکي شخص وي چې په مستقیم ډول په جنګ کې برخه اخلي.

یوناما ایساف ته خبر ورکړ چې د یوناما لپاره داسې فرصت برابر کړي چې اړونده پالیسي وګوري، خو دغه غوښتنه لا تر اوسه په خپل ځای پاتې ده.[126]

د ۲۰۱۲ په نومبر کې ایساف ۳۰۷ شمیره - عملیاتي کړنلاره څلورم چاپ نشر کړ، چې د ملکي تلفاتو د کړنلارې په باب او چې د ملي پلټنو د حالت په اړه د راپور د تطبیق له لارې د افغان چارواکو له خوا د ملکي تلفاتو د تحقیقاتو تعقیبول معرفي کوي. دغه راز ایساف COMISAF OPLAN 3832, Rev 6.2 تر بیا کتنې لاندې نیسي او عملیاتي کړنلاره ۳۴۵، آی جي سي معرفي کړي چې د ملکي تلفاتو د تنظیم او له هغو سره د چلند طرز العملونه دي.[127]

د ایساف او ملي امنیتي ځواکونو په ګډو هڅو کې چې د ملکي تلفاتو د کمولو په موخه جوړه شوي د معلوماتو د تبادلې غونډې شاملې وې، لکه د ملکي تلفاتو د کمولو ګډ کاري ګروپ، د ملکي تلفاتو ګډ بورډ، او د ایساف او افغان ملي امنیتي ځواکونو له خوا د ملکي خلکو د ساتنې لپاره کنفرانسونه. یوناما د دې تمه لري چې دغه غونډې عملي بڼه پیدا کړي او د افغان ملي امنیتي ځواکونه په داسې تخنیکي ارګانونو بدل شي چې عملیاتي چلند تر بیا کتنې لاندې ونیسي او داسې پالیسي شروع او تطبیق کړي چې د نظامي عملیاتو په ترڅ کې ملکي کسانو ته د تاوان د کمولو لپاره ضروري وي.

*د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو په وړاندې د حکومت غبرګون*

یوناما د حکومت او ایساف له خوا د داسې جاري هڅو او تدابیرو یاداښت اخیستي چې د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو د خطر مخنیوي کوي. یوناما په ۲۰۱۲ کې د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو ضد ستراتیژي ستایي چې د ۲۰۱۲ کال د جنوري په ۲۴ د افغانستان د ملي امنیت د شورا له خوا تصویب شوه چې د ولسمشر حامد کرزي په مشرۍ جوړه شوې وه.[128] ستراتیژي د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو په ضد د تدابیرو په اړه یو ملي واحد نظر ورکوي، چې د قانون د واکمنۍ، امنیت، حکومتداري، ډیپلوماتیکو فعالیتونو او د عامه پوهاوي په برخو کې په تفصیل سره څرګندونې لري. د ستراتیژي یو ډیر مهم عنصر دا دي چې د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو په اړه د ملي امنیت د ارګانونو د مسوولیتونو په همغږي کولو باندې ټینګار کوي. یوناما د افغانستان له حکومت څخه غوښتنه کوي چې د ایساف/ناتو او نړیوالې ټولنې په مرسته د دغې ستراتیژي تطبیق کول په لومړیتبونو کې ونیسي.[129]

---

[126] د یوناما او ایساف ترمنځ کتنې، د جنوري ۱۴، ۲۰۱۳ ایساف مرکزي دفتر، کابل.
[127] د ایساف او یوناما ترمنځ د بریښنالیکونو تبادله، جنوري، ۲۰۱۳.
[128] د ملي امنیت شورا، د افغانستان حکومت، د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو ضد ستراتیژي، جون ۲۰۱۲، کابل.
[129] د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو ضد پالیسي له ځانګې سره د یوناما کتنه، د ایساف مرکزي دفتر او د یوناما او چاودیدونکو توکو ضد پالیسي د ځانګې ترمنځ د بریښنا لیکونو تبادله، جنوري ۲۰۱۳.

په ۲۰۱۲ کې د ملي امنيت اړونده وزارتونو په ګډه سره د جنايي تخنيک او بيوميټريک په اړه د جمهوري رياست فرمان مسوده جوړه کړه هغه وزارتونه چې د جنايي صحنو په تحقيق، د ساحې په امنيت د شواهدو په غونډولو او موندلو کې کار کوي، شامل وو. کله چې سند لاسليک شي دغه سند د بيوميټريک او کريمنال تخنيک د ملي ستراتيژي د پرمختګ لپاره يو قانوني چوکاټ طرح کوي. د دغې ستراتيژي يو د وړاندې نه ويل شوي عنصر به دا وي چې عمليات به د شواهدو پر بنسټ ترسره کيږي، چې په خپل وار د قانون له واکمني سره مرسته کوي او يوازې د تعبيه شويو چاوديدونکو توکو د جنايت په وړاندې يو نظامي غبرګون نه دي. دغه فرمان تر اوسه د ولسمشر له خوا نه دي لاسليک شوی.[130]

ايساف د افغانستان له حکومت سره کار کوي چې دوه ملي جنايي لابراتوارونه تيار کړي چې د تعبيه شويو چاوديدونکو توکو ضد لابراتوارونو له خوا تقويه کيږي او دغه راز په هغو ولايتونو کې څو بيوميټريک دفترونه ايجاد کړي چې د تعبيه شويو چاوديدونکو توکو پيښې په کې ډيرې رامنځ ته کيږي. دغه ساختارونه د اړونده ارګانونو روزني شاملوي چې امنيتي ځواکونه او قضايي چارواکي به په کې ګډون ولري او د عدلي طبي او بيوميټريک پلټنو پر بنياد د پيښو عدلي تعقيبونه تقويه شي.[131]

## د جګړې د ښکيلو خواوو ترمنځ ځمکنۍ مخامخ جګړې او د ملکي کسانو ساتنه

*زما ورور د جنګ د دواړو خواوو په منځ کې په جګړه کې ګير شو. مخالف وسلوالو لومړي دي په دوو مرميو په نس کې وويشت او ژوبل شو. له هغه وروسته هغه د امنيتي ځواکونو خوا ته حرکت وکړ چې مرسته تر لاسه کړي، خو ناڅاپه يې په لينګي باندې بله مرمۍ ولګيده، دغه وار نړيوالو نظامي ځواکونو پر ده فاير وکړ، هغوی فکر وکړ چې دي يو مخالف وسلوال دي. جګړې د يوه ساعت لپاره دوام وکړ او زما ورور د محلي خلکو له خوا د بلخ روغتون ته يوړل شو. هغه اوس هم له ډير درده رنځيږي او بايد چې لينګي يې عمليات شي.*

-- د بلخ ولايت د چمتال ولسوالي د نوشهر عليزي په کلي کې، د ۲۰۱۲ کال د مۍ په ۸ د حکومت پلوه او حکومت ضد قواوو تر منځ د ځمکنۍ جګړې په مهال د راګير شوي ملکي شخص ورور.

د حکومت پلوه او حکومت ضد ځواکونو ترمنځ د ځمکنيو جګړو له امله د ملکي کسانو د تلفاتو شمير ۱۶۱۸ تنه وو (۴۳۸ يې وژل شوي او ۱۱۸۰ تنه ژوبل) چې د ۲۰۱۱ کال په پرتله ۲۲ ٪ کموالي څرګندوي. که څه هم دغه کموالي د ستاينې وړ دي خو د ځمکنيو جګړو له امله اوس هم د ملکي تلفاتو شمير ۲۱ سلنه جوړوي چې له

[130] تير ځل ذکر شوي .
[131] د ايساف د مرکزي دفتر مکاتبه له يوناما سره، ۱۵ فبروري، ۲۰۱۳.

تعبیه شویو چاودیدونکو توکو وروسته یو داسې تاکتیک دي چې تر ټولو زیات د ملکي تلفاتو سبب ګرځي.

په ځمکنیو جګړو کې د تلفاتو په شمیر کې د منطقې او سیمې پر بنسټ کموالي څرګندوي چې په ټول هیواد کې د جګړو جریان او محرکات یو ډول نه دي. د حکومت پلوه او حکومت ضد ځواکونو ترمنځ د ځمکنیو جګړو له امله د ملي تلفاتو شمیر په مرکزي، لوړو مرکزي برخو، شمالي ختیځو، شمالي او لویدیځو برخو کې ډیر و او په جنوبي، جنوب ختیځو او ختیځو سیمو کې دغه تلفات کم و.

په خاصو سیمو کې دغه زیاتوالي له دې سره تصادف کوي چې په دې سیمو کې محلي وسله وال ګروپونه او شبه نظامي واحدونه زیات شوي چې یا د حکومت په پلوي او یا د حکومت په ضد فعال دي.

په شمالي سیمو کې، د مخامخ ځمکنیو جګړو له امله په ۲۰۱۲ کې ۲۰۱ ٪ زیاتوالي راغلی، چې په دې سیمه کې د جګړو د قواوو او محرکاتو بدلون څرګندوي. د دې زیاتوالي زیاته برخه د فاریاب په ولایت کې رامنځ ته شوې چې په ۲۰۱۱ کې له ۱۹ پیښو څخه (۴۱ ملکي تلفات) په ۲۰۱۲ کې ۴۹ پیښو ته ورسیده (۱۰۳ ملکي تلفات). د ۲۰۱۲ په اوړدو کې د حکومت ضد او حکومت پلوه ځواکونو ترمنځ جګړې هغه وخت تودې شوې چې د ۲۰۱۲ په مۍ کې د امنیتي چارو انتقال پیل شو او طالبانو هڅه وکړه چې خپل نفوذ پراخ او په مهمو لارو خپله ولکه ټینګه کړي.[132] فاریاب اوس په افغانستان کې د وسله والو جګړو له پلوه څلورم ډیر نا امنه ولایت دي.[133]

په جنوبي، جنوب ختیځو او ختیځو سیمو کې د ځمکنیو جګړو په شمیر کې هغه مهال کموالي څرګند شو کله چې نظامي ځواکونه له دغو سیمو څخه ووتل او نورو هغو ته یې مخ واړاوه او په دې ډول سیمه ییز جنګي تاکتیکونه بدل شول. په ځینو برخو کې نظامي عملیاتو شورشیان له مهمو کلیدي ولسوالیو څخه و ایستل او افغان امنیتي ځواکونو او حکومت ته یې د دې فرصت برابر کړ چې په دغو سیمو کې خپله واکمني ټینګه کړي. په ځینو نورو سیمو کې چې نړیوالو نظامي ځواکونو خپل عملیات کم کړي او افغان امنیتي ځواکونو د دې ظرفیت نه درلود چې هلته خپله ولکه ټینګه کړي، ښایي چې شورشیانو یا محلي زورواکانو هغه سیمې تر خپل کنترول لاندې راوستې وي.

په جنوبي سیمو کې د ځمکنیو جګړو له امله د ملکي تلفاتو شمیر په ۲۰۱۱ کې له ۴۶۹ څخه په ۲۰۱۲ کې ۱۲۳ تنو ته راټیټ شوي، چې ۷۴ سلنه کموالي څرګندوي. د دغه کموالي زیاته برخه د کندهار په

[132] ټولنو یوناما ته خبر ورکړي چې محلي چارواکو او ایساف په ځینو ولسوالیو کې له وسله والو ډلو څخه غوښتي دي چې له شورشیانو سره د مقابلې په وخت کې د دوي ملاتړ وکړي. د حکومت ضد عناصرو او وسله واله ډلو ترمنځ جنګونه د داسې حالاتو په ګډون چې وسله والي ډلې له حکومت سره تړلې وي، د فاریاب په ولایت کې د جګړو د شرایطو بدلیدونکي حالت څرګندوي، چې تر ډیره بریده د امنیتي چارو په لیږد پورې او زورورو محلي وسله واله ډلو په شتون پورې تړلې دي.

[133] د ملګرو ملتونو د ساتنې او امنیت د څانګې سندونهو د جنور ۹، ۲۰۱۲.

ولایت کې رامنځ ته شوې چې د ملکي تلفاتو کچه د دغه تاکتیک په نتیجه کې په ۲۰۱۱ کې له ۳۱۷ (۱۰۷ تنه وژل شوي او ۲۱۰ تنه ټپیان دي) په ۲۰۱۲ کې ۴۷ تنو ته (۲۲ تنه وژل شوي او ۲۵ نور ژوبل دي) راټیټه شوې. په مقایسوي ډول، په ۲۰۱۲ کې په ختیځه سیمه کې بدلون ډیر زیات محسوس نه و چې د ځمکنیو جګړو ۲۸۴ پیښې رامنځ ته شوي او ۵۰۳ تنه ملکي تلفات یې درلودل. دغه شمیر په ۲۰۱۱ کې ۲۹۷ پیښې وي او ۵۷۸ تنه تلفات یې درلودل.

په داسې ساحو کې لکه کندهار د ملکي تلفاتو د کچې راټیټیدل په حتمي ډول د دې مانا نه لري چې د تاوتریخوالي کچه هم راټیټه شوې وي او د امنیتي ځواکونو ظرفیت چې په سیمه کې امنیت ټینګ کړي یا حکومت ضد وسلوالو ته ماتې ورکړي ډیر شوي وي. په ځینو برخو کې، د ځمکنیو جګړو له امله د ملکي تلفاتو په کچه کې کموالي ښایي له دې امله وي چې یو شمیر نړیوالو امنیتي ځواکونو هغه ځای پرې ایښې وي او په ځینو برخو کې د حکومت ضد عناصرو ولکه ټینګه کړې وي او په پایله کې مخامخ جګړې کمې شوې وي.

د ۲۰۱۲ کال په موده کې، په جنوبي، جنوب ختیځو او ختیځو برخو کې تاوترخوالي ادامه وموندله او د ملکي کسانو ژوند یې اغیزمن کړي و، که څه هم د ۲۰۱۱ په پرتله دغه اندازه کمه وه.[134] د حکومت ضد عناصرو او ملي امنیتي ځواکونو تر منځ ځمکنی جګړې شوي خو له نړیوالو ځواکونو سره داسې جګړې کمې وې.[135] ښایي سبب یې دا وي چې د امنیتي چارو مسوولیت افغان ځواکونو ته انتقال شوي دي، د ملي پولیسو او د محلي پولیس د پوستو په مقابل کې بریدونه د۲۰۱۱ کال په پرتله په پرلپسې ډول زیات شوي دي، په چاڼنیزو عملیاتو کې کموالي په هغو منطقو کې چې ډیر ملکي کسان اوسیږي دملکي کسانو دتلفاتو د کموالي سبب هم ګرځیدلي دي.

په ځمکنیو جګړو کې د کچې د کموالي یو لامل ښایي دا هم وي چې طالبان کمزوري شوي دي، په ځانګړي ډول د جنوب په ځینو برخو کې چې ایساف او ملي امنیتي ځواکونو په ۲۰۱۰- ۲۰۱۱ کلونو کې په لوړه کچه عملیات ترسره کړل. که څه هم د حکومت ضد او حکومت پلوه ځواکونو تر منځ د ځمکنیو جګړو له امله ملکي خلکو په تلفاتو کې کمښت د ستاینې وړ دي، خو د دغه کموالي او د ملکي کسانو د ښې ساتنې تر منځ کې مستقیمه اړیکه نشته. په داسې حال کې چې په جنوب، جنوب ختیځ او ختیځو سیمو کې د امنیتي ځواکونو ترمنځ د جګړو له امله د ملکي کسانو په تلفاتو کې کمښت راغلی دی، چې د ۲۰۱۲ کال په پرتله ۳۹ سلنه کموالي څرګندوي، د حکومت ضد عناصرو له خوا د ملکي کسانو وژل، خاصتا هغه کسان چې فکر کیږي له حکومت سره مرسته کوي، په څرګند ډول زیات شوي دي. د ملکي کسانو عمدي وژنه یا ژوبلونه ۹۷۱ تنو ته رسیږي چې د ۲۰۱۱ کال په پرتله ۳۳ سلنه زیاتوالي څرګندوي.

---

[134] د ملګرو ملتونو د ساتني او امنیت د څانګې راپور، جنوري ۹، ۲۰۱۳.

[135] د ایساف د میاشتنیو ارقامو څرګندوني تر نومبر د ۲۰۱۲ پورې. د دښمن له خوا پیل شوې بریدونه، د میاشتني د آر سي له خوا له کال تر کاله بدلون (جنوري ۸- نومبر ۲۰۱۲)، ۲۱ دسمبر، ۲۰۱۲.

د ځمکنیو ښکلتیاوو مثالونه:

- د اکتوبر په ۱۴ دکاپیسا ولایت د تګاب په ولسوالي کې طالبانو ملي امنیتي ځواکونو ته کمین نیولي و (ملي اردو او ملي پولیس). د دغې جګړې په نتیجه کې څلور تنه ملکي کسان ژوبل شول، چې په یوه شخصي موټر کې یې د پیښې ځاي ته نږدې سفر کاوه.
- د اکتوبر په ۲۴، د میدان وردګو ولایت د چک په ولسوالي کې ایساف، ملي امنیتي ځواکونو (ملي پولیسو او ملي اردو) عملیات پیل کړل چې هدف یې د حکومت ضد عناصر وو. جنګ ونښت او د ډزو تبادلي (چاودیدونکي ګولی) د سیوک او صوفي خیل کلي اغیزمن کړل چې اووه تنه ملکي کسان یې ژوبل کړل.
- د نومبر په ۳۰ ، د فاریاب ولایت په غورماچ ولسوالی کې ملي امنیتي ځواکونو د حکومت ضد عناصرو په وړاندې عملیات پېل کړل چې په پایله کې دوه تنه ملکي کسان و وژل او دوه تنه نور ملکي خلک ټپیان شول. ټول تلفات د ملي امنیتي ځواکونو او د حکومت ضد عناصرو ترمنځ د ډزو د تبادلې له امله ورسیدل.

## *افغان محلي پولیس او د ملکي کسانو ساتنه*

*افغان محلي پولیس زما کو رته نږدې په دشت ارچي ولسوالي کې یوه پوسته لري. یوه شپه د محلي پولیسو یوې ډلې زما د کور دروازه وټکوله او ما ته یې وویل چې په هغو شورشیانو پسې ګرځي چې په دې وروستیو کې یې په دې ساحه کې له محلي پولیسو سره جګړه کړې ده. ما غوښتل چې دروازه خلاصه کړم چې محلي پولیسو په دروازه فیر وکړ. ګولی زما سترګه ژوبله کړه. دوي زه ونیولم او په داسي حال کې یې خپلې پوستې ته راوستم چې له سترګې مې وینې بهیدلې. ما محلي پولیسو ته د خپلې وظیفې د معارف د ریاست کارت ور وښود چې په ښوونځي کې د چپراسي په حیث کار کوم. دوي نه دې ته څه توجه وکړه او نه یې زه پریښودم چې ډاکټر ته ولاړ شم. محلي پولیسو دا ویل چې زه شورشي یم. زما ورور دوي ته وویل چې د ده په ځاي ما ونیسئ څو زه د درملنې لپاره لاړ شم. محلي پولیسو زه پریښودم او زما ورور یې هم وروسته خوشي کړ. زما سترګه په پاکستان کې عملیات شوه خو دید مې له لاسه ورکړ.*

-- یو ملکي شخص چې د محلي پولیسو له خوا د ۲۰۱۲ د اګست په ۸ د کندز ولایت د دشت ارچي په ولسوالي کې ژوبل شوي و.[136]

*عمومي کتنه*

یوناما په ۲۰۱۲ کې د افغان محلي پولیسو پروګرام تر څارنې لاندې ونیو.[137] یوناما د محلي پولیسو د چلند او په ملکي خلکو او امنیت د دوي د اغیزو په اړه بیلابیل راپورونه تر لاسه کړي. ډیري

[136] له قرباني سره د یوناما مرکه، ۱۱ سپتمبر، ۲۰۱۲ د کندز ښار.
[137] په وسله واله جګړه کې د ملکیانو د ساتنې کلني راپور ۲۰۱۲. د اي ایل پي ماخذونو مخ ۳۰- ۳۱.
http://unama.unmissions.org/Portals/UNAMA/Documents/UNAMA%20POC%202011%20Report_Final_Feb%.202012.pdf

ټولنو راپور ورکړي چې په هغو ځایونو کې چې محلي پولیس موجود دي امنیت ښه شوي دي.[138]

خو په څو ولسوالیو کې[139] داسې راپورونه او سندونه تر لاسه شوي چې د محلي پولیسو په استخدام او تصفیې کې له ضروري پالیسیو او طرز العملونو څخه کار نه دې اخیستل شوي. یوناما په خاص ډول د دې اندیښنه لري چې له محلي دفاعي ګروپونو څخه محلي پولیسو ته د تبدیلي په وخت کې ښه تصفیه نه کیږي او ځیني یې د بشري حقونو په نقض تورن دي.[140] ټولنو په دوامدار ډول د دې اندیښنو راپورونه ورکړي دي چې ملي پولیس نه شي کولای چې محلي پولیس کنترول کړي او هغوي تر خپلې قوماندې لاندې راولي. د محلي پولیسو له خوا د پخوانیو او روستیو بشري حقونو د نقض قضیې تر غور لاندې نه نیسي. یوناما د محلي پولیسو له خوا د بشري حقونو د نقض په اړه په هغو حالاتو کې مثبت بدلون مشاهده کړي چې دغه قضیې په جنایي چلند باندې اوښتي وي او هغه تدابیر ستایي چې د محلي پولیسو د ریاست او د داخلي چارو د وزارت د مرکزي دفترونو له خوا په دې اړه نیول شوي چې له محلي پولیسو څخه په نقض باندې تورن (پخواني او اوسني) کسانو څخه تحقیق وشي او تر عدلي تعقیب لاندې ونیول شي.

*د افغان محلي پولیسو د پروګرام پراختیا او د غړو بیا تصفیه*

د محلي پولیسو پروګرام په ۲۰۱۲ کې په چټکي سره پراختیا ومونده چې په ۹۴ ولسوالیو کې ۱۸۹۲۴ تنه غړي لري. تر ۲۰۱۴ پوري به د دوي شمیر ۲۶۷۳۵ تنو ته ورسیږي چې په ۱۱۳ ولسوالیو کې به فعالیت کوي. د امریکا حکومت اعلان کړي دي چې دغه پروګرام تر ۲۰۱۸ تقویه کوي او د ټولو غړو شمیر ۴۵۰۰۰ تنه وي.[141]

که څه هم دغه پراختیا د ۲۰۱۲ په نیمایي کې یو څه په سوکه شوه، ځکه چې له داخلي امنیتي ځواکونو څخه په بهرنیو سرتیرو حملې زیاتې شوي او د محلي پولیسو سرغړونو، بد چلند، ناروا او فساد په اړه شکایتونه زیات شول.[142] د دې په ځواب کې د ایساف ځانګړو ځواکونو او د کورنیو چارو وزارت د تصفیې کولو په پروسه کې څه بدلونونه راوستل او د راپورونو له مخې یې د بد چلند په وړاندې په فعالانه ډول تحقیقات او پلټنې پیل کړي ترڅو د ناروا‌و مخه

[138] د هغو ټولنو له غړو سره د یوناما مرکې چې محلي پولیس هلته موجود دي، جنوري ۱، ۲۰۱۲، تر ۸ جنوري ۲۰۱۲.
[139] یوناما د کندز ولایت په چاردره، دشت ارچي او علي اباد ولسوالیو کې او د ارزوګان ولایت د خاص اروزګان ولسوالي کې له بشري حقونو څخه د سختو سرغړونو راپورونه مستند کړي دي.
[140] وګورئ د محلي دفاعي نوښتونو منحل کول او له محلي پولیسو سره د هغو مدغم کیدل برخه، په دې راپور کې د تصفیې او بې وسلې کولو نه مراعات کول.
[141] د یوناما کتنه د ایساف له ځانګړو ځواکونو سره، جنوري ۱۴، ۲۰۱۳، د ایساف مرکزي دفتر، کابل.
[142] د داخلي نظامي ځواکونو له خوا پر نړیوالو نظامي ځواکونو بریدونه په ابې یونیفورم هغه بریدونه دي چې د افغان ملي امنیتي ځواکونو د غړو له خوا په نړیوالو نظامي ځواکونو ترسره کیږي.

ونیول شي. د ۲۰۱۳ کال د جنوري تر ۱۰ پورې د ایساف ځانګړو ځواکونو او د داخله چارو وزارت ۱۲۵۲۰ تنه پولیس تر بیا تصفیې لاندې راوستل.[143] د دغو بیا تصفیه شویو کسانو څخه ۱۴۲ (یو په سلو کې) د دندو ګوښه شول او نور وتښتیدل او یا یې خپلې وظیفې پریښودې. او په دې ډول د تصفیې له پروسې وروسته د محلي پولیسو په عمومي شمیر کې ۶ سلنه کموالي راغی.[144]

د ۲۰۱۲ کال په دویمه نیمایي کې د محلي پولیسو لپاره نوي طرزالعملونه پیل شول چې درې تنه د ملي امنیت د ریاست افسران د هر ۱۰۰ تنو پولیسو لپاره شامل شول څو د ولسوالیو د امنیه قوماندانانو له خوا د محلي پولیسو اجراات د قانون او د عملیاتو د طرزالعملونو په رڼا کې وڅاري او و ارزوي. د کورنیو چارو وزارت او ایساف ځانګړو ځواکونو دغه راز د ولسوالي مشورتي ټیمونه جوړ کړل چې د محلي پولیسو په روزنه کې مرسته وکړي او په ټولو ولسوالیو کې مشورتي مرستې برابرې کړي.[145]

*د ملکي کسانو تلفات او د محلي پولیسو له خوا پر بشري حقونو تیري*

یوناما په ۲۰۱۲ کې ۵۵ پیښې مستندې کړې چې محلي پولیسو ته منسوبیږي، چې په پایله کې ۶۲ تنه ملکي کسانو تلفات لیدلي (۲۴ تنه وژل شوي او ۳۸ تنه ژوبل دي). ۱۳ تنه ملکي تلفات په ځمکنیو جګړو کې رامنځ ته شوي، په داسې حال کې چې د دې تلفاتو اکثریت د بشري حقونو له نقض سره تړاو لري چې د محلي پولیسو له خوا ترسره شوي دي.

د دغو ۵۵ قضیو اکثریت په شمال ختیځ او شمالي سیمو کې ثبت شوې دي. په ۲۰۱۲ کې د محلي پولیسو غړي په مستقیم ډول د بشري حقونو په نقض کې شامل وو. لکه بد (د جنایتونو لکه وژنه، جنسي تیري په مقابل کې د نجونو او ښځو ورکول د خسارې په توګه) جنسي تیري، د توقیفیانوشکنجه کول او له هغوی سره بد چلند کول، د ملکیتیونو غصبول او جبري کارونه. سره د دې چې د امریکا د متحده ایالاتو د ځانګړو ځواکونو او د کورنیو چارو د وزارت له خوا تدابیر نیول شوي دي چې داسې ډول د نقض قضیې وڅیړي، خو له دې سره په محلي کچه د بشري حقونو د نقض له امله د محلي پولیسو حساب ورکونه کمزوري پاتې شوې.

د محلي پولیسو په ذریعه د بشري حقونو د نقض بیلګې:

- د مې په ۱۳، د کندهار په ولایت د زیړي په ولسوالي کې نړیوالو نظامي ځواکونو او افغان ملي امنیتي ځواکونو په ګډه عملیات ترسره کړل او دوه تنه یې د حکومت ضد عناصرو په تور ونیول. دغه دوه شکمن کسان محلي پولیسو ته وسپارل

[143] د ناټو د ځانګړو عملیاتو د برخې قومانده، د اي ایل پي اپډیټ ۷ جنوري، ۲۰۱۳.
[144] همدا ماخذ
[145] د ایساف د ځانګړو عملیاتي ځواکونو سره د یوناما کتنه، ۱۴ جنوري، ۲۰۱۳، د ایساف مرکزي دفتر، کابل.

شول چې د زیړۍ ولسوالي مرکز ته یې ورسوي. د راپورونو په وینا، د محلي پولیسو قوماندان سره له دوو نورو محلي پولیسو دغه دوه تنه وهلي او ډبولي دي، هغوي یې په خپل موټر پسې تړلي او کش کړي دي او دواړه یې وژلي دي. محلي پولیسو نړیوالو ځواکونو ته خبر ورکړ چې بندیان تښتیدلي دي. د دغې پیښې له راپور څخه وروسته د کورنیو چارو د وزارت/د محلي پولیسو ریاست د ۲۰۱۲ کال په اکتوبر کې کندهار ته یو ټیم واستاوه څو څیړنې وکړي او د څیړنو پایله دا وه چې محلي پولیسو هغوي په غیر قانوني ډول وژلي دي. د ۲۰۱۲ کال د اکتوبر په ۱۵ دغه درې تنه تورن محلي پولیس ونیول شول او د کندهار نظامي څارنوالۍ ته یې وسپارل.

- د فاریاب په ولایت د غورماچ په ولسوالي کې د جولاي په ۲۵ دوو تنو محلي پولیسو یو تن محلي ملکي شخص چې په موټر سایکل سپور و، وویشت او ژوبل یې کړ او بیا یې هغه وشکاوه. د قرباني د شکایت له مخې دوه تنه تورن محلي پولیس بې وسلې شول او د ملي پولیسو له خوا ونیول شول.
- د فراه ولایت د خاک سفید په ولسوالي کې د سپتمبر په ۳۰ د محلي پولیسو یوه قوماندان په یوه کلي کې یو تعبیه شوي چاودیدونکي توکي وموند، چې په خوا کې یې د ملکي شخص کور و. د محلي پولیسو قوماندان د کور څښتن دې ته اړ کړ چې چاودیدونکي توکي وچوي، چې مخکې چاودونه وشوه او یو ملکي شخص یې وواژه او دوه تنه نور یې ټپیان کړل.
- د کندز ولایت د دشت ارچي په ولسوالي کې د ډسمبر په ۱۳ د محلي پولیسو غړي د شهید عبد الواحید د ښوونځي یو تن ښوونکي و واهه او لاس یې ور باندې مات کړ. د ټولنې خلکو هم راپور ورکړي چې د محلي پولیسو پوستې د ښوونځي کارمندان، زده کوونکي ځورولي او له هغوي څخه یې غذا، پیسې او د سون لرګي غوښتي دي.

*د محلي پولیسو څارنه او حساب ورکونه*

د ۲۰۱۳ په مئ کې د کورنیو چارو وزارت او د امریکا د متحده ایالاتو ځانګړو ځواکونو د څارنې او تحقیق واحد ایجاد کړ چې په کابل کې د محلي پولیسو د ریاست په دننه کې کار کوي. د محلي پولیسو د رئیس جنرال احمدزي په وینا دغه واحد په معمول ډول له ساحو څخه لیدنه کوي چې اجراات، عملیاتي ظرفیت، او د منابعو اړتیاوې تر څارنې لاندې ونیسي، په محلي پولیسو کې د جرمونو ادعاګانې وڅیړي او چیرې چې مناسبه وي جنایي تحقیقات پیل کوي. دې واحد راپور ورکړي چې دوي تر اوسه ۱۹ جنایي قضیې څیړلې دي. د دغو قضیو زیاته برخه په ۲۰۱۲ کې تعقیب شوي ده.[146]

د محلي پولیسو ریاست او د داخله چارو وزارت یوه تحقیقاتي پلاوي ته دنده وسپارله چې له کندز څخه لیدنه وکړي او هلته د شکنجې

[146] د سیمه ییز پولیسو د ریاست له غړو سره د یوناما کتنه، د څارنې او تحقیق څانګه، کابل د ۲۰۱۲ ډسمبر او د ۲۰۱۳ جنوري.

او بد چلند هغه ادعاګانې چې د ۲۰۱۲ په اګست او سپتمبر کې د محلي پولیسو له خوا د کندز ولایت د چاردرې او دشت ارچي په ولسوالیو کې شوې دي وپلټې. د محلي پولیسو مسوول ګروپ هغه پخواني محلي دفاعي ګروپ و چې د ایساف په مرسته جوړ شوي و او د ۲۰۱۲ په نیمه یې کې په محلي پولیسو بدل شو.[147] د کورنیو چارو وزارت د محلي پولیسو د ریاست پلاوي د قوماندان د نیولو امر ورکړ (سره له نورو دوو محلي پولیسو او دوه تنه د محلي پولیسو چې د نقض په قضیې کې تورن وو) چې په لومړي سر کې د جنوري په ۱۷ د کندز ولایت د امنیه قوماندانې د سرپرست له خوا مسترده شوه خو وروسته بیا د کندز ولایت د چارواکو له خوا دغه امر عملي شو. د ۲۰۱۳ په جنوري کې، نظامي څارنوال ټول تورن کسان په مشروط ډول سره خوشي کړل او په راپور کې یې ویلي دي چې د کورنیو چارو وزارت د تحقیق ټیم د ده له دفتر سره د تحقیقاتو نتیجې نه دي شریکې کړي. که څه هم یوناما د لومړنیی څیړنې او نیول ستایي، خو وروسته د ټولو تورنو کسانو خوشي کول د کورنیو چارو وزارت د هغو ژمنو په اړه چې حساب ورکونه تقویه کوي، له یوناما سره ژورې اندیښنې پیدا کړي.

د کندهار او کندز مثالونه څرګندوي چې تر دې وخته د محلي پولیسو له خوا د بشري حقونو د نقض د ډیري پیښو په اړه څیړنې او یا جنایي جریان یوازې په هغه وخت کې پیل شوي چې په کابل کې د محلي پولیسو ریاست مداخله کړې او یا د بشري حقونو د ګروپونو له خوا فشار موجود و. د دې مانا دا ده چې د ولسوالي په کچه د احتساب او څارنې میکانیزمونو په پوره اندازه وده نه ده کړې. د دې اړتیا چې له لوړ مقام څخه امر صادر شي او د محلي چارواکو ترمنځ یوه عمومي بې‌میلي چې په خپلواک ډول تحقیقات وکړي (د لوړ مقام څخه د مداخلې پرته) شایي په محلي کچه د څواکونو په محرکاتو پوري تړلې چې د محلي پولیسو قوماندانان او غړي، تاریخي تړونونه، او په ځینو سیمو کې د معافیت کلتور او دغه راز د محلي پولیسو د غړو او محلي وسله واله ګروپونو ترمنځ اړیکې په دې برخه کې نقش لري.

سره له دې چې په مرکزي کچه د احتساب میکانیزمونه تقویه شوي چې په محلي سطحه د بشري حقونو د نقض د مسالو په اړه د احتساب میکانیزم تقویه کوي، یوناما د دې اړتیا په ټینګار سره په ډاګه کوي چې په محلي کچه باید د احتساب او څارنې میکانیزمونه پرمختګ وکړي. دغه ډول میکانیزمونه کولای شي سرغړونې کمې کړي، او د نقض د قربانیانو لپاره لازمي، اغیزمنې، مناسبې او سملاسي چارې پیدا کړي. دغه میکانیزمونه باید اوسنی هغه پروسه په پام کې وساتي چې بیلابیلې قواوې په کې شاملې دي او د محلي پولیسو قوماندان او غړي هم په کې نقش لري او د محل خلکو ته د دې فرصت ورکړي چې د نقض د قضیو په اړه په خوندي فضا کې راپوروونه ورکړي.

[147] د نورو معلوماتو لپاره د محلي دفاع نوښتونه برخه په دې راپور کې وګورئ.

*د محلي دفاعي نوښتونو منحلول او له محلي پولیسو سره یو ځای کیدل: د تصفیې او بې وسلې کولو نشتوالی*

د ۲۰۱۱ د ډسمبر په ۲۵ ولسمشر حامد کرزي د ایساف او د ایساف د ځانګړو ځواکونو له خوا د بلخ، فاریاب او د کندز ولایت په ځینو برخو کې په ۲۰۱۱ کې د مهمو جوړښتونو پروژه، په هلمند کې د مهمو جوړښتونو لپاره د منځګړي امنیت پروژه او په کنړ، ننګرهار او نورستان کې د ټولنې له خوا امنیتي حل لارې، لغوه کړې.[148] د ۲۰۱۲ د جنوري په ۲۴ د ایساف ګډې قوماندانۍ یو امر صادر کړ چې د ټولنې له خوا د امنیتي حل لارو ټول ګروپونه یې لغوه کړل.[149]

د ایساف د ځانګړو ځواکونو په وینا، د ۲۰۱۲ د ډسمر تر ۳۱ ایساف/د ایساف ځانګړو ځواکونو د محل په کچه د خلکو له خوا دفاعي نوښتونه لغوه کړل او ډیري یې په محلي پولیسو پورې وتړل.[150] په شمال ختیځ او شمالي برخو کې د مهمو ځایونو د ساتنې ګروپونه لغوه شول چې ۹۰۰ یې په محلي پولیسو کې مدغم شول. په ختیځو برخو کې د سي بي ایس ایس اته ګروپونه لغوه شول چې ۱۳۰۰ غړي یې درلودل او ۹۰۰ تنه یې په محلي پولیسو بدل شول. د هلمند په ولایت کې پنځه د مهمو زیربنا د امنیت ساتلو منځنۍ جوړښتونه (آي ایس سي آي) چې نږدې ۱۹۰۰ کسان یې درلودل لغوه شول او ۱۶۲۵ له هغو څخه په محلي پولیسو کې مدغم شول.[151]

یوناما د ادغام په پروسه کې د تصفیې د شفافي پروسې نشتوالي ته اشاره کوي. په شمال ختیځ کې یوناما د بشري حقونو د نقش ډیري قضیې ثبتې کړي دي چې د ۲۰۱۲ په لومړیو کې د سي آي پي د غړو له خوا مخکې له هغه ترسره شوې چې د محلي پولیسو سره یو ځای شي، دغه راز داسې قضیې هم ثبتې شوې چې د سي آي پي د غړو له خوا چې وروسته لغوه شوي ترسره شوې دي.

یوناما د بشري حقونو د نقض ډیرې جدي قضیې ثبت کړي چې د دوو تنو غړو له خوا شوي دي چې د ۲۰۱۲ په اپریل کې له محلي پولیسو سره یو ځای شوي. د ۲۰۱۲ په اګست او سپتمبر کې د سي آي پي پخواني او د چاردري د ولسوالي د محلي پولیسو اوسني قوماندان د شکنجې، جنسي تیري او بد چلند د ډیرو عملونو یا امر ورکړي او یا یې پخپله ترسره کړي. د دې عملونو قربانیان روغتیایي کارمندان، زده کوونکي او نور داسې کسان دي چې محلي پولیسو پر هغوي شک درلود چې په شورشي فعالیتونو کې داخل دي. د مثال په ډول، قوماندان د یوه تن بندي غوږ پري کړ او نور څو تنه

[148] د ډي سي او ایس د عملیاتي ځواکونو له مرستیال سره د یوناما کتنې، د ایساف مرکزي دفتر، کابل ۲۰۱۲.
[149] ماخذ مخکې ذکر شوي
[150] د ایساف د ځانګړو عملیاتي ځواکونو سره د یوناما کتنه ۱۴ جنوري، ۲۰۱۲، د ایساف مرکزي دفتر، کابل.
[151] ماخذ مخکې ذکر شوي

توقيفيان يې شکنجه کړي دي.[152] په دې کې پر يوه ۱۶ کلن هلک جنسي تيري هم شوي دي. محلي منابعو راپور ورکړي چې دې قوماندان د يوه وسله وال ګروپ د يوه غړي په حيث وروسته د سي آي پي او بيا د محلي پوليسو د غړو په توګه له کلونو راهيسي په داسې تيريو کې دخيل او هيڅ جزا يې نه ده ليدلې.

دغه راز يوناما د کندز په ولايت د علي اباد په ولسوالۍ کې د محلي پوليسو د يوه غړي له خوا چې پخوا په سي آي پي کې شامل و د نقض درې قضيې ثبتې کړي. په دې قضيو کې يې يوه په يوه واده باندې ډزې کول و چې درې تنه ماشومان يې ژوبل کړل او ملکي کسان يې په مرګ تهديد کړي دي. همدغه قوماندان په دې هم تورن دي چې د ۲۰۱۲ د سپتمبر په ۱۱، ډير ژر له هغه وروسته چې د سي آي پي څخه محلي پوليسو ته ولاړ، يو تن توقيفي[153] شکنجه کړي دي.[154]

که څه هم د محلي پوليسو د قوماندانانو له خوا نيول شوي تدابير دا ژمنه څرګندوي چې د تيريو مخنيوي وکړي او مجرمين جزا و ويني، خو د سي آي پي لپاره د داسې قوماندانانو په استخدام او بيا په محلي پوليسو کې د هغوي د مدغم کيدلو په اړه د تصفيې يو کمزوري عمل ليدل شوي. يوناما د دې سپارښتنه کوي چې د داخله چارو وزارت د محلي پوليسو په اړه د څارنې نور تدابير ونيسي چې له سي آي پي څخه د جدا شويو کسانو سابقه، د دوي اجراات او د نورو وسله والو ګروپونو او غړو اجراات تر څارنې لاندې راولي، چې غواړي د محلي پوليسو په ليکو کې شامل شي.

*د محلي پوليسو په اړه ملاحظات*

---

[152] د شکنجې عملونه لکه د توقيفيانو ساتل (محلي پوليس قانوني صلاحيت نه لري چې يو څوک توقيق کړي) او په پايپونو، لرګيو سره د هغوي سخت وهل او تر هغې پورې وهل ترڅو يو شخص پر هغه باندې په لګول شوي تور اعتراف وکړي. دغه راز يوناما د يوې پيښې سندونه پيدا کړي چې د محلي پوليسو قوماندان يو ملکي شخص دې ته اړ کوي چې تعبيه شوي چاوديدونکي توکي را وباسي. دغه راپور وګورئ: په افغان توقيف ځايونو کې د جګړو په تړاو د توقيف شويو کسانو سره چلند. د جنوري په ۲۰، ۲۰۱۳ خپور شوي چې په غير قانوني ډول د افغان چارواکو له خوا د ۸۰ تنو ماشومانو توقيف کول مستند کوي، (د ملي امنيت رياست، ملي پوليس او محلي پوليس چې د ملي امنيت په ضد جرمونو تورن شوي وو: http://unama.unmissions.org.

[153] محلي پوليس او سي آي پي د دې صلاحيت نه لري چې يو شخص ونيسي او يا يې توقيف کړي. محلي پوليس يو ضمني صلاحيت لري چې په مؤقت ډول يو شکمن شخص وساتي چې په کليو کې د دوي د امنيت د ساتلو له صلاحيت سره سمون لري. وګورئ: د افغان محلي پوليسو د طرزالعملونو د تعيين سند چې د ۲۰۱۰ په اګست کې تصويب شوي او د ۲۰۱۲ په جنوري کې تعديل شوي دي. دغه راز وګورئ: د يوناما د ۲۰۱۳ د جنوري راپور د "په افغان توقيف ځايونو کې د جګړو په تړاو له توقيف شويو کسانو سره چلند" وګورئ چې د ۲۰۱۳ په جنوري کې خپور شوي. په دې راپور کې له ۱۰ تر ۱۲ توقيفيانو سره مرکې شوي دي چې د محلي پوليسو له خوا توقيف او شکنجه شوي دي (په کندز، فارياب، کندهار او ارزګان کې، وګورئ http://unama.unmissions.org.

[154] لکه چې مخکې وويل شول، د ۲۰۱۳ په جنوري کې د محلي پوليسو د څارنې او پلټنې ځانګې ساحې ته ځانګړې پلاوي وليږه چې د شويو ادعاګانو په اړه څيړنې وکړي او د دې يقين پيدا کړي چې ولايتي چارواکو د مجرمينو په وړاندې د جنايي تعقيب پروسه په کار اچولې ده. يوه محلي پوليس افسر وويل چې د سي آي پي پخواني او د چاردرې د محلي پوليسو اوسني قوماندان له کلونو راهسي داسې سرغړونې کړي دي خو د محلي زورواکانو له خوا حمايه کيږي. د داخله چارو وزارت د محلي پوليسو رياست پلاوي د دې قوماندان د نيولو امر ورکړ او ورسره نور هم و. د يوناما مرکې له څارنوالۍ د ځاي او جزئيات د امنيتي لاملونو له امله نه دي خپاره شوي.

په داسې حال کې چې په ۲۰۱۲ کال کې يوناما د محلي پوليس له خوا دسرغړونو په برخه کې د احتساب ورکونې په اړه د پام وړ پرمختګ او ژمنې شاهده ده. خو يوناما د موجوده پاليسيو د ناکافي تطبيق په اړه چې له امله يې د قضيو ارزونه کمزورې کيږي ، معافيت را منځته کيږي او په محلي کچه د محلي پوليسو د احتساب او څارنې ميکانيزمونه کمزوري کيږي، خپله انديښنه بيا څرګندوي. بايد د پلټنې ثابت او دقيق طرزالعملونه تعقيب شي چې د بشري حقونو د نړيوالو نورمونو او معيارونو سره سمون ولري په تيره بيا په هغو ځايونو کې چې وسله والې ډلې لکه د ټولننيز نوښت پروګرام (سي اي پي) د محلي پوليسو په قطعاتو[155] کې ادغام شوي وي. د ارزونې او استخدام نيمګړي خدمتونه د ملي پوليسو له خوا د محلي پوليسو د قطعاتو د قوماندې او کنترول دکمزورتيا لامل کيږي او ورسره د ځواک غير رسمي او محلي جوړښتونه تقويه کوي او د محلي کچې د احتساب ورکونې د بهيرونو او ميکانيزمونو د نه پايښت لامل ګرځي. دغه نيمګړتياوې د ملکي وګړو تحفظ او د محلي ټولنو امنيت له ګواښ سره مخ کوي.

د کورنيو چارو وزارت او د امريکا دمتحده اياالاتو ځانګړي ځواکونه بايد د محلي پوليسو د ځينو واحدونو د بيا ارزونې نوښت ته چې په ۲۰۱۲ کال کې منل شوي و خپلو وقايوي روشونو ته ادامه ورکړي د محلي پوليسو ځينې ځانګړي قطعات تر بيا ارزونې لاندې راولي. دغه ډول قطعاتو ته چې له هغو څخه د بشري حقونو په برخه کې زيات شکايتونه شتون لري بايد د بيا ارزونې او پلټنې په برخه کې ورته لومړيتوب ورکړاي شي، په تيره بيا کله چې په دغو قطعاتو کې پخواني سي اي پي او يا نورې وسله والې ډلې شاملې وي چې پخوا د محلي پوليسو په قطعاتو کې د نيمګړې ارزونې سره ور ګډ شوي دي.

[155] د دې اړتيا ده چې په دقيقه او پرلپسې توګه په محلي پوليسو کې د جذب او ياهم د نورو وسله والو ډلو زياتره په شمال او شمال ختيځ کې د نورو وسله والو چې ځينې د وړاندې څخه په محلي پوليسو کې جذب شوي دي، ارزونه او پلټنه تر سره شي.

## له ګواښ سره مخ ملکي وګړي: په جګړه ځپلو سیمو کې د بشري حقونو ساتنه

### *د دولت له خوا ملاتړ شوي پاڅونونه: د غزني ولایت د اندړو ولسوالۍ*

یوناما د طالبانو او نورو دولت ضد عناصرو پر خلاف په مرکزي، شمالي، جنوب ختیځو او ختیځو سیمو کې د محلي پاڅونونو پېښې ثبت کړي دي. د دغو پاڅونونو ډېري د لنډ مهال لپاره وو او یا هم په ټولیز ډول د عوامو د مظاهرو په شکل کې وو. دغه ډول پاڅونونه په عمومي صورت د هغو وسله والو ډلو له خوا رهبري کېدل چاچې محلي کسان دې ته وهڅول چې د دولت ضد عناصرو په وړاندې مقاومت وکړي د دې لپاره ملاتړي د دې لپاره منظم کړل چې د وسله والو عناصرو سره په وسله والو نښتو کې مقابله وکړي او د افغانستان د ملي امنیتي ځواکونو سره مرسته وکړي.

تر ټولو مهم پاڅون د غزني ولایت د اندړو په ولسوالۍ کې د ۲۰۱۲ کال د اپریل په میاشت کې رامنځته شو. د حزب اسلامي وسله والې ډلې دغه پاڅون رهبري کړ چې په پای کې د هغه سره د عوامو زیات ملاتړ وشو. د حزب اسلامي محلي مشرانو او د اندړو د ولسوالۍ اوسیدونکو د راپور له مخې دغه پاڅون د طالبانو له خوا د هغوي د ژوندانه په چارو کې د زیاتو مداخلو، د ښوونځیو، کلینیکونو، بازارونو د تړلو او د خلکو پر خوځښت او د بیان د ازادۍ د مخنیوي او محدودیتونو د وضع کولو له امله ترسره شوي دي.

د دغه خوځښت په غبرګون کې د ۲۰۱۲ کال د اکتوبر په میاشت کې د اندړو په ولسوالۍ کې افغان امنیتي ځواکونه د ملي پولیسو او محلي پولیسو له تشکیل سره یوځاي شول. د حکومت له خوا د ژمنې سره سره چې په هغې کې د پاڅون د لاسته راوړنو د ساتنې په اړه ویل شوي وو ، د هغه ځاي د محلي ټولنې د غړو له خوا د حکومت د ناکافي ملاتړ، د محلي پولیسو د استخدام د پروسو او په دې باب شکایت شوي چې له افغانستان څخه د باندې د طالبانو زیات ځواکونه دغې سیمې ته د پاڅون سره د مقابلې لپاره را داخل شوي دي.[156]

یوناما ۴۵ ملکي تلفات ثبت کړي چې ډېري یې نیغ په نیغه د اندړو د ولسوالۍ د پاڅون سره تړلي دي.[157] په داسې حال کې چې په پاڅون

---

[156] د پاڅون پر مهال د هغه ځاي کلیوالو یوناما ته دا راپور ورکړ چې حکومت په فعاله توګه د دغه خوځښت ملاتړ وکړ په داسې حال کې چې ځینې نورو په پاڅون کې د جنګیدونکو په شمول په عامه توګه د دې اعلان وکړ چې هغوي د دولت سره کوم تړاو نه لري. هغه معلومات چې د اندړو په ولسوالۍ کې د پاڅون دسرچینو له خوا برابر شوي دي په هغو کې د حکومت د چارواکو او ادارو کلیدي نقش ښودل شوي دي ، د خوځښت قومانده او جوړښت او هغه ساحه چې ویل کیږي د دوي په کنترول کې ده چې محلي ځواکونو ته د دې اجازه ورکړي چې هغه د دولت پلویان وپیژندل شي.

[157] دغه تلفات د ۲۰۱۲ کال د اپریل او دسمبر په میاشتو کې ثبت شوي دي او دهغو افرادو تلفات په کې نه دي شامل چې په نښتو او شخړو کې د مستقیمو برخه والو (ډي پي ایچ) په نامه تصنیف شوي دي. د نړیوال بشر دوستانه قانون له مخې ملکي وګړي د مستقیمو بریدونو څخه محفوظ دي خو دغه تحفظ هغه مهال د لاسه ورکوي چې په مستقیم ډول په شخړو کې ونډه واخلي. ملکي حثیت یې هغه وخت بیرته راګرځي چې نور په وسله واله نښته کې برخه نه اخلي. د منظم شوو وسله والو ډلو غړي چې د وسله والې شخړې په یوې نا

کې نیغ په نیغه ملکي وګړي هدف نه دي ګرځیدلي خو د نوي جګړیز ځواک شتون، د شورشیانو سره د مقابلې لپاره د افغانستان د ملي امنیتي ځواکونو حضور، د محلي پولیسو د قطعاتو جوړول او د هغو طالبانو شتون چې د پاڅون سره د مقابلې لپاره دغې سیمې ته راغلي دي دا ټول د دې لامل شوي چې هلته ملکي تلفات رامنځته شي. د طالبانو له خوا د ملکي وګړو په وړاندې د اندړو په ولسوالۍ کې د انتقام اخیستنې اقدامات ډیر وحشیانه وو چې په عمدي ډول د ملکیانو په نښه کول په کې شامل و. د بیلګې په ډول د اندړو د ولسوالۍ اوسیدونکو یوناما ته معلومات ورکړل چې د طالبانو یوه سیمه ییز قاضي د پاڅون د غړو په مقابل کې یوه فتوه صادره کړې چې په هغې کې یې مجاهدینو ته ویلي دي چې دغه ټول پاڅون کوونکي و وژنئ او ښځې یې له ځان سره بوځئ.[158] په انتقام اخیستنو کې هدفي وژنې هم شاملې دي. د هدفي وژنو پنځه پیښې په دغه موده کې ثبتې شوي دي چې په هغو کې طالبانو د هغه ځاي سیمه ییز وګړي په دې تور وژلي دي چې هغوي په پاڅون کې شامل وو. دنړیوال بشر دوستانه قانون له مخې ملکي وګړي او افراد باید د انتقامي کړنو هدف ونه ګرځول شي.[159]

په ۴۵ تنو ملکي تلفاتو سربیره چې د یوناما له خوا مستند شوي دي لږ تر لږه نورو ۲۰ تلفاتو د پاڅون کوونکو تر منځ شتون درلود، چې ثبت شوي دي. په داسي حال کې چې دغه تلفات د هغو کسانو تر منځ وو چې هغوي په مستقیم ډول په نښتو کې شامل وو ، دغه ډول تکراریدونکې پیښې د پاڅون کوونکو او د دولت ضد عناصرو ترمنځ دوسله والو نښتو ډیروالي چې د ۲۰۱۲ کال د اپریل څخه پیل شوي دي په محلي ټولنو باندې دهغو منفي اغیزه څرګندوي.

---

دولتي خوا پورې تړاو ولري ملکي وګړي نه شمیرل کیږي او د مستقیم برید څخه دتحفظ حق د لاسه ورکوي تر هغې پورې چې هغوي دغه جنګي فعالیت ته دوام ورکوي.

[158] د طالبانو قاضي د ۲۰۱۲ کال د نوومبر په میاشت کې د پلټنې او برید پر مهال چې د افغانستان د ملي امنیتي ځواکونو او نړیوالو وسله والو ځواکونو له خوا تر سره شو، ووژل شو. د دغو عملیاتو په تعقیب کې طالبانو د۲۰۱۲کال د ډسبمر په میاشت کې یوه اعلامیه منتشره کړه او په هغې کې یې د اربکیانو او نړیوالو ځواکونو له خوا د دغه شخص وژل وغندل(هغوي دي د محلي امام په توګه پیژندلو).

[159] ۱۴۶ ګڼه قاعده . د تحفظ لاندې کسانو په وړاندې انتقامي کړنې، نړیوال بشر دوستانه عرفي قانون، آي سي ار سي . په دې کرښه تر لاسه کیږي: http:// www.icrc.org/customary-ihl/eng/docs/v1 rul146. د ۲۰۱۳ کال د جنورۍ څخه رسیدنه ورته شوې.

## *د افغانستان په شمال او شمال ختیځ کې وسله والې ډلې*[160]

*زموږ د کور دروازه وټکیده او زما زوي دروازې ته ورغی چې غبږ واوري. وسله والو کسانو د دروازې په قفل ډز وکړ او دروازه یې پرانیستله. کله چې هغوي د دروازې څخه را ننوتل نو زما پر زوي یې چې د دروازې ترشا پټ و، ډز وکړ. زما بل زوي په ځغاسته د خپل ورور د ژغورنې په موخه د دروازې په لور ورغی چې هغه هم ووژل شو. زما زامن د وینو په ډنډ کې پراته ووه. زما دواړه زامن زما او زما د میرمنې تر مخ و وژل شول. تاسو تصور کولای شئ چې دا د والدینو لپاره څومره دردناکه ده کله چې ځوان زامن یې د هغوي په مخکې پرته دکوم جرم څخه وژل کیږي. دا ډیره عذاب ورکوونکې او دردناکه ده کله چې والدین نه شي کولای خپل زامن له مرګ څخه وژغوري. زما میرمن د ډار خوبونه ویني او ډارونکې تصورات ورسره مله دي. هیڅ انسان به دغه شان بل انسان لکه چې هغوي زما زامن و وژل ونه وژني.*

-- د دوو زامنو پلار چې د یوې وسله والې ډلې دبرید په پایله کې د کندز د ولایت د کندز د ولسوالی د کنم کلان ؟ په کلي کې د ۲۰۱۲ کال د سپتمبر په دوهمه نیټه و وژل شو چې په دغه برید کې ۱۲ ملکیان و وژل شول او ۸ نور یې ټپیان شول.

په ۲۰۱۲ کال کې یوناما د بشري حقونو څخه هغه سرغړونې مستندې کړې دي چې [161]د وسله والو ډلو له خوا تر سره کیږي. د دغه ډول ډلو شتون او بیا راپیدا کیدل په تیره بیا په شمال او شمال ختیځو سیمو کې مشاهده کیږي. د دغه شان ډلو بیا راپورته کیدل کیدای شي چې د طالبانو او نورو د دولت ضد عناصرو د زیات شتون په تیره بیا په لیرې پرتو ولسوالیو کې، نظامي ځواکونو ته دلیږد په وخت کې د امنیتي ستونزو ، سیاسي بې ثباتي، جرمي اقداماتو او عمومي نا امني په وړاندې یو غبرګون وي. په ډیرو سیمو کې یوناما دا مشاهده کړې چې دولتي امنیتي ځواکونه د وسله

[160] " وسله واله ډله " د هغه نا دولتي وسله وال عامل په توګه پیژندل کیږي چې په شخړه کې شامل او د دولتي ځواک څخه مجزاء وي، او داسې تشکیل ولري چې د ملیشاء څخه واخله تر شورشیانو او مجرمانو پورې ورسیږي. وسله والې ډلې د دې امکان لري چې د ځان سره وسلې ولري او خپل وسله وال ځواک د سیاسي، ایډیالوژیکي او اقتصادي موخو د تر لاسه کولو د پاره کاروي، او هغوي د دولتونو ، دولتي ایتلافونو او بین الحکومتي سازمانونو په رسمي تشکیلاتو کې شامل نه وي ، او نه هم د دولت(نو) په کوم کې چې فعالیت لري تر کنترول د لاندې وي. وسله والې ډلې کیدلای شي چې د دولت(نو) په کوم کې چې فعالې وي تررسمي قوماندې د لاندې نه وي ، خو کیدلای شي چې هغوي د میزبان حکومت او نورو دولتونو مستقیم / غیر مستقیم ملاتړ تر لاسه کړي. دغه تعریف د دې لپاره دي خو په کې دا لاندې ډلې نه دي شاملې: د اپوزیسیون شورشي ډلې، محلي ملیشاء (قومي، د خیل او یا بل کوم بنسټ د لاندې) ، یاغیان، ګوریلا ، ملکي دفاعي او نیمه نظامي ګروپونه (کله چې هغه په ښکاره ډول د دولت د کنترول د باندې وي) . دغه ډلې دافغانستان د قوانینو له مخې کوم قانوني بنسټ نه لري .

[161] کله چې وسله والې ډلې د حکومت/ دولت د فعالانو سره تړاو ولري، نو د نورو افرادو په وړاندې چې دهغوي له خوا کومې ناوړه کارونې کیږي هغه دبشري حقونو څخه سرغړونې شمیرل کیږي. د بشري حقونو څخه سرغړونې هغه مهال رامنځته کیږي کله چې د دولت اجنټان د نورو افرادو پر خلاف عمل کوي. دولت قانوني مسوولیت لري چې د دغه ډول سرغړونو مخنیوي اوجبران وکړي.

والو ډلو د فعالیتونو شتون د دولت ضد عناصرو په وړاندې د حکومت د جګړې د یوې برخې په توګه مني.

یوناما د افغانستان د شمال په ۴۰ ولسوالیو کې د وسله والو ډلو عملیات مستند کړي دي.[162] د شمال او شمال ختیځ په ځینو سیمو کې محلي ځواب ویونکو دا تایید کړه چې د دغو ډلو کنترول، محلي نفوذ او شمیر په ۲۰۱۲ کال کې زیات شوي دي. په ځینو سیمو کې د دغو ډلو شتون او د ځواک کنترول د محلي افغان امنیتي ځواکونو څخه زیات دي. د بیلګې په ډول د کندز د ولایت د قلعه زال په ولسوالۍ کې د یوې وسله والې ډلې دغړو شمیر ۲۳۰ تنو ته رسیږي چې د ملي پولیسو د شمیر په پرتله زیات دي چې دا وسله والې ډلې ته د دې امکان ورکوي چې د سیمې کنترول په لاس کې واخلي.[163] په نورو سیمو کې یوناما دا مشاهده کړې ده چې د وسله والو ډلو نفوذ کمزوري او ټوټه ټوټه دي.

وسله والې ډلې په افغانستان کې قانوني حیثیت نه لري او د حکومتي تشکیل د باندې فعالیت کوي که څه هم په ځینو سیمو کې دولتي چارواکي تر یوه بریده په دغو ډلو کنترول لري. کله چې وسله والې ډلې امنیتي او د شورشیانو پرضد دولتي چارواکي لکه د پولیسو قوماندان، د امنیت افسر او یا ولسوال د غیر رسمي قوماندې لاندې عملیات تر سره کوي، یوناما په دې ټینګار کوي چې دغه ډلې په عملي ډول باید د وسله والو ځواکونو د یو اړخ فعاله برخه تشکیل کړي او په دې توګه دواړه اړخونه مسؤلیت لري او باید د سرغړونو له امله د نړیوال بشر دوستانه قانون لاندې مسؤل او حساب ورکوونکي وي.

په ځینو سیمو کې وسله والې ډلې چې د حکومت سره په تړاو کې دي تر زیاته بریده د کورنیو اړیکو او شخصي وفاداریو تابع دي، د دې پرځای چې د قوماندې د جوړښتونو تابع وي په نورو سیمو کې د ځواک اړیکي ډیرې قوي دي او وسله والې ډلې د محلي ادارو په پریکړو باندې کنترول لري. [164] نورې وسله والې ډلې د دولتي چار واکو سره تړاو نه لري.

*وسله والې ډلې او د ملکیانو ساتنه*

---

[162] د یو این ډي ایس ایس اویوناما د ارقامو له مخې په شمالي سیمو کې وسله والو ډلو د ۵۴ څخه په ۲۱ ولسوالیو کې : د بلخ د ولایت د چار بولک، دسرپل د سموزا قلعه، ګوسفندي، کوهستانات، سنچارک، بلخاب او سر پل په ولسوالیو کې ، د جوزجان د ولایت د په فیض اباد، مردیان، قوشتیفه، درزاب، خوازه دوکه ولسوالیو کې، د سمنګانو د ولایت په دره صوف پایان او دره صوف بالا و لسوالیو کې ، د فاریاب د ولایت په پښتون کوټ، بلچراغ، شرین تګاب، قیصار، غور ماچ، دولت اباد او المار ولسوالیو کې. په شمال ختیځ کې غیر قانوني وسله والې ډلې د ۶۷ څخه په ۱۸ ولسوالیو کې فعالې دي او په خا ن اباد، کندز، قلعه زال او تر یو بریده د کندز د ولایت په علي اباد ولسوالۍ کې ، دبغلان د ولایت د بانو، ده صلاح، پل حصار، جلګه، دوشي، بغلان جدید، خوست، پل خمري او دهنه غوري ولسوالیو کې، د تخار د ولایت په خواجه بهاء الدین، خواجه غار، او ینګي قلعه ولسوالیو کې، او د بدخشان د ولایت د کشم د ولسوالۍ د خومباک په سیمه کې.

[163] د ملي پولیسو حضور په دغه ولسوالۍ کې د راپور له مخې ۲۵-۳۵ تنه دي ، په داسې حال کې چې د و سله والې ډلې غړیتوب خورا لوړ دي.

[164] د محلي چارواکي سره د یوناما مرکه، د ۲۰۱۳ کال د جنورۍ ۹ نیټه ، فاریاب.

د وسله والو ډلو شتون او یا بیرته را پورته کیدل اکثره وخت د دې لامل کیږي چې د ملکیانو تحفظ کم شي او د بشري حقونو څخه سرغړونې زیاتیږي. ملکیان په زیاته پیمانه د وسله والو ډلو او د حکومت ضد عناصرو تر منځ د نښتې په کرښه کې راځي او د وسله والو ډلو له خوا یې بشري حقونه تر پښو لاندې کیږي.

په ۲۰۱۲ کال کې یوناما۲۸ پیښې ثبتې کړي دي چې په کې ۴۲ د مړینې او ۳۲ د ټپي کیدنو پیښې دي چې د دغه ډول ډلو له خوا تر سره شوي دي. د دغو ۲۸ پیښو څخه په ۲۲ پیښو کې د بشري حقونو څخه سرغړونې شاملې وې.[165] په دغو پیښو کې هدفي وژنې، اختطاف، تهدیدونه، ارعاب، ډارونې، اذیتونه د مالیو غصب، د زده کړې د حق څخه سرغړونه د ښوونځیو اشغال، د ښووونکو په وړاندې تهدیدونه او جنسي تیري شامل دي. یوناما همدارنګه دا مشاهده کړې ده چې په هغو سیمو کې چې دغه وسله والې ډلې زیات نفوذ لري او چیرته چې دولتي چارواکي د دغو ډلو ملاتړ کوي د بشري حقونو څخه د سرغړونو په وړاندې احتساب شتون نه لري.

یوناما د ملکي تلفاتو شپږ پیښې ثبتې کړي دي چې د و سله والو ګروپونو او د دولت ضد عناصرو ترمنځ او د یوې وسله والې ډلې له خوا د بلې وسله والې ډلې پر خلاف د نښتو له امله رامنځته شوې. یوه ډیره جدي او ناوړه پیښه د سپتمبر په ۲ نیټه هغه مهال رامنځته شوه چې یوې وسله والې ډلې د کندز د ولایت د کنم کلان په کلي برید وکړ او هلته یې ۱۲ ملکي وګړي و وژل او ۸نور یې ټپیان کړل. دغه برید د وسله والې ډلې د یو ملاتړي د وژل کیدو په انتقام کې چې په دغه کلي کې وژل شوي و، تر سره شو.

*دفاریاب په ولایت کې وسله والې ډلې- د امنیتي تشو ډکول*

> *د کلي یو متنفذ مشر چې زوی یې په ملي پولیسو کې افسر دی او هغه یو شمیر وسله وال کسان تر قوماندې لاندې لري او پخپله هم دغه شخص د وسله والې ډلې قوماندان دی. هغه د پشتون کوټ په ولسوالی کې په یو ستراتیژیک موقعیت کې دی چې هلته د پولیسو رسیدنه محدوده ده. دغه وسله واله ډله په دغو سیمو کې د دولت ضد وسلوالو پر خلاف په عملیاتو کې خورا مهم نقش لري... د یو وخت لپاره د ولسوالی پولیس په دې نه توانیدل چې د دغو تورونو د یوه هم تفتیش وکړي [ د ډلې د غړو پر خلاف د بشري حقونو څخه د سرغړونو تورونه]. د دې پرته دغه ډله کیدای شي چې د شورشیانو سره یوځای شي او حکومت به پر هغو باندې په ډیرو سیمو کې کنترول د لاسه ورکړي.*
>
> -- د فاریاب په ولایت کې یو لوړ پوړي چارواکي، د ۲۰۱۳ کال د جنوری ۹ نیټه.[166]

[165] په ۲۰۱۱ کال کې یوناما دا نه ده مستنده کړې او د وسله والو ډلو د سرغړونو په اړه راپور نه دی ورکړل شوی .

[166] د فاریاب د ولایت د لوړ پوړي چارواکي سره د یوناما مرکه ، د ۲۰۱۳ کال د جنوری ۹ نیټه د مزار شریف ښار.

د فارياب د ولايت د المار، قيصار، غورماچ او پشتون کوټ په ولسواليو کې د وسله والو ډلو شمير او ځواکمنتيا زياته شوې ده. د فارياب د ولايت[167] په ځينو سيمو کې د امنيتي ليږد په پيل سره محلي چارواکو او افغان امنيتي ځواکونو د شورشيانو پر ضد د هغوي د عملياتو په لړ کې د وسله والو ډلو د ملاتړ غوښتنه کړې ده.[168]

د ليږد پيل، د امنيتي تشو را منځته کيدل او د افغان امنيتي ځواکونو ناقصه شتون او د تشکيل نيمګړتيا د دې لامل ګرځي چې محلي امنيتي مسوولينو ته دا فرصت ورکړي څو محلي وسله والو ته مراجعه وکړي چې هغوي زيات شمير وسله وال کسان او په محلي ټولنو باندې نفوذ لري. د فارياب د ولايت د پشتون کوټ د ولسوالۍ د سرحوض په سيمه کې د افغانستان ملي امنيتي ځواکونو د هغه ځای د محلي قوماندان څخه و غوښتل څو د دولت ضد عناصرو پر ضد خپلو پلويان منسجم کړي. د محلي چارواکو د وينا له مخې چې د يوناما سره يې شريکه کړي، محلي افغان ملي امنيتي ځواکونه په دې باور وو چې نوموړي قوماندان د دې توان لري چې تر ۳۰۰ پورې کسان منسجم کړي.[169]

يو ناما دا په ډاګه کوي چې د دغو ډلو بې کنتروله خپريدنه او يا هم د هغوي فعالانه ملاتړ نيغ په نيغه د ملکي وګړو په تحفظ باندې اغيزه کوي، د محلي حکومت توانمندي کمزورې کوي چې د ځواک په قانونمندانه کاروني باندې انحصار د لاسه ورکړي او په ټولنه کې حکومتداري او امنيت ټوټه کوي.[170]

*د افغان امنيتي ځواکونو په جوړښتونو کې د وسله والو ډلو يوځای کول*

هغه مهمه تاسيساتي پروژه (سي آي پي) چې په ۲۰۱۱ کال کې د ايساف او د افغانستان د امنيتي ځواکونو له خوا د کندز، بلخ او فارياب د ولايتونو په ځينو برخو کې په لار واچول شوه، کيدلای شي چې پرته د کومې ارادې او موخې يې په شمال او شمال ختيځو سيمو کې د وسله والو ډلو د نفوذ او ځواک د زياتوالي زمينه برابره کړي وي.[171] په ځينو سيمو کې د سي اي پي پروژې د موجودو وسله

---

[167] اندخوي، بلچراغ، دولت اباد، ګورزيوان، کان چارباغ، خواجه سبز پوش، کوهستان، ميمنه، قرم قل، قوغان اود شيرين تګاب د ولسواليو امنيتي بشپړ ليږد د افغان ملي امنيتي ځواکونو تر کنترول د لاندې پيل کړي دي، چې د هغې په اړه د ۲۰۱۲ کال د مئ په مياشت کې اعلان وشو او د دغه اعلان څخه لږ وروسته پيل شو. المار، غورماچ، پشتون کوټ او قيصار به د امنيتي ليږد په څلورم پړاو کې تر سره شي چې د ۲۰۱۲ کال د ډسمبر په ۳۱ نيټه وشو.

[168] دغه معلومات د فارياب په ولايت کې د يوناما د دفتر له خوا د ۲۰۱۲کال د جون څخه د ۲۰۱۳ کال تر جنورۍ پورې راټول شوي دي.

[169] مخکني ماخذ

[170] د مليشاء د پديدې په اړه د متخصيصينو راپورونه او تحليلونه وګورۍ د بيلګې په ډول د جونز ايس جي ليکنه" د مليشاء ستراتيژيک منطق،، د رانډ د دفاعي چارود تحقيقاتي انستيتوت کاري پاڼه، جنوري ۲۰۱۲، WR-913,SOCOM, p.5-6

[171] که څه هم د سي آي پي ډلې اکثريت د ۲۰۱۲ کال د نيمايي څخه تر پاي پورې د محلي پوليسو په چو کاټ کې جذب شوي ، ډيري هغه يې چې نه دي مدغمې شوي پخپلو ټولنو کې ځواکمنۍ ته ادامه ورکوي او ځينې جذب شوې ډلې لا هم د جذبيدو تر مخه او وروسته د ملکي وګړو په وړاندې خپلو تيريو ته ادامه ورکوي.

والو ډلو جوړښتونه تقويه او ځواکمن کړل، د هغوي غړي سره يوځاي شول او ورته روزنه ورکړل شوه او په ګڼ شمير کې د دولت پلوه ځواکونو سره يوځاي شول. کله چې په ۲۰۱۲ کال کې د سي اي پي پروژه منحله شوه نو په زياتو سيمو کې د سي اي پي پخواني غړي په رسمي ډول په دولتي جوړښتونو يا هم په محلي پوليسو او يا هم په ملي پوليسو کې ورګډ کړاي شول.[172]

په همدې توګه د محلي دفاعي نوښتونو اکثره غړي لکه د هلمند په ولايت کې د مهمو تآسيساتو لپاره منځني امنيت (اي ايس سي اي)، په ختيځو سيمو کې د ټولني پر بنسټ امنيتي حل لارې (سي بي ايس ايس) منحل شول او د محلي پوليسو په چوکاټ کې جذب او مدغم شول.[173] د دې راپور په لومړيو کې يوناما له دې امله انديښنه وښودله چې د محلي پوليسو په جوړښتونو کې د سي اي پي او نورو ډلو د ادغام تر مخه ارزونه او پلټنه شتون نه لري.

د ۲۰۱۲ کال په اوږدو کې وسله والې ډلې د سي آي پي دغړو په شمول په دولتي تشکيلاتو کې په تيره بيا د محلي پوليسو په چوکاټ کې را وستل شول. په ځينو سيمو کې ټولې وسله والې ډلې د محلي پوليسو لپاره په نښه شوې او په رسمي ډول په تشکيل کې د شامليدو او روزنې لپاره منتظرې دي.[174]

د محلي پوليسو په تشکيل کې په ټوليز ډول د وسله والو ډلو استخدام د دولتي امنيتي ځواکونو د اعتبار او مناسب سلوک په اړه چې د هغو کسانو د وفادارۍ او ريښتينولۍ څرګندوي چې په دغو تشکيلاتو کې خدمت کوي، انديښنې را ولاړوي.[175] په شمال ختيځه سيمه کې د ټولني غړو يوناما ته راپور ورکړي دي چې د وسله والو ډلو ځيني غړي چې په دې وروستيو کې د محلي پوليسو سره يوځاي شوي دي خپلو پخوانيو فعاليتونو او وفاداريو ته ادامه ورکوي. دا په تيره بيا هغه مهال ليدل کيږي چې مشهور قوماندانان د محلي پوليسو په ليکو کې استخدام شوي او يا هم يوه وسله واله ډله په ټوليز ډول د محلي پوليسو په چوکاټ کې جذب شوې ده. د تخار له ولايت څخه يوه محلي روغتيايي کارکوونکي دا حالت داسې څرګند کړ: "د ورځې محلي پوليس او دشپې پر مهال مليشه".[176]

[172] په افغان محلي پوليسو کې د سي آي پي د جذبيدو په اړه د دې راپور برخه وګورئ.
[173] ماخذ تېر ځاي ذکر شوي
[174] ځينې وسله والې ډلې په دې حالت کې ځان د افغان محلي پوليسو په توګه (چې ځان بې اړخه افغان محلي پوليس) معرفي کوي. د بيلګې په ډول د تخار د ولايت د خواجه غار او درقد په ولسواليو کې هغوي د ۲۰۱۱ کال د مارچ څخه کله چې ولسوالۍ ته تشکيل ورسيد ، ځانونه د افغان محلي پوليسو په توګه معرفي کړل . ولې واقعيت دا د ي چې په رسمي توګه په افغان محلي پوليسو کې دجذب پروسه د ۲۰۱۲ کال په مارچ کې پيل شوه. په دې اړه د ملکي وګړو د ساتنې په اړه د يوناما د ۲۰۱۲ کال شپږ مياشتنې راپور وګورئ: ؛ افغان محلي پوليس او دملکي وګړو ساتنه؛ په http:// unama.unmissions.org/Default.aspx?tabid=12265&language=en-US
[175] په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو د تحفظ په اړه د يوناما کلني او د کال د نيمايي راپورونه او په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو د ساتنې د ۲۰۱۲ کال دنيمايي کال راپور وګورئ: په http:// unama.unmissions.org/Portals/UNAMID/Documents/ UNAMA % 20POC%202011%20Report_final_Feb%202012.pdf.
[176] دتخار په ولايت کې د روغتيايي کار کوونکو سره د يوناما مرکه، د ۲۰۱۲ کال د دسمبرمياشت، دکندز ولايت

په ځينو سيمو کې هغه ډلې چې د پخوانيو امنيتي جوړښتونو سره يې تړاو درلود اوس هم د وسله والو ډلو په توګه په داسې حال کې چې منحلې اعلان شوي، خپل فعاليت ته ادامه ورکوي. محلي ټولني اکثره وخت دغو ډلو ته د "اربکيو" په نامه مراجعه کوي. د بيلګې په ډول د فارياب د ولايت د بلچراغ په ولسوالی کې د سي آي پې پخوانی ډلې اوس هم هلته فعالي دي او په منظم ډول له خلکو څخه نا قانونه ماليې راټولوي. د ۲۰۱۲ کال د اکتوبر په مياشت کې د بلچراغ د ولسوالی سپين ږيرو يوناما ته مراجعه وکړه او د سي اي پي د هغه پخواني قوماندان چې په يوه سياسي ګوند پورې تړاو لري د سرغړونو څخه يې شکايت وکړ. سپين ږيرو يوناما ته څرګنده کړه چې وروسته له دې چې د سي اي پي ډله منحله شوه نوموړي قوماندان د محلي خلکو څخه د ماليې په راټولولو پيل وکړ او دا يې اعلان کړ چې د خپلې وسله والې ډلې لپاره چې د امنيت ساتنې ته ادامه ورکوي اړتيا لري.[177]

*له بشري حقونو څخه د سرغړونو په برخه کې د وسله والو ډلو د احتساب نه شتون*

*په پيل کې زموږ رياست په دې کې ډيره ليوالتيا درلودله چې د پنځو تورنو متخلفو کسانو په نيولو کې مداخله وکړي. خو زمونږ ځينو دا جوته کړه چې دا د اربکيانو پر خلاف يو نا سم تور و او دغه نجلۍ يوه فاحشه ده. د حکومت ضد وسلوالو د دغې نجلۍ څخه ناوړه ګټه اخيستې ځو په دې ډول د حکومت اعتبار له منځه يوسي.*

-- د جوزجان ولايت د شبرغان په ښار کې د افغانستان د ملي پوليسو د جندر او بشري حقونو د څانګې مشر هغه مهال چې د پوليسو هغو هڅو ته يې اشاره درلوده چې د وسله والې ډلې د هغو پنځو کسانو د نيولو په برخه کې تر سره شوې چې په يوې اولس کلنې نجلۍ باندې پر جنسي تيري تورن وو.[178]

يوناما ۲۴ داسې پيښې ثبت کړي دي چې په هغو کې چارواکو د وسله والو ډلو هغه کسان نه دي نيولي او تر عدلي تعقيب لاندې يې نه دي راوستي چې د بشري حقونو څخه په سرغړونو باندې تورن وو.[179] په ډيري دغه شان قضيو کې چارواکو ويلي دي چې هغوي يا خو د دې ظرفيت او رسيدنه نه لري او يا دا چې دغه سرغړونې به وڅيړي او ددغو ډلو کسان به ګرفتار کړي.

په ځينو سيمو کې محلي چارواکي نه غواړي د دغه ډول جرمي سرغړونو تفتيش تر سره کړي دا ځکه چې هغوي د غه سرغړونې د محلي قوماندانانو د شخصي دښمنيو پايله بولي. د بيلګې په ډول

[177] په دې راپور کې، افغان محلي پوليس او د ملکي وګړو ساتنه، برخه وګورئ.
[178] د يوناما له خوا د جندر او بشري حقونو د څانګي د مشر سره مرکه، د شبرغان ښار د ۲۰۱۳ کال د جنوری ۹ نيټه
[179] يوناما په شمال کې د چارواکو له خوا څلور نورې قضيې چې په کې د وسله والو ډلو هغه غړي چې د تيريو او سرغړونو له امله نيول شوي او د عدلي تعقيب دلاندې راغلي دي، مستندې کړي دي.

په ۲۰۱۲ کال کې د فاریاب د ولایت د ګورزیوان په ولسوالی کې چارواکو د یوه ډیر ستر جرم او برید د پیښې د تعقیبولو څخه ډډه وکړه چې هلته په یوه روغتیایي کتنځي کې تر سره شوي وه، او یوناما ته و ویل شول چې هغوي دغه قضیه د دوو قومانداانانو تر منځ یوه شخصي شخړه بولي.[180]

په نورو ساحو کې وسله والې ډلې نیغ په نیغه د هغوي د غړو او ملاتړو په وړاندې په قضیو کې مداخله کوي او په دې توګه د قانون د حاکمیت په وړاندې خنډونه را منځته کوي. د بیلګې په ډول د ۲۰۱۳ کال د جنوری په میاشت کې د کندز ولایت چار واکو د یوې وسله والې ډلې د دوو مرستیال قوماندانانو پر خلاف د ګرفتاری جلب لاسلیک کړ چې د کندز ولایت د کانان کلان په کلي کې په ډزو کولو سره یې۱۲ ملکي وګړي و وژل، خو د ګرفتاری د جلب ورقې د وسله والې ډلې د مستیقمې مداخلې له امله اجراء نه شوې.[181]

په دې ډول د ۲۰۱۲ کال د نومبر په ۸ نیټه د ملي پولیسو، څارنوالی او د جنایي جرمونو سره د مبارزې د ریاست د استازو په شمول یو هیآئت د یوې مشهورې وسله والې ډلې د دریو کسانو د نیولو لپاره د کندز د ولایت د نالرغي سیمې ته ولاړ چې په دغو دریو کسانو باندې د یو کس د وژلو تور و. دغه هیآت د یوې وسله والې ډلې د ۵۰ کسانو سره مخ شو. هیات د نیولو د جلب د ورقو د اجراء کولو پرته له کندز څخه را وګرځید.[182]

*په دغې ولسوالی کې د قانون د حاکمیت او بشري حقونو په وړاندې ستره ننګونه د وسله والو ډلو شتون دی. د بیلګې په ډول کله چې ما د یوې نجلی د قضیې په اړه د نیولو دوه جلب پاڼې لاسلیک کړې چې دغه نجلی د ملیشې د یوه قوماندا ن له خوا د واده لپاره پلورل شوې وه نو په دغه برخه کې د پولیسو له خوا هیڅ اقدام ونه شو، ځکه چې قوماندان ډیر نفوذ او ځواک لري. زه یواځې د قلم ځواک لرم او کله چې دغه ځواک د ګرفتاریو په برخه کې کارول کیږي د ټوپک والو کسانو په وړاندې ستره ننګونه نه ده.*

-- د شمال ختیځ د سیمې د یوې ولسوالی څارنوال، جنوري، ۲۰۱۳ کال [183]

چیرته چې چارواکي په دې توانیدل چې مظنونین ونیسي، نو د غه ډول قضیې ډیري وخت د پامه غورځول شوي او د هغوي پر مخ وړل ځنډول شوي دي. د جوز جان په ولایت کې د یوې وسله والې ډلې د اتو غړو له خوا پر یوې اوولس کلنې نجلی د ډله ییز جنسي تیري د

[180] د ګور زیوان د ولسوال او دپولیسو د قوماندان سره دیوناما مرکې، د ۲۰۱۳ کال د جنوری ۸ نیټه، د مزار ښار

[181] د کندز د ولایت د پولیسو د قوماندانی د ویاند سره د یوناما مرکه ،د ۲۰۱۳ کال د جنوری ۹ نیټه، کندز

[182] د یو عیني شاهد او د قرباني د ورور سره د یوناما مرکه، د ۲۰۱۲ کال د نومبر ۱۱ نیټه ، کندز

[183] د شمال ختیځ د سیمې د یو ولایت د څارنوال سره د یوناما مرکه، د ۲۰۱۳ کال د جنوری میاشت

هغې پېښې د تعقیبولو په ترڅ کې چې د ۲۰۱۲ کال د مئ په ۸ نېټه وشوه د اتو مظنونینو له جملې څخه یواځې دوه یې ونیول شول او دغه دواړه کسان لا هم د محکمې انتظار باسي. د محلي چارواکو په وینا د دغې قضیې د څېړلو څنډ له دې امله دي چې د ښاري محکمې او نظامي څارنوال تر منځ په دې اړه مناقشه دوام لري او هر یو اړخ د دې ادعاء کوي چې د وسله والو ډلو د غړو له خوا د سرغړونو په اړه دشخص په وړاندې قضایي صلاحیت شتون نه لري. دغه قضیه او دوسیه د دې له امله په څنډ او په التواء کې ده چې د سترې محکمې هغه حکم په دې برخه کې په سمه توګه او د قانوني صلاحیت په حدودو کې عملي شي.[184]

یوناما د دولت څخه د دې غوښتنه کوي چې وسله والې ډلې منحلې او بې وسلې کړي او د دې لپاره زیاتې هلې ځلې وکړي څو په جګړه ځپلو او لیرې پرتو سیمو کې ښه روزل شوي او په کافي اندازه تجهیز شوي ملي امنیتي ځواکونه ځاي پر ځاي کړي. د هر هغه شخص لپاره د ارزونې امکان باید موجود وي چې د محلي دفاعي جوړښتونو څخه جدا کیږي او په داسې جوړښتونو لکه محلي پولیس کې جذبیږي. بشپړې وسله والې ډلې د انفرادي ارزونو پرته باید په دولتي امنیتي جوړښتونو کې شاملې نه شي. دغه ډول وسله والې ډلې باید وړې وړې کړاي شي، نه داچې هغوي ته لا مشروعیت وبخښل شي.

## ***ماشومان او وسله والې نښتې***

یوناما د افغان هلکانو او نجونو ۱۳۰۲ تلفات (۴۸۸ مړینې او۸۱۴ ټپي کیدنې) په ۲۰۱۲ کال کې چې د ۲۰۱۱ کال په پرتله ډیر لږ کمښت په ګوته کوي، ثبت کړي دي. د ماشومانو تلفات د بیلابیلو تاکتیکونو په پایله کې رامنځته کیږي چې په کې زیاتره ماشومان د تعبیه شوو چاودیدونکو وسیلو او ځمکنیو عملیاتو له امله د تلفاتو سره مخ کیږي.

د دولت ضد عناصرو له خوا ټول ۷۸۸ تلفات (۲۸۳ وژنې او ۵۰۵ ټپي کیدنې) رامنځته شوي دي. دولت پلوه ځواکونه د ۱۷۴ تلفاتو چې په کې ۹۰ مړینې او ۸۴ ټپي کیدنې شاملې دي، مسؤلیت لري. ۳۴۰ د ماشومانو تلفات چاته نه دي منسوب شوي.

ماشومان زیاتره د جګړې د پاتې شونو چاودیدونکو توکو په وړاندې ډیر زیان منونکي دي چې د ملکي تلفاتو د ۲۰۸ څخه چې د جګړې څخه د پاتې شویو چاودیدونکو توکو په پایله کې را منځته شول ۱۶۰یې ماشومان وو، چې دا د جګړې څخه د پاتې شویو چاودیدونکو توکو په پایله کې د تلفاتو ۷۷ سلنه جوړوي. په ۲۰۱۲کال کې یوناما د جګړې څخه د پاتې شویو چاودیدونکو توکو له امله ۲۰۸ ملکي تلفات مستند کړي دي (۷۳ ملکي مړینې او ۱۳۵ ژوبلې) او په همدغه شمیره کې تلفات په ۲۰۱۱ کال کې (۶۹ مړینې او ۱۳۹ ژوبلې) مستندې شوي دي.

---

[184] د جوزجان په ولایت کې د نظامي څارنوال سره د یوناما مرکه ، د ۲۰۱۳کال د جنوری ۹ نیټه، د شبرغان ښار.

لکه چې په تیرو کلونو کې مستنده شوې ده د جګړې د پاتې شونو چاودیدونکو توکو اکثریت قربانیان هلکان وو. په نږدې په ټولو پیښو کې ښکیل ماشومان په ورځنیو فعالیتونو بوخت وو.

*د ماشومانو استخدام او کارول*

په ۲۰۱۲ کال کې یوناما د ۳۹ پیښو معلومات چې په کې د وسله والو ځواکونو له خوا ۱۱۶ماشومان استخدام شوي دي، تر لاسه کړي دي.[185] د دولت ضد عناصر ماشومان د دې لپاره کاروي چې بریدونه تر سره کړي، په کشف کې د محافظ په توګه عمل وکړي او په ځینو حالاتو کې د جنسي موخو لپاره ور څخه کار اخلي. نړیوال قانون په واضحه توګه جنسي ناوړه ګټه اخیستنه او په شخړو کې د ګډون لپاره د ماشومانو استخدام په جنګي جرمونو کې شمیري.[186]

د دغه ډول استخدام راپورونه زیاتره د افغانستان د سهیلي سیمو څخه را رسیدلي. په شمال کې یوازې د فاریاب په ولایت کې د دغه ډول استخدام نهه پیښې ثبتې شوي دي.[187]

ددې با وجود چې د افغان امنیتي ځواکونو له خوا د ۲۰۱۱ کال د جنورۍ په میاشت کې د ملي عمل د هغه پلان د پلي کولو په لړ کې د پرمختګ سره چې د لږ عمر د ماشومانو د استخدام په اړه دي، د هیواد د څارنې او راپور ورکونې کاري ځواک دا یاد داښت کړې ده چې د لږ عمر د ماشومانو استخدام او د افغان امنیتي ځواکونو په تیره بیا د ملي پولیسو له خوا په بشپړه توګه نه دي متوقف شوي . له همدې امله د ماشومانو او و سله والې نښتې په اړه دعمومي سر منشي په ۱۱ کلني راپور کې چې د ۲۰۱۱ کال تحولات په پام کې نیسي او د ۲۰۱۲ کال په اپریل کې نشر شوي دي دهغه په ضمایمو

[185] هغه ارقام چې په وسله واله جګړه کې د ماشومانو په اړه د افغانستان د هیوادني کاري ګروپ له خوا راټول شوي او کره شوي دي. سي ټي ایف ایم ار کې د ملګرو ملتونو موسسې او نورې اړوند سازمانونه لکه چې د ملګرو ملتونو د امنیت د شورا د ۱۶۱۲ ګڼې پریکړه لیک له مخې ورته صلاحیت ورکړل شوي دي څو چې په سیستماتیک ډول په وسله واله نښته کې دماشومانو په وړاندې د شدیدو سرغړونو پلټنه وکړي او راپور یې وړاندې کړي، شامل دي.

[186] د روم د اساسنامې ۸(۲) (ب) ((xxvi) (vii) (e) ماده د ۱۵ کالونو څخه د لږ عمر د ماشومانو په فعالو شخړو کې دعسکر په توګه نیول، په لست کې راوستل جرم بولي که دا نړیوالې او غیر نړیوالې شخړې وې. د جمهور رییس ۲۳۱۲ ګڼه فرمان په واضحه توګه په وسله والو ځواکونو کې د کم عمر کسانو شاملول منع کوي. د دې سره چې د افغانستان امنیتي ځواکونو د لږ عمر د کسانو د استخدام دمخنیوي په برخه کې د ملي عمل د پلان د پلي کولو په لړ کې چې د ۲۰۱۱ کال د جنورۍ په میاشت کې لاسلیک شوي دي پرمختګ کړي دي، د هیواد دڅارنې او راپور ورکولو کاري ډله دا په ډاګه کوي چې د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو او ملي پولیسو له خوا د لږ عمر استخدام په بشپړه توګه نه دي دریدلاي. د وسله والې جګړې او ماشومانو په اړه د سرمنشي په یولسم کالني راپورکې چې د ۲۰۱۱ کال انکشافات یې واضح کړي او د ۲۰۱۲ کال په اپریل کې نشر شوي دي د افغانستان ملي پولیس لا هم د لږ عمر د استخدام په اړه د راپور په ضمیمه کې چې په کې افغان محلي پولیسو ته لا زیاته اشاره شوې، په لست کې ځاي لري. د ۲۰۱۲ کال د مارچ په میاشت کې حکومت خپل لومړي راپور د هغو تدابیرو سره یوځاي چې د عمل په پلان کې وربانډې توافق شوي دي وړاندې کړ.

[187] د هغو نهو پیښو څخه چې د فاریاب په ولایت کې شوي دي دافغانستان امنیتي ځواکونو ۱۱ ماشومان د دولت ضد عناصرو سره د تړاو په تور نیولي دي، څلور یې د افغان محلي پولیسو په کرښو کې استخدام شوي او یو ماشوم ځانمرګي برید تر سره کړي دي. دغه معلومات په ۲۰۱۲ کال کې د ماشومانو او وسله والې جګړې په اړه د هیوادني کاري ډلې له خوا کره شوي دي.

کې چې محلي پولیسو ته په کې اضافي اشاره شوې ده افغان ملي پولیس د لږ عمر د ماشومانو د استخدام په اړه په لست کې راغلي دي.[188]

یوناما که څه هم د حکومت له خوا په دې برخه کې د پرمختګ یادونه کوي خو داسي راپورونه یې تر لاسه کړي دي چې د ۲۰۱۲ کال په نومبر کې د بغلان په ولایت کې د محلي پولیسو یوه قوماندان پنځه هلکان د دوو کلونو لپاره ساتلي وو چې ورڅخه یې د محافظانو او نڅاء کوونکو ماشومانو په توګه کار اخیست. د راپور له مخې د دغو ماشومانو څخه ناوړه جنسي ګټه هم اخیستل کیده. په بله ورته پېښه کې د نومبر په ۸ نیټه د زابل د ولایت د شاه جوي د ولسوالی په بازار ساحه کې دوه ماشومان د تعبیه شوي چاودیدونکې وسیلې د چاودلو له امله ووژل شول. د راپور له مخې محلي پولیسو له هلکانو وغوښتل چې یوه مشکوکه کڅوړه ولټوي چې په هغې کې تعبیه شوي چاودیدونکې وسیله وه چې هغه د نوموړو هلکانو د لټوني پر مهال وچاودیله.[189]

د ماشومانو استخدام د هغو لپاره د دوه ګوني قرباني لامل کیږي یاني ماشومان د بریدونو لپاره استخدامیږي او بیا د بریدونو د تر سره کولو پر مهال وژل کیږي. د ۲۰۱۲ کال په جریان کې یوناما درې قضیې مستندې کړي دي چې په هغو کې درې ماشومان هغه مهال ووژل شول چې ځانمرګي بریدونه یې تر سره کول او نور ۴۸ ماشومان د افغانستان د ملي امنیتي ځواکونو له خوا د هیواد په کچه ونیول شول چې ور باندې د ځانمرګو بریدونو د سرته رسولو تورونه وو. افغان ملي امنیتي ځواکونو همدارنګه ګڼ شمیر ماشومان له دې امله نیولي چې ور باندې د دولت ضد عناصرو سره د تړاو تورونه لګول شوي وو. د بیلګې په توګه د سپتمبر په ۸ نیټه یو ۱۶ کلن ماشوم د کابل په ښار کې یو ځان مرګي برید تر سره کړ چې د هغه په پایله کې نهه ملکي وګړي و وژل شول او ۱۱ تنه نور په کې ټپیان شول. د دغه برید ډیري قربانیان هم ماشومان وو چې په هغو کې څلور تنه د سکیتستان د نا دولتي موسسې زده کوونکي وو.

## *میرمنې، نجونې او وسله واله جګړه*

میرمنې او نجونې د وسله والې جګړې د اغیزو له امله په زیاته پیمانه کې زغم ګالي. د ښځینه ملکي تلفاتو شمیره ۸۶۴ تنه (۳۰۱ مړینې او ۵۶۳ ټپي کیدنې) وه چې په هغې کې د ۲۰۱۱ کال په پرتله

[188] د ۲۰۱۱ کال دجنوری په ۳۰ نیټه د افغانستان حکومت (د کورنیو، عدلیې او دفاع وزیرانو او د ملي امنیت ریاست ) او ملګرو ملتونو د افغانستان د اسلامي جمهوریت او د ا فغانستا ن د ملي امنیتي ځواکونو سره د اړوندو ماشومانو په اړه د ملګرو ملتونو د څارنې او راپور ورکونې هیوادني کاري ډلې ترمنځ د لږ عمر د استخدام او د افغان امنیتي خواکونو له خوا دهغود کارونې د مخنیوي په موخه او د نړیوال بشر دوستانه قانون سره په تضاد کې د هغوي په وړاندې د جنسي تیري ، وژنې او معیوبولو د ضمایمو په شمول لاسلیک شو . یوه کاري ډله چې په کې د وزارتونو استازي شامل وو، جوړه شوه څو د حکومت له خوا د عمل د پلان د پلي کولو په برخه کې راپور ورکړي. د ۲۰۱۲ کال په پیل کې حکومت خپل لومړنی د پلي کونې راپور د وسله والې چګړې او ماشومانو په اړه ځانګړي استازي ته وړاندې کړ. د ماشومانو او وسله واله جګړې په اړه د ملګرو ملتونو د ځانګړي استازي دفتر، افغانستان ، http:// childrenarmedconflict.un.org/countries/Afghanistan/.

[189] د هغو ارقامو له مخې چې په وسله واله جګړه کې د ماشومانو په اړه هیوادني کاري ډلې په ۲۰۱۲ کال کې راټول کړي او کره کړي دي.

۲۰ سلنه زیاتوالي لیدل کیږي. د دغو ښځینه تلفاتو ډیري یې هغه مهال و وژل شوې او یا هم ټپیانې شوې چې هغوی پخپلو ورځنیو کارونو لکه پخپلو کورونو او یا هم په مزرعو کې په کار کولو مشغولې وې. دبیلګې په ډول د جولاي په ۱۳ نیټه د ننګر هار ولایت د خوګیانیو په ولسوالۍ کې د دولت ضد عناصرو د افغان سرحدي ملي پولیسو په پوسته په درنو او سپکو وسلو برید وکړ. د دغه برید په پایله کې یو راکټ په نږدې کور باندې راپریوت چې د هغه له امله یوه میرمن و وژل شوه او دوه ماشومان ټپیان شول.

هغه میرمنې او نجونې چې د ټولو هدفي بریدونو له امله وژل شوي او یا هم ټپیانې شوي دي په ۲۰۱۲ کال کې ۵۱ تنه وې چې دا د تیر په پرتله درې برابره زیاتې دي چې دغه شیمر په ۲۰۱۱ کال کې ۱۶ تنه وې. په عمدې توګه د ښځو هدف ګرځول په ځانګړې توګه په ۲۰۱۲ کې ادامه درلوده . په تیره بیا تر ټولو ښکاره د لغمان د ولایت د ښځو د چارو د دوو ریيسانو وژنې وې چې د جولاي او دسمبر په میاشتو کې د دولت ضد عناصرو له خوا تر سره شوې. د دغو دواړو وژنو په تعقیب سره د دولت ضد عناصرو له خوا د هغو ښځو په وړاندې تهدیدونه شوي دي چې د دولت سره د ښځو د مسلو په اړه کار کوي. د جولاي په ۱۳ نیټه د دولت ضد عناصرو له خوا لغمان ولایت د ښځو د چارو د ریيسې د نقلیه وسیلې سره نښلول شوې مقناطیسي تعبیه شوې وسیله وچادول شوه چې له امله یې د ښځو د چارو ریيسه ووژل شوه، میړه او لور یې ټپیان شول. په همدې توګه د ډسمبر په ۱۰ نیټه دوو وسله والو طالبانو د لغمان د ولایت د ښځو د چارو سرپرسته ریيسه په ډزو و وژله.

په ۲۰۱۲ کال کې یوناما د تعبیه شوو چاودیدونکو توکو د چاودنې له امله د ۲۱۷ ښځینه تلفاتو شمیره ثبته کړې ده چې په ۲۰۱۲ کال کې د تعبیه شوو چاودیدونکو توکو د چاودنې د تلفاتو په شمیر کې نهه سلنه زیاتوالي په ډاګه کوي.

## *وسله واله جګړه او د ښوونې حق*

په ۲۰۱۲ کال کې د جګړې اړونده تاوتریخوالي له امله تعلیم ته رسیدنه د ټول هیواد په کچه په مستقیم ډول اغیزمنه شوې ده. یوناما د معارف پر خلاف د برید کولو ۷۴ پیښې ثبتې کړي دي چې په کې د ښوونځیو سوځول، د ښوونکو او نورو کار کوونکو په وړاندې تهدیدونه، ډارونې، د ښوونځیو په محوطو کې د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو د ځاي پر ځاي کولو، د راکټ د بریدونو، ځمکنیو نښتو،ناځاپې بریدونو او د ښوونځیو داشغال پیښې شاملې دي. په داسې حال کې چې د دولت ضد عناصر د ډیري بریدونو لپاره مسوول وه ، نورې وسله والې ډلې د څلورو پیښو ، محلي پولیس د نهو پیښو لپاره د هیواد په شمال، شمال ختیځو سیمو کې مسؤل وو. یوناما دا کره کړې ده چې ایساف او د افغانستان امنیتي ځواکونه په ۱۱پیښو کې ښکیل وو چې له امله یې د معارف پروسه اغیزمنه شوې ده او د دغو پیښو ډیري یې د ښوونځیو اشغال و.

*د ښوونځیو اشغال*

په ۲۰۱۲ کال کې د ښوونځیو اشغال او د نظامي موخو لپاره د هغو کارونې ادامه درلودله چې دا د ښوونځیو تحفظ شوي حالت تر پوښتنې لاندې راولي او ماشومان د خطر سره مخ کوي. یوناما د ښوونځیو د اشغال د ۱۴ پېښو راپورونه تر لاسه کړي دي.[190] په دغو ډیري پېښو کې د شخړې خواوو ښوونځي د ځانګړو نظامي عملیاتو لپاره په مؤقته توګه اشغال کړي دي. د کاپیسا د ولایت د الساي د ولسوالۍ مشرانو یوناما ته د دې معلومات ور کړي دي چې ملي اردو هلته د یوه ښوونځي د ودانۍ څخه د څلورو کلونو را په دې خوا استفاده کړې په داسې حال کې چې ماشومان د ښوونځي د ودانۍ څخه د باندې په زده کړو بوخت وو. د۲۰۱۲کال د مئ په میاشت کې د بدخشان د ولایت د وردوج په ولسوالۍ کې پولیسو دوه ښوونځي اشغال کړي وو، زده کوونکو او ښوونکو ته یې اجازه نه ورکوله څو د هغوي د اشغال پر مهال ښوونځي ته ننوځي. د دولت ضد عناصرو د ښوونځي پر ودانۍ د راکټ ( ار پي جي) په وسیله برید وکړ او د دغه ښوونځي ودانۍ ته یې د پام وړ تاوان ورساوه. د دولت ضد عناصرو په ځانګړي ډول د وردوج د ولسوالۍ چارواکو ته د دې خبرداري ورکړي و چې که دغه ښوونځي د نظامي موخو لپاره نور وکارول شي نو هغوي به دغه ښوونځي د بریدونو لاندې ونیسي. د جون په میاشت کې د پرله پسې مدافعوي/تبلیغاتي هلو ځلو په پایله کې افغان امنیتي ځواکونو دواړه ښوونځي تخلیه کړل.

یوناما په دې تاکید کوي چې د ښوونځیو د محوطو نظامي اشغال د ښوونځیو ملکي حیثیت او اعتبار ته تاوان رسوي چې دا د نړیوال بشر دوستانه قانون له مخې ممنوع دي او په جدي توګه د ماشومانو مصوونیت، امنیت او معارف ته د لاس رسي په لار کې ګواښ دي.

*دولت ضد عناصرو ته منسوب بریدونه او مداخلې*

> *اسلامي امارت په عمومي صورت په ټول هیواد کې د معارف پر خلاف مقاومت نه کوي. معلومه ده چې اسلامي امارت به د هغه نصاب ملاتړ و نه کړي چې د یرغلګرو له خوا د ناولي او ناپاکه ډالۍ په توګه دي. دا یوه داسې پدیده ده چې له مخې یې تیري کوونکي او د هغوي کورني اجنټان غواړي زموږ اسلامي او ملي ارزښتونه د لویدیز په فرهنګ واړوي. جوته ده چې دا د معارف او تعلیمي موسسو سره مخالفت نه دي. دا یوازې د دغه ډول نصاب تعویض دي.*
>
> -- د معارف په اړه د طالبانو اعلامیه، د ۲۰۱۲ کال د مارچ ۷ نیټه[191]

په ۲۰۱۲ کال کې د طالبانو عامې اعلامیې په تکرار سره د معارف څخه د هغوي ملاتړ څرګندوي او په هغو کې یې د ښوونځیو پر خلاف

---

[190] د افغان نجونو لپاره ارقام د راپور په دواړو برخو کې یاني ښځې او نجونې او ماشومان راټول شوي دي ځکه چې هغوي دوه برابره زیان منونکې دي، د نجونو لپاره ارقام د یوناما په ډیټا بیس اود ملکي تلفاتو په ارقامو کې یوځل مستند شوي دي.

[191] هغه ارقام چې په ۲۰۱۲ کال کې د وسله والې جګړې او ماشومانو په اړه د کاري ډلې له خوا راټول او تحلیل شوي دي.

بریدونه رد کړي دي. په هغه اعلامیه کې چې د ۲۰۱۲ کال د مارچ په اوومه نیټه نشر شوې ده طالبانو دا اعلان کړې ده چې معارف د "نوي نسل یوه اړتیا" ده.

یوناما دا کره کړې ده چې ډیري هغه مستند شوي بریدونه او د معارف په چارو کې د مداخلې پېښې د دولت ضد عناصرو له خوا د طالبانو په شمول تر سره شوي دي. په هغو سیمو کې چیرته چې د نا امنی او د دولت ضد عناصرو د کنترول له امله ځوځښت او نقل حرکت محدود دي معارف ته لاس رسي هم اغیزمن شوي دي او ښوونځي غیر مصوون او غیر فعال وو. یوناما په ګڼ شمیر کې د ښوونکو او ماشومانو د موخه ییزو وژنو، دکار کوونکو د تښتونو، د ښوونکو او ماشومانو د اذیت او تهدیدولو،د ښونځیو د تړلو،د طالبانو له خوا د تش په نامه مقرر شوو کنترولرانو ، او د معارف د تش په نامه کارکوونکو د ټاکلو او د طالبانو د تعلیمي نصاب د پلي کولو پیښې مستندې کړي دي.

سږ کال د جون په میاشت کې د میدان وردک ولایت په میدان ښار، د نرخ او چک په ولسوالیو کې د دولت ضد عناصرو له خوا د تهدید ډکې شب نامې و ویشل شوې چې په هغو کې نجونو ته اخطار ورکړل شوي و چې ښوونځیو ته ولاړې نه شي. دلوګر د ولایت یوه ولسوالي چې د طالبانو تر کنترول لاندې ده یوه سیمه ییز چارواکي یوناما ته و ویل چې په دغه ولسوالی کې د نجونو ښوونځي فعالیت نه کوي. د دې سربیره طالبانو هلته خپل تش په نامه غیر رسمي د معارف رییس ټاکلي دي، مهمه دا چې د دولت له خوا د معارف ټاکل شوي رییس ته هم د اړتیا له مخې "اجازه ورکوي" څو خپل کار پر مخ بوزي او ولسوالی ته سفر ولري. د همدغې سرچینې د وینا له مخې د طالبانو له خوا د معارف دغه ټاکل شوي رییس زیاتره د ښوونکو او زده کوونکو د حاضری څارنه کوي.

په داسې حال کې چې دغه بیلګې د دولت ضد عناصرو نفوذ په ځینو سیمو کې پر معارف باندې جوتوي، زیاتره هغه بریدونه چې د معارف په مرکزونو او کارمندانو باندې تر سره کیږي د دولت ضد عناصرو له خوا د پراخو سیاسي موخو د ملاتړ لپاره لکه څنګه چې په تفصیل سره په وسله واله جګړه کې د ملکیانو د تحفظ په اړه د یوناما د ۲۰۱۲ نیمایي کال په راپور کې یې یادونه شوې ده، تر سره کیږي.[192]

## *وسله واله جګړه او د روغتیا حق: د میدان وردک په ولایت کې د قضیې څیړنه*

په افغانستان کې وسله واله جګړه روغتیایي خدماتو ته رسیدنه د بیلابیلو لارو، په تیره بیا په مستقیم او غیر مستقیم ډول پر روغتیایي مرکزونو باندې د بریدونو د لارې اغیزمنوي. عمومي نا امني دغه ډول روغتیایي مرکزونو ته رسیدنه محدودوي، په تیره بیا په هغو سیمو کې چې د دولت ضد عناصرو تر ولکې یا نفوذ لاندې دي.

---

192 د طالبانو اعلامیه: " د هیواد دننه د معارف وده د اسلامي امارت د اساسي هدفونو څخه دي "، د ۱۴۳۳ کال د ربیع الاخیر ۱۳ نیټه، د ۲۰۱۲ کال د مارچ ۷، د طا لبانو د ویب پاڼې څخه . د ژباړې سرچینه .

په ۲۰۱۲ کال کې یوناما د روغتیایي مرکزونو پر خلاف د مستیقم برید کولو ۲۱ پیښې مستندې کړې دي چې د هغو په پایله کې ۱۲ تنه ملکي تلفات رامنځته شوي دي.[193] دغه تلفات د تعبیه شوو چاودیدونکو وسیلو، موخه ییزو وژنو، اختطافونو، ډارونو او اذیت له امله را منځته شوي دي. په دغو ۲۱ پیښو کې هغه قصدي بریدونه چې په کې روغتیایي مرکزونه او یا هم کارمندان په نښه شوي دي، شامل دي. غیر مستقیم بریدونه په دې شمیره کې نه دي شامل. د دې سربیره په ځینو سیمو کې د امنیتي وضعې ویجاړتیا، د افغانستان د ملي امنیتي ځواکونو او ایساف د عملیاتو لیږد او د دولت ضد عناصرو نفوذ او کنترول هم د دې لامل کیږي چې روغتیایي مرکزونو ته رسیدنه محدودیت ولري.

د میدان وردک په ولایت کې یوناما د روغتیایي مرکزونو او پرسونل پرخلاف ګڼ شمیر بریدونه او د روغتیا پالنې مرکزونو ته په رسیدنه محدودیتونه مستند کړي دي. د روغتیا پالنې مرکزونه په دغه ولایت کې د نا امنۍ او یا هم په هغو لارو چې کتنځیو ته غځیدلي دي د نوو کنترولي پوستو دجوړیدو او د وسله والو ځواکونو د مستقیمو بریدونو او اشغال لاندې راغلي دي او د دې په پایله کې افغان ملي امنیتي ځواکونو پرسونل چې د دغه کلینیکونو څخه چې تر محافظت د لاندې یې دي اوبه تر لاسه کوي او ددې له امله تر برید لاندې راځي.

*د دولت ضد عناصرو بریدونه*

د دولت ضد عناصرو هغه بریدونه چې د ملکي وګړو پر خلاف تر سره کیږي د روغتیایي خدماتو درسولو په لار کې د مستقیم تاوان لامل کیږي، که څه هم دغه مرکزونه په قصدي ډول د برید موخه نه وي. په ۲۰۱۲ کال کې لږ تر لږ د سید اباد په ولسوالۍ او میدان ښار کې دوه روغتیایي مرکزونه د هغو ځانمرګو بریدونو په پایله کې ویجاړ شول چې د دغه ځاي په ښاري مرکزونو کې د طالبانو له خوا ترسره شول. د سپتمبر په لومړۍ نیټه طالبانو په بدن پورې د نصب شوې چاودیدونکي توکي او په نقلیه وسیله کې د نصب شوې چاودیدونکي وسیلې د لارې دوه ځان مرګي بریدونه د سیداباد د ولسوالۍ په مرکز کې تر سره کړل. د دغه برید له امله کلنیک ویجاړ شو او هغو شپږو ناروغانو ته شدید ټپونه واوښتل چې په دغه کلینیک کې د درملنې لپاره منتظر وو.

د میدان ښار په هغه ځانمرګي برید کې چې د نومبر په ۲۳ نیټه تر سره شو د ټولنې د قابله نرسانو د روزنې ښوونځي په بشپړه توګه ویجاړ شو. په دغه برید کې د ښوونځي دوه محافظان ټپیان شول. په دواړو بریدونو کې په سلګونو ملکي وګړو تلفات ولیدل، خصوصي او دولتي ودانیو ته تاوان واوښت – د دې تخریب سربیره روغتیایي

[193] په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو د تحفظ په اړه د یوناما د ۲۰۱۲ کال د نیمایي مودې راپور وګورئ،" د معارف پرضد بریدونه او په چارو کې یې مداخله: تایید شوي بریدونه" ۳۱ پانه په http:// unama.unmissions.org

مرکزونه ورسره ویجاړ شول.[194] په داسې حال کې چې په دغو بریدونو کې نیغ په نیغه روغتیایي مرکزونه نه وو په نښه شوي خو هغو د راتلونکو قابله نرسانو د راتلونکي روزنې کار ته تاوان واړاوه او په دواړو محلاتو کې یې روغتیایي خدمتونه مختل کړل.

*روغتیایي کتنځیونو ته ځیرمه د افغان امنیتي ځواکونو کنترولي پوستې*

یوناما د میدان وردک په ولایت کې د داسې اقداماتو مشاهده کړې ده چې له مخې یې روغتیایي مراقبت ته رسیدنه اغیزمنه شوې ده، په تیره بیا کله چې د روغتیایي مرکزونو په محوطه کې نوې امنیتي پوستې جوړې شوي دي. د دولتي مقاماتو د قوله دغه چیک پوستونه روغتیایي کارکوونکو او موسسو ته د زیاتو تهدیداتو ته او دي ضرورت ته په په غبرګون کې جوړي شوي دي څو چې د کارمندانو تحفظ وکړي او محلي ټولنو ته روغتیایي خدمتونه ورسوي.[195]

د بیلګې په ډول د جولاي په ۲۸ نیټه د نرخ د ولسوالی په یوه کلینیک کې د تعبیه شوي چاودیدونکې وسیلې د چاودنې په پایله کې د ملي اردو یو تن سرباز هغه مهال ټپي شو چې د دغه کلینیک د ځاء څخه یې اوبه رااېستلې. ملي اردو دغه کلینیک د یوې ورځې لپاره وتاړه او کله چې د کلینیک چارواکو د ملي اردو سره مذاکره وکړه نو بیرته پرانیستل شو. د دغې پېښې وروسته ملي اردو د دغه کلینیک څخه د خپلې پوستې لپاره د اوبو رااېستلو کار ته ادامه ورکړه. په همدې ډول د نومبر د میاشتې په لومړۍ نیټه د جلریز په ولسوالی کې د محلي پولیسو یو تن د دولت ضد عناصرو له خوا هغه مهال په ډزو و وژل شو چې د یوه کلینیک څخه یې اوبه رااېستلې.

*د چک په ولسوالی کې د ایساف او افغان ملي اردو له خوا په مؤقت ډول د کلینیک اشغال*

د ۲۰۱۲ کال د اکتوبر په ۲۳ نیټه د امریکا د متحده ایالاتو ځانګړي ځواکونه او افغان ملي اردو د میدان وردک د ولایت د چک د ولسوالی په سیواک کې د یوې نا دولتي موسسې کلینیک ته ننوتل او هغه یې د درې ورځو لپاره په اختیارکې درلود. یوه نرسه او د هغې میړه دې ته اړباسل شول چې دغه مرکز پریږدي. په دغو دریو ورځو کې کلینیک تړلي و او دولت پلوه ځواکونو ورځخه د مؤقت توقیف خونې په توګه استفاده کوله. نظامیانو د سیمې ګڼ شمیر وګړي هلته توقیف کړل چې بیا وروسته پریښودل شول.[196]

[194] په پرتله ییز ډول په ۲۰۱۱ کال کې ۱۰ بریدونه مستند شوي دي چې شپږ ملکي تلفات یې رامنځته کړي دي.
[195] هغه بریدونه چې د سپټمبر په لومړۍ نیټه تر سره شول د نهو تنو ملکیانو دمړینې او د نورو ۶۸ تنو د ټپي کیدنې لامل شول؛ اود نومبر په ۲۳ نیټه ځان مرګي برید کې څلور ملکیان ووژل شول او نور ۱۶۷ تنه ټپیان شول.
[196] د بهرنیو چارو د وزارت سره د یوناما غونډه د ۲۰۱۳ کال د فبروری ۱۸ نیټه، کابل

د میدان وردک څخه د ملي اردو یوه قوماندان یوناما ته دا و ویل چې هغوي د ملي اردو قوماندانانو ته په واضحه توګه ټولو قطعاتو ته دا هدایت ورکړي دي چې د روغتیایي، تعلیمي او مذهبي مرکزونو څخه د نظامي عملیاتو پر مهال ځان لیرې وساتي. قوماندان دا وویل چې بیا هم ځیني سربازان د عملیاتو پر مهال د دې هدایاتو څخه سرغړونه کوي، په تیره بیا په لیرې پرتو سیمو کې او یا هم د شپې پر مهال په عملیاتو کې دغه سرغړوني صورت نیسي. په داسې حال کې چې د کومې ځانګړې پیښې په اړه هغه څه و نه ویل خو د ملي اردو قوماندان دا تایید کړه چې ځیني وختونه "ډیره زیاته لوژیستیکي اړتیا" وي چې د هغې له مخې سربازان په عمل کې دې ته اړ وي چې روغتیایي مرکزونو ته ننوځي.[197]

ایساف یوناما ته دا څرګنده کړې ده چې د چک د ولسوالۍ پیښه یوه ځانګړې جلا پیښه وه او دا چې قطعات په دې نه پوهیدل چې هغوي روغتیایي مرکز ته ننوتي دي او کنه ځکه چې د دغې ودانۍ د پاسه لوحه نه وه. [198] کله چې قطعاتو ته معلومه شوه چې هغوي یوه روغتیایي مرکز ته ننوتي دي نو بیا هغوي له دې وروسته د دغې ودانۍ د اوسیدنې ځای ته ورغلل او له هغه ځایه یې عملیات پر مخ بوتلل. د ایساف یوې مقدماتي څیړنې دا څرګنده کړه چې د هغوي ځواکونه د دغې ودانۍ محوطې ته د شورشیانو د فعالیتونو او د کلینیک د ستراتیژیک موقعیت له امله ننوتل. د امریکا د متحده ایالاتو ځانګړو ځواکونو یوناما ته وړاندې وویل چې ځواکونه دغې ودانۍ ته د دې لپاره ننوتل چې د یاغیانو له خوا پر هغوي باندې د روانو ډزو او اور څخه ځانونه وژغوري.[199]

یوناما د نړیوال بشر دوستانه قانون لاندې د دې دوو یو له بل سره تړلو مکلفیتونو یادونه کوي: طبي پرسونل او روغتیایي طبي واحدونه یوائې او یوائې د طبي اهدافو لپاره دي او دا چې د هغو درناوي باید په ټولو حالاتو کې وشي. هغوي چې یو برید پلان کوي باید هر ممکن څه د دې لپاره تر سره کړي څو دا کره کړي چې هدفونه نه خو ملکي وګړي او نه هم ملکي تاسیسات دي، بلکې هغه نظامي موخې دي.[200]

که څه هم دغه ځواکونه چې په پیښه کې شامل وو د دې استدلال کوي چې دوي د ننوتو پر مهال په دې نه پوهیدل چې دغه محل یو طبي مرکز و، د دې سره دوي په جوته توګه په دې مکلف کیدل چې دغه برید لغوه کړي او یا یې هم ځنډولي واي. هلته د پاتې کیدو او د درې ورځو لپاره د دغه محل اشغال او د محوطې په دننه کې د

---

[197] د شکایت د هغه لیک له مخې چې د نوومبر په ۸ نیټه د افغانستان لپاره د سویډن د کمیټې له خوا د عامې روغتیا وزیرې ته د دغې کمیټې د کلینیک د اشغال له امله استول شوي و. یوناما دغه پیښه وڅیړله او دغه ډول تفصیلات یې کره کړل.

[198] د او سي سي پي له قوماندان سره د ۲۰۱۲ کال د دسمبر په میاشت کې غونډه، میدان شهر د میدان وردک ولایت .

[199] ایساف د دې راپور ورکړ چې هغوي په دې اړوند څیړنه کړې ده چې د هغې له مخې دغو پایلو ته رسیدلي دي. د یوناما له خوا د ایساف د جګړن ادم فیندالي ، IJC/Dcomm سره د ۲۰۱۳ کال د جنورۍ په ۷ نیټه او د امریکې د متحده ایالاتو د ځانګړو ځواکونو د ډګروال دونالد بولدک DCG, SOJT- A/NSOCC-A سره د ۲۰۱۳ کال د جنورۍ په ۱۴ نیټه غونډې.

[200] مخکني ماخذ

ملکیانو په توقیف کې ساتلو سره هغوي عملاً د انطباقي نړیوال بشر دوستانه قانون څخه سرغړونه کړې ده. د دې سربیره د نړیوال بشر دوستانه قانون له مخې اردو باید تر ممکنه بریده په هغو ساحو کې چې د نفوسو د ګڼې ګوڼې سیمې دي د نظامي تاسیساتو (لکه د سربازانو ټولګي) د ځای پر ځای کولو څخه مخنیوي وکړي، او د دې لپاره هر ممکن عمل وکړي څو چې ملکیان او ملکي تاسیسات (لکه طبي وسایل) د نظامي عملیاتو د نږدې والي څخه لیرې کړي.[201]

## د جګړې اړوند د ملکي وګړو بې ځایه کیدنه

په ۲۰۱۲ کال کې افغان ملکي وګړي په عمده ډول د وسله والو نښتو له امله په پرله پیسي ډول بې ځایه شویدي.. د ملګرو ملتونو د کډوالو چارو د عالي کمیشنرۍ (یو این ایچ سي ار) د وینا له مخې په ۲۰۱۲ کال کې ټولټال ۹۴۲۹۹ نوي کسان په هیواد کې بیځایه شول. د جګړو له امله د کورنۍ بیځایه شوو کسانو ټولټال شمیر په افغانستان کې ۴۸۶۲۹۸ تنو ته رسیږي[202]، چې د دغو کسانو زیاتره تمرکز د افغانستان په جنوب کې دي، او ور پسې لویدیځې او ختیځې سیمې دي.

په ۲۰۱۲ کال کې د کډوالو په چارو کې د ملګرو ملتونو عالي کمیشنرۍ د ۱۰۹۱۵۸ هغه داخلي بیځایه شوي کسان ثبت کړل چې د ۲۰۱۲ کال تر مخه د جګړې له امله بیځایه شوي وو. په ۲۰۱۲ کال کې د ټولټال ثبت شو و (۲۰۳۴۵۷ کسانو) بیځایه کیدنه ۲۰ سلنه زیاتوالی د۲۰۱۱ کال په پرتله جوتوي چې په همدغه کال کې ۱۸۵۶۲۵ تنه بیځایه شوي کسان ثبت شوي وو.[203]

د ۹۴۲۹۹ کسانو څخه چې نوي په ۲۰۱۲ کال کې بیځایه شول ۳۸ سلنه یې مرکزي سیمو، ۲۲ سلنه یې لویدیځو سیمو او ۱۳ سلنه یې شمالي صفحاتو او ۱۱ سلنه یې د سهیل سیمې ته بیځایه شوي دي. د ۲۰۱۲ کال په اوږدو کې د کډوالو په چارو کې د ملګرو ملتونو عالي کمیشنرۍ د جګړې له امله په پرله پسې ډول د ۱۰۹۱۵۸ کسانو بیځایه کیدنه ثبت کړې ده چې هغوي د ۲۰۱۲ کال ترمخه بیځایه شوي وو.[204]

د یو این ایچ سي ار د وینا له مخې په ۲۰۱۲ کال کې د جګړې له امله د بیځایه کیدنې زیات عام لاملونه وسله واله جګړه او دښمنانه نښتې وې چې په عامه توګه د امنیتي حالت ویجاړتیا ورسره دوهم نږدې لامل ګڼل کیږي. په نورو مهمو عواملو کې د دولت ضد عناصرو له خوا ډارونې، تهدیدونه، نظامي عملیات او هدفي عدلي تعقیبونه شاملي دي.

---

[201] د یوناما او د پروفیسور ډاکټر کیون جان هیلر او د ملبرن د حقوقو د پوهنتون د ریډر سره د یوناما د بریښنا لیک د لاري اړیکه ، د ۲۰۱۳ کال د جنوری ۱۵ نیټه.
[202] مخکني ماخذ
[203] د ۲۰۳ کال د جنوری تر ۱۷ نیټې پورې د یو این ایچ سي ار ارقام .
[204] د " په ۲۰۱۲ کال کې د جګړې له امله د ملکي وګړو بیځایه کیدنه" په اړه د یو این ایچ سي آر یاد داښت، چې د ۲۰۱۳ کال د جنوری په ۱۷ نیټه یوناما ته سپارل شوي دي.

د یو این ایچ سي ار ارزوني دا په ډاګه کوي چې د تیرو کلونو پر خلاف کله چې به داخلي بیځایه شوي کسان په عمومي صورت د جګړې او نښتې د پاي ته رسیدو سره تر کافي بریده ډیر ژر خپل د اوسیدنې اصلي ځاي ته راستنیدل، خو اوس داخلي بیځایه شوي کسان په زیاته پیمانه د بیځایه کیدنې په ځایونو کې د عامې امنیتي وضعې د خرابیدو او د دولت ضد عناصرو له خوا د تهدیدونو د زیاتوالي په وجه او هم د خپلې اوسیدنې په ځاي کې د شتمنیو او معیشت د لاسه ورکولو له کبله د اوږد مهال لپاره پاتې کیږي.[205]

## *د پولې د بلې خوا راکټي بریدونه*

په ۲۰۱۲ کال کې یوناما د افغانستان په ختیځه سیمه کې د پولې د بلې خوا څخه د راکټي بریدونو ۲۰۶ پیښې ثبتې کړي دي چې د هغو له امله ۱۲ ملکیان مړه او نور ۶۳ تنه ټپیان شول.[206] د هغو اوو پیښو پرته چې په نورستان او ننګر هار کې وشوې [207] نورې ټولې پیښې د کنړ په ولایت کې او زیاتره یې د دانګام په ولسوالی کې[208] تر سره شوي دي. د ملکي تلفاتو سربیره یوناما ته دکورونو، جوماتونو او ځنګلونو د تخریب، دڅارویو د تلف کیدنې او د کورنیو د بیځایه کیدنې راپورونه رسیدلي دي.

د یو این ایچ سي ار د وینا له مخې ټولټال ۷۷۴ کورنی (۴۶۲۵ تنه) دختیځ سیمې دننه او یا هم د هغې د باندې د پولې د بلې خوا د راکټي بریدونو له امله بیځایه شوي دي. یو این ایچ سي ار راپور ورکړي چې د ۷۷۴ کورنیو څخه ۷۶۰ (۴۵۳۳ تنه) یې د کنړ د ولایت د دانګام د ولسوالی څخه وې. زیاتره کورنی د کنړ د ولایت بیلابیلو سیمو ته او ۴۰ کورنی (۲۲۸ کسان) د ننګرهار ولایت ته بیځایه شوي دي.

د راکټي بریدونو له امله د افغاني ټولنو،حکومت او سیاسي مشرانو احتجاجونه راوپاریدل.[209] د اګست په ۴ نیټه د افغانستان ملي شورا د دې پریکړه وکړه چې د دفاع وزیر جنرال عبدالرحیم وردک او د کورنیو چارو وزیر بسم الله محمدي د خپلو دندو څخه د دې له امله لیرې کړي چې د پولې د هغه خوا راکټي بریدونو ته یې غبرګون نه دي ښکاره کړي.[210]

---

205 مخکني ماخذ

206 د " په ۲۰۱۲ کال کې د جګړې له امله د ملکي وګړو بیځایه کیدنه" په اړه د یو این ایچ سي آر یاد داښت، چې د ۲۰۱۳ کال د جنوری په ۱۷ نیټه یوناما ته سپارل شوي دي.

207 یوناما د پولې د بلې خوا د راکټي بریدونو پلټنه کوي او د کره کولو لپاره د بیلابیلو سرچینو څخه د هرې پیښې په اړه معلومات راټولوي چې په کې قربانیان، سپین ږیري، ډاکټران، ملي پولیس، افغان ملي سرحدي پولیس، ملي امنیت شامل دي . یوناما د ملکي تلفاتو ارقام تر غور لاندې نیسي، چې په هغو کې ۱۲ تنه وژل شوي ،۶۳ تنه ټپیان، ترهغه بریده چې څومره په کره توګه یوناما وکړاي شول چې د قربانیانو او د هغوي د کورنیو سره په ډیري پیښو کې مرکې وکړي. کله چې لومړنی سرچینې د لاس رسي وړ نه وې نو بیا یې دغه تلفات د محلي چار واکو او د دوهم لاس د سرچینو سره کره کړي دي.

208 هغه نورې اوه پیښې د نورستان په کامدیش کې (۵) او د ننګرهار په لعل پوره ولسوالی (۲)کې وشوې .

209 د ۲۰۶ پیښو څخه ۱۶۱ یې دانګام د ولسوالی اړوندې وې.

210

### تر خاورو لاندې تعبیه شوي چاودیدونکي توکي: د ملکي کسانو په ژوند د ښخ شویو او د پخوانیو جګړو څخه د پاته شونو تعبیه شویو چاودیدونکو توکو اغیزې

*په دغه ولسوالي کې د ملکي کسانو ژوند ډیر ستونزمن دي. له یوي خوا، کله چې طالبان تعبیه شوي چاودیدونکي توکي ښخ کړي، د طالبانو د غبرګون د ویري له امله ملکیان نه شي کولاي هغه چاودیدونکي توکي خنثي کړي، که چیرې ملکیان دا کار وکړي نو طالبان به یې ووژني. له بلي خوا، حکومت په خلکو فشار اچوي څو ووایي چې د هغوي په کلیو کې چیرې او ولې طالبان تعبیه شوي چاودیدونکي توکي خښوي. خلک حکومت او طالبانو ته ځواب نه شي ویلاي. ملکي کسان په منځ کې راګیر دي، او همیشه د ستونزو سره مخ دي. د خلکو د ستونزو د هواره ولو لپاره کومه درېمه سرچینه شتون نه لري.*

-- د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو د پیښو د لوړي کچې د خپوروالي په اړه د کندهار ولایت د یوې ولسوالي ولسوال[211]

د افغان ماشومانو، ښځو او نارینه وو د ژوند په وړاندې تعبیه شوي چاودیدنکي توکي د شخړې سره د تړلو ګواښونو له جملې څخه ستر ګواښ ګڼل کیږي چې په ۲۰۱۲ کال کې د ټولو ملکي کسانو د ټپي کیدو او مړینو ۳۳ سلنه جوړوي. د ۲۰۱۲ کال د نومبر او ډسمبر په میاشتو کې، یوناما د هیواد په جنوبي او جنوب ختیځو سیمو کې، چیرې چې د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو او پیښو کچه زیاته وه[212] د ټولنو د مشرانو، د ولسوالي د چارواکو او محلي اداري او همدارنګه د هغوي په ټولنو کې د تعبیه شویو چاودیدنکو توکو د شتون او د ملکي کسانو د ساتنې په هکله د چاودیدونکو توکو د اغیزو په هکله د محلي خلکو سره سلا مشورې تر سره کړي.[213]

[211] د کندهار ولایت د یوي ولسوالي د ولسوال سره د یوناما مرکه(د امنیتي لاملونه لپاره د نوموړي شناخت پټ ساتل شوي. د۲۰۱۲ کال د ډسمبر ۱۲

[212] د هلمند ،کندهار او خوست په ولایتونو کې، په ۲۰۱۲ کا ل کې تعبیه شوي چاودیدونکي توکي د۹۵۷ ملکي کسانو د تلفاتو لامل و. په پرتله ایز ډول،په ۲۰۱۱ کال کې په دغو ولایتونو کې تعبیه شوي چاودیدونکي توکي د ۸۵۸ ملکي کسانو د تلفاتو لامل شوي. پداسې حال کې چې دغه شمیري د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو په نتیجه کې د رامنځ ته شویو تلفاتو په کچه کې ۱۲ سلنه زیاتوالي ښي، دا شمیرني د فزیکي زیان اندازه ښي او په دغو سیمو کې د بشري حقونو د مسایلو د پراخ مقصد کوم چې د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو د شتون سره تړاو لري نه انعکاس کوي.

[213] د ۲۰۱۲ کال د سپټمبر څخه د ایساف د عامه معلوماتو مطابق، د نهرسراج، خوست،ژیړي،کندهار، او د هلمند د ولایت د پنجوایي ولسوالي ،خوست او د کندهار ولایتونه د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو د فعالیت او تلفاتو د پیښو له لحاظه تر ټولو زیانمنونکي سیمي دي.ایساف: د چاودیدونکو توکو په اړه د پوهاوي روزنه:د تلفاتو تمرکز، ۲۰۱۲ کال سیپټمبر. په خوست، نهرسراج،او کندهار کې د انتقال د پروسي په دریم پړاو کې امنیتي انتقال افغان ځواکونو ته پیل شو (د ۲۰۱۲ کال په مي کې پیل شو)، د پنجوایي او ژیړي په ولسوالیو کې د امنیتي مسولیتونو انتقال په ۵ پړاو کې په نظر کې نیول شوي. څلورم پړاو د ۲۰۱۲ کال د ډسمبر په ۳۱ اعلان شو، او ۵ پړاو لا تر اوسه نه دي اعلان شوي.

ټولنو په دوامداره توګه راپور ورکړي چې د هغوي ژوند[214] ته د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو د ګواښ سربیره، د پخوانیو جګړو څخه د پاتې شویو تعبیه شویو چاودیدونکو توکو شتون، ښخ شوي او پا تې ناچاودي توکي د ډار او نا امني چاپیریال رامنځ ته کوي، ټولني د مرګ، معیوبیت، جدي ټپي کیدو او د ملکي جایدادونو د له منځه وړلو له دوامداره ګواښ سره مخامخ کوي. په هغو سیمو کې چې د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو د اصابت له امله متاثره شوي د اساسي بشري حقونو څخه برخمن کیدل په خاص ډول،د خوځښت ازادي،د معیشت حقونه، سیاسي ګډون، معارف او روغتیا په جدي توګه محدوده شوي. په داسې حال کې چې په ۲۰۱۲ کال کې د هیواد په یو شمیر زیاتو سیمو کې د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو د کشف، ایستلو او خنثي کولو چارو دوام درلود، د ایستلو د چارو لپاره موجودو سرچینو اړتیاوو ته ځواب نه دي ویلي. په ولسوالیو کې په هغو ټولنو کې چیرې چې زیات تعبیه شوي چاودیدونکي توکي موجود و، که چیرې څوک افغان امنیتي ځواکونو ته د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو ځای ځایګی ور وښي د حکومت ضد عناصرو لخوا د جدي غبرګونونو سره مخامخ شویدي.

د ځوابویونکو سره خبرو اترو داسې یو عمومي درک څرګند کړي چې افغان امنیتي ځواکونه په اوس حال کې د دې ظرفیت نه لري څو په موثره توګه ټول تعبیه شوي چاودیدونکي توکي، په خاص ډول هغه چې د پخوانیو جګړو څخه په میراث پاته شوي، پاک کړي (پاته شوني تعبیه شوي چاودیدونکي توکي). په هغو سیمو کې د پاته شونو یا فعالو تعبیه شویو چاودیدونکو توکو ځای په ځای کول کوم چې د دولت ضد عناصرو تر کنترول او یا اغیزي لاندې وي د یوې اصلي اندیښني په حیث په ځای پاتې دي. د ټولنو غړو یوناما ته ویلي چې کله افغان ملي ځواکونو تعبیه شوي چاودیدونکي توکي پاک کړي، د حکومت ضد عناصر آکثرا په فوري توګه بیا هغه ځای په ځای کوي چې دا ټولنې د خطر سره مخ کوي.

دغو سرچینو همدارنګه ویلي چې ایساف او افغان ملي امنیتي ځواکونو د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو د له منځه وړلو ډلې دهغه چاودیدونکو توکو د لمنځه وړولو باندې تمرکز کوي چې په نظامي لارو کې ایښودل شوي او دغه د ملکي کسانو په موقعیتونو کې د تعبیه شوي چاودیدونکي توکي دملکي کسانو په بیه تماميږي. له دې امله، د چاودیدونکو توکو د خنثي کولو د ټیمونو او همدارنګه د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو د لوړې کچې د غوښتني له امله، په ملکي موقعیتونو کې د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو په اړه د افغان ملي امنیتي ځواکونو لخوا ټولنو ته خبرداري اکثرا ډیر په ځنډ ورکول کیده. د بیلګې په توګه، د هلمند ولایت د نهرسراج په ولسوالي کې، یوې محلي سرچینې

---

[214] په ښخ شویو تعبیه شویو چاودیدونکو توکو کې فشاري (PPIEDs ) د مزو او ریموټ کنترول په واسطه کنترول کیدونکي تعبیه شوي چاودیدونکي توکي، چې ممکن فعال او یا هم نه وي، شامل دي. د پخوانیو جګړو څخه پاتې شوي تعبیه شوي چاودیدونکي توکي هغو تعبیه شویو چاودیدونکو توکو ته راجع کیږي چې د پخوانیو جګړو پر مهال ځای پر ځای شوي وي چې ممکن فعال او یا هم فعال نه وي، د وسیلي د ماشي لپاره بطري ښایي له کاره لویدلي او یا هم وسیله نه وي فعاله شوي.

يوناما ته وويل، له هغه ځايه چې ايساف او افغان ملي امنيتي ځواکونه اکثرا په ځنډ سره د پيښې ځاي ته رسيږي څو تعبيه شوي چاوديدونکي توکي خنثي کړي، محلي نه روزل شوي افغان ملي پوليس په خپله تعبيه شوي چاوديدونکي توکي خنثي کوي او کله هم د افغان محلي پوليسو لخوا ور سره مرسته کيږي.

ټولنو يوناما ته ويلي، هغه پرمختګونه چې د تعبيه شويو چاوديدونکو توکو د پاکولو د عملياتو له طريقه ترلاسه شوي نه دي ساتل شوي او په يو شمير زياتو مواردو کې په هغو ځايونو کې چې وار د مخه پاک شوي وي د دولت ضد عناصرو لخوا بيرته تعبيه شوي چاوديدونکي توکي ځاي په ځاي شوي دي. د کندهار ولايت په ژيړي ولسوالي کې محلي مشرانو يوناما ته ويلي چې د تعبيه شويو چاوديدونکو توکو د بيا ځاي په ځاي کولو د مخنيوي په برخه کې کمه پاملرنه شوې. د دې سربيره، په هغو سيمو کې چې د حکومت ضد عناصرو د واک او يا کنترول لاندې دي هغوي ته د ورځې/شپې لخوا دا اجازه ورکوي چې د افغان ملي امنيتي ځواکونو په نه شتون کې د شپې لخوا راځرګند او د کوم مزاحمت نه پرته[215] دا تعبيه شوي چاوديدونکي توکي بيا ځاي پر ځاي کړي. د کندهار ولايت د پنجوايي او ميوند په ولسواليو کې په يو شمير کليو کې ورته وضعيت راپور شوي.

د ټولنو سره د يوناما په خبرو کې په ډاګه شوې هغه سيمې چې د دولت ضد عناصرو تر سخت کنترول او اغيزي لاندې وي د تعبيه شويو چاوديدونکو توکو د شتون او موقعيت په اړه د دولت ضد عناصرو او ټولنې د غړو تر منځ اکثرا د اړيکو ښه شبکه موجوده وي. په داسې حال کې چې د تعبيه شويو چاوديدونکو توکو د شتون په اړه د حکومت ضد عناصرو لخوا ملکي کسانو ته اکثرا خبرداري ورکړل شوي، د ملکي کسانو د تلفاتو د کچې د راټيټولو تر څنګ، ددې ستراتيژي د ملاتړ په موخه يو لړ پراخ ملاحظات موجود و. د ملکي کسانو د ساتنې عام تظاهر د ټولنې د ملاتړ د ساتلو لپاره مهم دي او د افغان دولت ضد عناصرو لخوا د يوې ولسوالي او يا يوې سيمې کنترول ته په احتمالي توګه د يوه بشپړونکي عنصر په حيث کتل کيږي[216]. په پرتله ايز ډول، د ټولنو لخوا د زيات احتمال له مخې افغان ملي امنيتي ځواکونو ته د تعبيه شويو چاوديدونکو توکو د ځاي ځايګي په هکله د اطلاع او د خپل هدف څخه د ويشتلو وړاندې د دغو تعبيه شويو چاوديدونکو توکو د پاکولو له ويرې، په هغو سيمو کې چې په جزيي او يا تنزيلي/تقليل شوي ډول د حکومت ضد عناصرو تر کنترول لاندې وي، د دولت ضد عناصرو څخه د تعبيه شويو

[215] په پوځي شخړه کې د مکي کسانو د ساتنې په هکله د يوناما د ۲۰۱۲ کال ۶ مياشتني راپور ته مراجعه وکړئ، د حکوکت ضد عناصرو تر ولکې لاندې سيمو کې بشري حقونه.
http://unama.unmission.org/Portals/UNAMA/documents/UNAMA%20POC%202011%20Report Final Feb% 202012>pdf.

[216]يوناما مشاهده کړې چې په هغو سيمو کې چيرې چې د حکومت ضد عناصر د خپلو فعاليتونو او شتون په برخه کې د ټولنې د ملاتړ په راجلبولو کې پاتې راغلي، هلته ددې زيات امکان چې خلک د افغان ملي امنيتي ځواکونو او افغان حکومت سره همکاري وکړي موجود دي او يا په قهرجن ډول د حکومت ضد عناصرو د کنترول په وړاندې مقاوت وکړي، او په پايله کې د حکومت ضد عناصر کمزوري کوي. ددې ښه بيلګه په ۲۰۱۲ کال کې د غزني د ولايت د انډرو په ولسوالي کې پاڅون دي چې په دې راپور کې پورته ورته يادونه شوي.

چاودیدونکو توکو د ځای ځایګی په هکله ټولنو ته په نادره توګه خبر ورکول کیږي.[217]

یوناما ټینګار کوي، باید هڅې زیاتې شي څو د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو د مخنیوي ملي ستراتیژي، کومه چې د افغانستان د ملي امنیت شورا لخوا د ۲۰۱۲ کال د جون د میاشتې په ۲۴ نیټه تصویب شوې په بشپړه توګه پلي کړي. د ۲۰۱۲ کال د جولای د میاشتې راهیسې، افغان ملي امنیتي ځواکونو د ایساف په ملاتړ د (اي او ډي) سامان الاتو د ویشلو او چمتو کولو په برخه او د کنترول او قوماندې په شه کولو کې د پام وړ لاسته راوړني تر لاسه کړي. افغان ملي امنیتي ځواکونو د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو د مبارزې په چارو کې او همدارنګه د اي او ډي/د چاودیدونکو وسیلو د خنثي کولو د ظرفیتونو د پیاړوي کولو په برخه کې خپلې روښانه ژمنې ځرګندې کړي. د هیواد په کچه، د افغان ملي امنیتي ځواکونو اوسني تشکیل د افغان ملي پوځ ۲۳۰ اي او ډي/د چاودیدونکو وسیلو د خنثي کولو د ټیمونو او افغان ملي پولیسو ۸۸ اي او ډي/ د چاودیدونکو وسیلو د خنثي کولو ټیمونو ته سرچینې او پوستونه اختصاص کړي. که څه هم چې د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو د اوسني ګواښونو سره د مبارزې په موخه بشپړ روزل شوي او تمویل شوي تشکیل چې ورته وړتیاوي ولري کافي دي، خو دې موخو ته د رسیدو په برخه کې افغان ملي پوځ او پولیس پاتې راغلي.

د ۲۰۱۳ کال د جنوري د میاشتې راهیسې، افغان ملي پوځ ۴۸ عملیاتي ماین خنثي کونکي ټیمونه او افغان ملي پولیسو ۸ ماین خنثي کونکي ټیمونه درلودل. افغان ملي امنیتي ځواکونو د افغان ملي پوځ او افغان ملي پولیسو روزنې، تمویل او ځای په ځای کولو هڅو ته دوام ورکړې خو د یو شمیر ننګونو سره مخ شوي، د بیلګې په توګه، د روزنو په برخه کې د اي او ډي په هکله د افغان ملي امنیتي ځواکونو ساتنه. دبیلګې په توګه، د کورنیو چارو د وزارت د مزار شریف د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو/ د اي او ډي په ښوونیز ښوونځي کې د ځواکونو د کناره کیدو میزان ۱۵ سلنه دي. ایساف د آی اي ډي/اي او ډي ښوونځي سره خپل کار ته دوام ورکوي څو خپل پروګرامونو وغزوي او د هغو ملاتړ وکړي، دا ډول هڅې به له اوس نه تر ۲۰۱۴ کال پوري دوام ومومي څو وکولای شي د افغان ملي امنیتي ځواکونو ظرفیت پیاوړي کړي.[218]

---

[217] د افغانستان د حکومت تر کنترول لاندې سیمو او د دولت ضد عناصرو تر کنترول ا و یا نفوذ لاندې سیمو تر منځ توپیر د ملکي کسانو د تلفاتو په شمیر کې چې د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو په نتیجه کې را منځ ته کیږي په ډاګه شوي. د بیلګې په توګه، په ۲۱۲ کال کې، د خوست ولایت د خوست متون په ولسوالي کې چې د حکومت تر کنترول لاندې ده، یوناما د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو په ۳۶ پیښو کې د ۱۵۳ ملکي کسانو د تلفاتو شمیر ثبت کړي، او د خوست ولایت د صبریو ولسوالي چې د دولت ضد عناصرو تر کنترول لاندې دي ، یوناما د تبیعه شویو چاودیدونکو توکو په ۱۱ پیښو کې د ۱۹ ملکي تلفاتو پیښې ثبت کړیدي.

[218] د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو د مبارزې د مشر سره د یوناما مرکه، ۲۰۱۳ کال، د جنوري ۱۴، د ایساف مرکزي دفتر، کابل

یوناما خپلې سپارښتنې بیا تکراروي چې افغان ملي امنیتي ځواکونه دې د اصلي لومړیتوبونو په حیث روزنې او د لیډرشیپ پرمختیا ته دوام ورکړي. حکومت هم باید د آی ای ډي سره د مبارزې او د آی ای ډي د شنډولو د عملیاتو د مرکزي شوي او موثره مدیریت څخه د ډاډ حاصلولو پخاطر اضافي سرچینې اختصاص کړي.

### د دولت ضد عناصرو واقعي/غیر رسمي کنترول او د ملکیانو ساتنه: د جاني خیلو ولسوالۍ، پکتیا ولایت

که څه هم چې په ۲۰۱۲ کال کې د امنیتي ځواکونو او یاغیانو تر منځ د شخړو سره ورته خشونت او ملکي تلفاتو په پیښو کې څه ناڅه کموالی راغلی، دغه کموالي په هیڅ وجه د حکومت د پیاوړي شتون او یا د ملکي کسانو د ساتنې په چارو کې د کوم ډول ښه والي د مسلې سره تړاو نه لري. په ملکیانو باندې د شخړې د محرکه قوې او اغیزو بدلون په روښانه توګه په هغو سیمو لکه د پکتیا د ولایت د جاني خیلو په ولسوالي کې کومې چې د دولت ضد عناصرو تر واک او کنترول لاندې وي، ښودل شوي. یوناما د یو شمیر بیلابیلو ولسوالیو په هکله چې د حکومت ضد عناصرو تر قوي نفوذ او یا کنترول لاندې دي د ملکي کسانو، ټولنو مشرانو، حکومتي چارواکو او امنیتي ارګانونو سره د سلامشورو له لارې تمرکز شوي، څیړنه تر سره کړي. موندنو مشخصه کړي چې په دې سیمو کې ځینې ډلې په زیاتیدونکي توګه سیمه کنترولوي او حکومتداري او امنیتي دندې یې خپلې کړي چې په دې سره یې د ملکي کسانو د ساتنې چارې راکمې کړي.

که څه هم چې په دغه ولسوالي کې د ملکي تلفاتو کچه ټیټه پاتې شوې،[219] خو په حقیقت کې وضعیت په بل ډول دی او د ملکي کسانو د ساتنې په برخه کې جدي محدودیت شتون لري. د ۲۰۱۱ کال د نیمایي مودې څخه راهیسې، دولت ضد عناصرو د جاني خیلو پر ولسوالي خپل کنترول زیات کړي. د ۲۰۱۱ کال په جون میاشت کې، خاصو ځواکونو د جاني خیلو عالي لیسه د دریو اونیو لپاره ونیوله،په هغه وخت کې نړیوالو پوځي ځواکونو د خوست ولایت د سالرنو د پوځي اډې څخه په یاغیانو د برید په موخه په شاوخوا غرونو بریدونه ترسره کول. د دغو بریدونو په پایله کې محلي جنګیالي او ملکیان ووژل شول او په نتیجه کې د ټولنو لخوا د دولتي ځواکونو په وړاندې د زیاتې غصې راپور ورکړل شوي.

د ټولنې په کچه، د قدرت پر سر دولت ضد محلي واکدارانو او حکومتي فعالینو د واک د شریکولو پر سر یا د سولې د تړونونو په هکله هغه هوکړې تر سره کړي، کومو چې په دغو سیمو کې دولت ضد عناصرو ته د یوې برخې یا بشپړ کنترول واک ورکړ. که څه هم چې دغه ډول تړونونو په اوسني او لنډمهاله دورو کې د تاوتریخوالي کچه راټیټه کړه، خو د قدرت پر سر د محلي تړون کونکو تر منځ

[219] په ۲۰۱۱ او ۲۰۱۲ کلونو کې، یوناما ۶ پیښې ثبت کړي (څلور ځمکنې عملیات، یوه د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو او یوه د تښتونې پیښه) چې په نتیجه کې یې دوه ملکي کسان مړه او نور ۵ ټپیان دي.

ترونونو د ټولنو ژوند د قانون د حاکمیت نه پرته او د پرله پسي نا امني له وجې په خطر کې واچاوه.

داسي انګیرل کیږي چې د حقاني د شبکې او ملا منصور د کورنۍ له طریقه د پکتیا د ولایت د جاني خیلو ولسوالي د حکومت ضد عناصرو د کنترول او بشپړ شتون له امله ډیره زیانمنونکې ده . ټوله ولسوالي د حکوکت ضد عناصر لخوا په موثره توګه کنترول شوي او په شاوخوا پرتو سیمو کې یې ګرځنده ټیمونه ځاي په ځاي کړي. د حکومت شتون کمزوري او یوازې د ولسوالي تر مرکز پوري محدود دي. ولسوال چې د ۲۰۱۲ کال د نومبر د میاشتې په لومړیو کې په دنده ګمارل شوي د نا امني او د دفتر د امکاناتو د نه شتون له امله نه شي کولاي خپله دنده پر مخ بوزي او اړ دي څو د څمکنیو په ولسوالي کې تم شي.[220]

د ولسوالي قاضي او څارنوال په ولسوالي کې موجود نه و او عدالت د قومي مشرانو او کله نا کله د متوازي حقوقي چوکاټونو په دننه کې د حکومت ضد عناصرو لخوا ترسره کیده. ټولنو د جاني خیلو په ولسوالي کې یوناما ته راپور ورکړي چې هغوي فکر کوي والي، چا ته چې دوي د یوه فاسد او غیر موثره کس په سترګه ګوري، دوي یوازې پریښي[221]. د حکومت د کنترول د نه شتون په اړه لکه څنګه چې د ټولنو لخوا هم ورته اشاره شوې،په دغه ولسوالي کې د بشري حقونو څخه په خاص ډول د زده کړې، د ګواښ څخه د ازادي او یو شمیر مدني او سیاسي حقونو څخه د برخمن کیدو لړی په مستقیم ډول متاثره شوې.

په داسي حال کې چې ښوونځي لا هم پرانیسي وو، زده کونکي او ښوونکي د دولت ضد عناصرو د دوامداره ګواښونو او زورونو سره مخامخ وه. د ۲۰۱۲ کال د سپټمبر په میاشت کې، د حقاني د شبکې د معارف یوه تن مخفي کارکونکي د یوې عالي لیسې څخه د لیدنې پر مهال د معارف یوه لوړ رتبه چارواکي ته خبرداري ورکړ څو رسمي حکومتي نصاب د طالبانو په نصاب واړوي[222]. د ۲۰۱۲ کال د جون په میاشت کې، د حقاني د شبکې فعالینو یو ښوونکي چا چې د ښوونکو د معاشونو د ورکولو مسوولیت درلود وتښتاوه. زده کونکي اکثرا د دولت ضد عناصرو لخوا درول شوي څو وګوري چې د هغوي په ګرځنده ټلیفونونو کې د طالبانو ترانې غږول شوي. قومي مشرانو یوناما ته ویلي چې حکومت ضد عناصرو ښوونځیو ته د فعالیت اجازه د دي

---

[220] نړیوالو پوځي ځواکونو پدي وروستیو کې د دفترونو لپاره ۱۰ کانټینرونه برابر کړي، او په سیمه کې د محلي پولیسو په رامنځ ته کیدو سره او د راپورونو سره سم به ډیر ژر والي د جاني خیلو ولسوالي ته راشي.

[221] د بیلګي په توګه، د ۲۰۱۲ کال د فبروري په میاشت کې ځایي مشرانو یوناما ته ویلي چې یاغیانو یوه قومي شورا منحل کړه او پدي هکله د حکومت لخوا هیڅ غبرګون نه وه.

[222] په پوځي شخړه کې د ملکي کسانو د ساتني په هکله د یوناما د ۲۰۱۲ کال ۶ میاشتني راپور ته مراجع وکړئ، په ۳۴ پاڼه کې، د طالبانو لخوا د هیواد په کچه هغو دستورونو ته چې د ښوونځیو لپاره د نصاب په هکله هغه لارښودونه چې د دوي په بیان کې راغلي انتشار شوي، ثبت کړي.
http://unama.unmission.org/Portals/UNAMA/documents/UNAMA%20POC%202011%20Report .Final Feb% 202012>pdf

لپاره ورکوي څو د ښوونکو د معاشونو څخه یوه برخه د ځان لپاره وشکوي.

د جاني خیلو په ولسوالۍ کې د افغان ملي امنیتي ځواکونو حضور ډېر محدود وه. د ملي امنیت ریاست د څمکنیو د ولسوالۍ د مرکز څخه چیرې چې افغان ملي پوځ هیڅ ډول شتون نه لري د جاني خیلو ولسولي تر پوښښ لاندې نیسي. د متحده ایالتونو خاصو ځواکونو د ۲۰۱۲ کال د نومبر په میاشت کې د افغان محلي پولیسو پروګرام چې په تشکیل کې یې ۲۵۰ تنه درلودل پیل کړ. د دغه جملې څخه ۱۰۰ تنه فارغ او پاته ۳۵ تنه اوس هم تر روزنو لاندې دي. د کلیو څخه هغه ټولنې چې د خوست د ولایت سره پوله لري خپله اندیښنه څرګنده کړې چې وړاندیز شوي تشکیل به کافي نه وي چې د حقاني د شبکې په وړاندې دې د دوی ساتنه وکړي، او کیدای شي هغوي د زیات خطر په معرض کې واقع کړي.

د دې سربیره، د ولسوالۍ په مرکز کې د حضور د ساتلو پر ځای، افغان ملي پولیسو د ولسوالۍ مرکز ته نږدې د یوې غونډۍ پر سر په یوه پوسته کې فعالیت درلود، په دې کار سره هغوي د خلکو د شکایتونو د سپارلو په برخه کې ستونزې راولاړې کړې وې. افغان ملي پولیس په ولسوالۍ کې ګزمه نه شي کولای، خو بیا هم هغوي کله نا کله د پوستې څخه راوتل څو نږدې هټیو ته ولاړ شي. ټولنو هم همدارنګه د افغان ملي پولیسو څخه څوک چې د بغلان د ولایت څخه راغلي شکایتونه کړي چې ګویا د محلي کلتور او عنعنو څخه بې خبره دي. محلي مشرانو یوناما ته ویلي چې افغان ملي پولیسو خپله یوه اندازه مهمات د دې لپاره د حقاني کسانو ته ویشلي څو د بریدونو څخه ځانونه وساتي.[223]

هغه وضعیت چې د ټولنې لخوا په ۲۰۱۲ کال کې په جاني خیلو کې ورکړل شوي د ملکي کسانو د ساتنې په اړه د حکومت لخوا د محدود کنترول او د دولت ضد عناصرو د قدرت او د مخ پر زیاتیدونکي امنیت او حکومت داري په اړه اغیزې څرګندوي. ملکي کسان د ورځنیو ګواښونو او زورونو د دغه بدلون فشار ګالي، او هڅه کوي د خپل پایښت او یاغیانو د ګواښونو او د حکومت د نا همغږي کنترول تر منځ تعادل وساتي.

## لومړی ضمیمه

### د ۲۰۱۲ کال د اګسټ د میاشتې د ۱۰ نیټې د طالبانو د بیان څخه د ملکي کسانو د ساتنې پیښې،د یوناما د ۲۰۱۲ کال د ۶ میاشتني

[223] د ۲۰۱۱ کال په جون کې، د حقاني شبکې د جاني خیلو په ولسوالۍ برید وکړ، د افغان ملي پولیسو غبرګون دري تنه ټپیان کړل او دا لامل شو چې د خلکو او پولیسو تر منځ واټن زیات شي.

**راپور په غبرګون کې صادر شوي،او د یوناما د ډیټابیس او ارقامو سره د مغوي پرتله.**[224]

| شمیره | د طالبانو د بیان څخه اخیستل شوي پیښې | د یوناما موندنې |
|---|---|---|
| ۱ | د جنوري د میاشتې په ۶، د هلمند ولایت د موسي کلا د ولسوالي د دو آب ګوبر په کلي کې د متحده ایالتونو د ځواکونو د بمباري په نتیجه کې ۸ کسان ووژل شول او یو شمیر نور ټپیان شول. د محلي اوسیدونکو د شهادت پر بنسټ د بمباري له امله جایدادونو ته سخت زیانونه اوښتي. | یوناما دغه پیښې نه شي تصدیق کولاي. |
| ۲ | د جنوري د میاشتې په ۱۸، د کنړ ولایت د څوکی ولسوالي د دیوګل د سیمي د اندرچک په کلي کې د یرغلګرو ځواکونو په شپنیو عملیاتو کې د ملکي کورونو د برید پر مهال ۷ تنه ملکي کسان په شهادت رسیدلي چې په هغو کې دوه ماشومان، یوه ښځه او یو زوړ سړي شامل و. په دغه پیښه کې د کابل او کنړ ولایتي ګوډاګی چارواکو د ملکي تلفاتو دغه ارقام تایید کړي او سیمي ته یې د نورو مالوماتو د راغونډولو په نیت د څیړنې پلاوي استولي. | د یوناما موندنې د طالبانو د بیان سره په بشپړه توګه مطابقت لري. یوناما د ۷ ملکي کسانو د وژنې تصدیق کوي. |
| ۳ | د فبروري په ۱۳، د رسنیو په حواله، هغه کمیسیونونو چې کنړ او کاپیسا ولایتونو ته لیږل شوي موندلي چې په دغو ولایتونو کې د ناټو د تازه بریدونو قربانیان ملکیان دي. د کاپیسا د هئیت مشر ښاغلي طاهر ساپي وویل: د فرانسوي ځواکونو په برید کې په نجراب کې ۸ ماشومان شهیدان شویدي. | یوناما د ۸ ملکي کسانو د وژلو تصدیق کړي، د فبروري د میاشتې په ۸ نیټه، د یوه هوایي برید په ترڅ کې ۷ ماشومان او یو ځوان وژل شوي. په داسي حال کې چې ارقام متناقض دي، یوناما پیښه څیړلي او ادعا کوي چې دا کټ مټ هغه قضیه ده. |
| ۴ | د فبروري په ۱۳، د کنړ د هیت مشر ښاغلي شهزاده شاهد وویل: ۹ تنه په شهادت رسیدلي.هئیت د قربانیانو انځورونه ننداري ته وړاندي کړل او د قربانیانو اکثریت د ۱۶ کلونو نه ټیټ عمر ماشومان وو. هیت دا خبره تصدیق کړي چې د برید پر مهال په سیمه کې هیڅ طالبان موجود نه و. | یوناما دغه پیښه نه شي تصدیق کولاي. |
| ۵ | د فبروري د میاشتې په ۲۲، | یوناما دغه پیښه تصدیق |

224. http://point.un.org/UNAMA/documents%20list/UNAMA%20Mid%20year%20Report 2012.pdf

| | | |
|---|---|---|
| | امریکایي ځواکونو د ننګرهار ولایت د خیوې په ولسوالۍ کې یو ښوونځی بمبارد کړ چې په نتیجه کې یې ۸ ماشومان او د ښوونځي چپراسي ټپیان شول. د بمبارډ په نتیجه کې ښوونځي ته ډیر زیان اوښتی. | کړي او په دې پېښه کې د ۱۲ ماشومانو په شمول د ۱۳ ملکي کسانو ټپي کیدل ثبت کړي |
| ۶ | د فبروري د میاشتې په ۲۲، د پروان ولایت د شینوارو په ولسوالۍ کې پولیسو د امریکایي ځواکونو لخوا څخه په بګرام هوایي ډګر کې د قرآن شریف د سوځولو په مخالفت کې ۸ لاریون کوونکي شهیدان او ۱۵ نور ټپیان کړل. | یوناما د دغو لاریونونو په تړاو دغه تلفات نظارت،تحقیق او تصدیق کړي خو دغه تلفات یې د ملکي کسانو د ساتنې په ډیټابیس کې نه دي ثبت کړي، یوناما لاریونونو ته د قانون د حاکمیت او پولیسو د مسلو په سترګه ګوري. |
| ۷ | د فبروري د میاشتې په ۲۲، د جلال اباد په ښار کې زده کوونکو او عادي خلکو لاریون لاري ته اچولي و او د یرغلګرو په ضد یې نارې وهلې او د هغو کسانو د محاکمې غوښتنه یې کوله چا چې قران سوځلی خو په عین وخت کې د پولیسو تر برید لاندې راغلل چې په نتیجه کې یې یو تن شهید او نور ۶ تنه ټپیان شول. | یوناما د دغو لاریونونو په تړاو دغه تلفات نظارت،تحقیق او تصدیق کړي خو دغه تلفات یې د ملکي کسانو د ساتنې په ډیټابیس کې نه دي ثبت کړي، یوناما لاریونونو ته د قانون د حاکمیت او پولیسو د مسلو په سترګه ګوري. |
| ۸ | د فبروري د میاشتې په ۲۲، د لوګر ولایت د برکي برک د ولسوالۍ د برکي لجن په سیمه کې په ورته پیښه کې زده کونکو او عادي خلکو د قران شریف د سوځولو په غبرګون کې لاریون وکړ او په دوي د پولیسو لخوا ډزې وشوې، یو زده کونکي شهید او ۷ نور ټپیان شول او نور ۱۲ لاریون کونکي د اشغالګرو لخوا توقیف شول. | یوناما د دغو لاریونونو په تړاو دغه تلفات نظارت،تحقیق او تصدیق کړي خو دغه تلفات یې د ملکي کسانو د ساتنې په ډیټابیس کې نه دي ثبت کړي، یوناما لاریونونو ته د قانون د حاکمیت او پولیسو د مسلو په سترګه ګوري. |
| ۹ | د فبروري د میاشتې په ۲۳ نیټه، پولیسو د پروان ولایت د بګرام په ولسوالۍ کې په لاریون کونکو برید وکړ او ۴ لاریون کونکي یې شهیدان او ۵ نور یې ټپیان کړل. | یوناما د دغو لاریونونو په تړاو دغه تلفات نظارت،تحقیق او تصدیق کړي خو دغه تلفات یې د ملکي کسانو د ساتنې په ډیټابیس کې نه دي ثبت کړي، یوناما لاریونونو ته د قانون د حاکمیت او پولیسو د مسلو په سترګه ګوري. |
| ۱۰ | د فبروري د میاشتې په ۲۳ نیټه، د اروزګان ولایت د دهراوت د ولسوالۍ په بازار کې په زرګونو خلکو د اشغالګرو ځواکونو لخوا د قرآن سوځولو په غبرګون کې په لاریون لاس پوري کړ. لاریون کونکو قصد درلود څو سیمه ایزي پوځي اډې ته ورشي او د هغوي څخه د اسلامي حرمت د درناوي | یوناما د دغو لاریونونو په تړاو دغه تلفات نظارت،تحقیق او تصدیق کړي خو دغه تلفات یې د ملکي کسانو د ساتنې په ډیټابیس کې نه دي ثبت کړي، یوناما لایورنونو ته د قانون د حاکمیت او پولیسو د مسلو |

| | | |
|---|---|---|
| | غوښتنه وکړي او د هغو سرتیرو د محاکمې غوښتنه وکړي چا چې دا جرم ترسره کړي، خو په لار کې ملي پولیسو په هغوي برید وکړ، ۵ لاریون کونکي یې شهیدان او نور ۱۵ یې ټپیان کړل. د ولسوالۍ چارواکو هم د ملکي تلفاتو ورته ارقام تایید کړي دي. | په سترګه ګوري. |
| ۱۱ | د فبروري د میاشتې په ۲۴، د هرات د ولایت د ادرسکن د ولسوالۍ په بازار کې زرګونو خلکو د قران شریف د نه درناوي په غبرګون کې په لاریون لاس پوري کړ او د امریکا او افغان حکومت ضد شعارونه یې ورکول، او د کندهار او هرات لویه لار یې د ساعتونو لپاره تړلې وه او د مرتکبینو د محاکمې غوښتنه یې کوله، پولیسو په هغوي ډزې وکړې او ۱۵ تنه یې شهیدان او ټپیان کړل. | یوناما د دغو لاریونونو په تړاو دغه تلفات نظارت،تحقیق او تصدیق کړي خو دغه تلفات یې د ملکي کسانو د ساتنې په ډیټابیس کې نه دي ثبت کړي، یوناما لاریونونو ته د قانون د حاکمیت او پولیسو د مسلو په سترګه ګوري. |
| ۱۲ | د مارچ د میاشتې په ۹، رسنیو د عبدالحکیم اخندزاده د قوله ویلي چې د کاپیسا د ولایت د تګاب په ولسوالۍ کې د ناتو ځواکونو د ابراهیم خیلو په کلي بمبارد وکړ چې د همدې بمبارۍ په نتیجه کې د ۳ ماشومانو او ۲ نورو ملکي کسانو د ټپي کیدو په شمول ۴ ملکي کسان شهیدان شول. | یوناما د طالبانو د بیان څخه دغه ارقام په جزیي توګه تصدیق کړي. یوناما د ۳ ملکیانو د وژلو او ۲ ملکیانو د ټپي کیدو تصدیق کوي. |
| ۱۳ | د مارچ د میاشتې په ۱۱،رسنیو د ټولنې د اوسیدونکو او عیني شاهدانو څخه اقتباس کړي: د کندهار د ولایت د پنجوایي د ولسوالۍ د زنګاوټ د سیمې په ۲کیلو متري کې امریکایي سرتیرو په ډیر وحشت سره ۱۷ ملکیان ووژل او بیا یې د هغوي مړي په یوه کوټه کې راټول او جسدونو ته یې اور واچاوه او نور ۵ تنه یې ټپیان کړل. | د یوناما موندنې په بشپړ ډول د طالبانو د بیان سره سمون لري. یوناما د ۱۷ ملکي کسانو وژل او د نورو ۵ تنو ټپیانو ټپي کیدل ثبت کړي دي. |
| ۱۴ | د مارچ د میاشتې په ۲۷، د ننګرهار ولایت په پچیر آګام ولسوالۍ کې افغان ملي امنیتي ځواکونو ۳ ملکي کسان شهیدان کړل او ۲ نور یې ټپیان کړل. | یوناما د ۲ ملکي کسانو د وژلو او ۲ ټپیانو تصدیق کوي. د متقابله ډزو په پایله کې ملکي کسانو ته اوښتې مرګ ژوبله افغان ملي امنیتي ځواکونو د ماین پاکي د یوه ټیم په وړاندې د تعبیه شویو چادیدونکو توکو د چاودنې د ویرې په نتیجه کې را منځ ته شوي. |

| | | |
|---|---|---|
| ۱۵ | د مارچ د میاشتې په ۲۷، د هلمند ولایت د سنګین د ولسوالی د سروان د کلا د شهزادي په سیمه کې امریکایی سرتیرو یو ۷۰ کلن شخص د هر ډول لامل نه پرته شهید کړ. | یوناما دغه پیښه نه شي تصدیق کولای. |
| ۱۶ | د اپریل د میاشتې په ۵، د کاپیسا ولایت د تګاب د ولسوالي د ادیزو ملایانو په کلي کې اشغالګرو ځواکونو درنې وسلې فیر کړې او ځو یې د لطف الرحمن په کور اصابت وکړ چې په نتیجه کې یې ۳ ماشومان شهیدان شول. | د یوناما موندنې دطالبانو د بیان سره په جزیي ډول مطابقت لري. یوناما یوه ورته پیښه چې د اپریل د میاشتې په ۴ نیټه تر سره شوې ثبت کړې او اټکل کوي چې دا عین هغه پیښه ده، یوناما په دې پیښه کې د ۲ ماشومانو د وژلو تصدیق کوي. |
| ۱۷ | د اپریل د میاشتې په ۷،د کندهار ولایت د میوند د ولسوالي د شامیر کلا په سیمه کې افغان ملي امنیتي ځواکونو او محلي اربکیو د یوې کورنۍ ۴ غړي ووژل. | یوناما دغه پیښه نه شي تصدیق کولای. |
| ۱۸ | د اپریل د میاشتې په ۱۰،د هلمند د ناد علي ولسوالي د باریګل بازار په سیمه کې اشغالګرو ځواکونو د درنو وسلو ډزې وکړې او ځو یې په یوه کور ولګیدې چې په نتیجه کې یې ۴ ماشومان او دوه سپین سري ښځې شهیدانې شوې. | یوناما په دې پیښه کې د ۲ ماشومانو د وژل کیدو تصدیق کوي. د یوناما د موندنو مطابق د اپریل د میاشتې په ۸ نیټه ورته پیښه واقع شوې او تصدیق یې شوې. |
| ۱۹ | د اپریل د میاشتې په ۱۱، د پکتیا د ولایت د جاني خیلو د ولسوالي د بالزي او حسن زي په کلیو کې اشغالګرو ځواکونو په کورونو برید وکړ او په پای کې یې سیمه بمبارد او ۵ ملکي کسان یې شهیدان کړل. | یوناما د حکومت ضد عناصرو تلفات تصدیق کړ، او په پیښه کې یې د ملکیانو تلفات رد کړل. |
| ۲۰ | د اپریل د میاشتې په ۱۴، د تخار د ولایت د روستاق ولسوالي د تباتاش په کلي کې یرغلګرو ځواکونو د یوه سوداګر، امیر عزیز په کور برید وکړ، کور ته د زیات اوښتي زیان تر څنګ یې د نوموړي د کورنۍ ۲ غړي، د نورالله او عطیق الله په نومونو ووژل او ۴ نور یې ونیول. | یوناما د طالبانو د بیان نه وړاندې دغه پیښه نده ثبته کړې. اوس د یوناما لخوا د دغې پیښې او په پیښه کې د ۲ کسانو د وژل کیدو تصدیق شوي. د ملکي تلفاتو دغه ارقام د ۲۰۱۲ کال د ملکي کسانو د ساتنې په کلني راپور کې ځا ي شوي. |
| ۲۱ | د اپریل د میاشتې په ۱۴ نیټه، د نورستان ولایت د کامدیش په ولسوالي کې د مجاهدینو او یرغلګرو ځواکونو تر منځ د ډزو په تبادله کې، یرغلګرو ځواکونو په اقاصي او نورو سیمو کې په ملکي کورونو بمباري | یوناما د یوې پیښې چې د اپریل د میاشتې په ۱۴ او ۱۵ نیټه په کومه کې چې د ۲ ماشومانو او یوې ښځې په شمول ۳ تنه وژل شوي تصدیق کوي. |

| | | |
|---|---|---|
| | وکړه چې په نتیجه کې یې ۱۷ ملکیان چې زیاتره یې ښځې او ماشومان وو، ووژل شول. نور ملکي کورونه هم د بمباري په نتیجه کې ویجاړ شول. | |
| ۲۲ | د اپریل د میاشتې په ۱۶ نیټه، د هلمند د ولایت د کجکي ولسوالي د زمین دارو کاریز په سیمه کې امریکایي ځواکونو د استوګنې په کورونو بمباري وکړه او یو ځای یې ۶ ماشومان او ښځې ووژلې. د دغه بمبار په نتیجه کې د استوګنې درې کورونه ویجاړ شول. | یوناما دغه پیښه نه شي تصدیق کولای. |
| ۲۳ | د اپریل د میاشتې په ۲۷ نیټه،د زابل ولایت د ارغنداب د ولسوالۍ د د مرغابي په کلي کې امریکایي ځواکونو د جومات د ملا امام په شمول ۴ ملکي کسان ووژل. | یوناما دغه پیښه نه شي تصدیق کولای. |
| ۲۴ | د اپریل د میاشتې په ۳۰ نیټه، د لغمان ولایت د قرغه یې ولسوالي د بولان په سیمه کې یرغلګرو ځواکونو د شپې پرمهال د ملکي کسانو د استوګنې په کورونو یرغل وکړ او د کورونو د تلاشي وروسته یې ۲ ورونه شهیدان او د متوفي کسانو پلار، ورور او ۴ نور کلیوال توقیف کړل. | یوناما د پیښې تصدیق کوي، خو د ملکي تلفاتو تصدیق نه شي کولای،ځکه چې یو شمیر سرچېنو دوي جنګیالي ښوولي. |
| ۲۵ | د اپریل د میاشتې په ۳۰ نیټه، د زابل ولایت د شاجوي د ولسوالي د شوبار په سیمه کې یرغلګرو ځواکونو ۴ ماشومان شهیدان کړل. | یوناما د دغي پیښې تصدیق کړي او په پیښه کې یې د ۳ ماشومانو وژل او د ۳ ټپي کیدل تایید کړي. |
| ۲۶ | د مي د میاشتې په ۲ نیټه، د زابل ولایت د شاجوي د ولسوالي په ځنډو کې یرغلګرو ځواکونو ۴ ماشومان شهیدان کړل | یوناما دغه پیښه نه شي تصدیق کولای. |
| ۲۷ | د مي د میاشتې په ۳ نیټه، د کندز د ښار د کان موسي د هټیو په سیمه کې د محلي حکومت پلوه ملیشه اي قومندان میرعلم د کارکونکو لخوا د جومات د ملا امام او د هغه د پیروانو په شمول ۳ تنه ملکیان ووژل. | یوناما دغه پیښه تصدیق کړي خو وایي چې مرتکبین دولت پلوه ځواکونه نه وو. ټولنو د اوازو راپور ورکړي چې ګویا دا ډله د افغانستان د حکومت ملاتړي ډله وه او ددي تصدیق چې دا دي په افغانستان کې د پوځي شخړي سره کوم تړاو ولري نه شي کیدلای. |
| ۲۸ | د مي د میاشتې په ۴ نیټه،د لغمان ولایت د مهترلام د بابا صاحب د ډاګ په سیمه کې یرغلګرو ځواکونو ۴ ملکي کسان چې په لار روان و، ووژل. | یوناما دغه پیښه تصدیق کړي خو په ډیټابیس کې یې نه دي ثبت کړي. یوناما قضاوت کوي چې دا تلفات د شخړي سره تړاو نلري او کیداي شي د شخصي دشمني |

| | | |
|---|---|---|
| | | پایله وي. |
| ۲۹ | د مئ د میاشتې په ۶ نیټه، د کاپیسا ولایت د الساي د ولسوالي په څنډو کې یرغلګرو ځواکونو په سیمه بمباري وکړه او ۴ تنه یې شهیدان کړل. | یوناما د یوي بلې نیټې لاندې د دغي پیښې،او د دغي پیښې په پایله کې د ۲ ملکي کسانو د وژلو او ۲ ټپیانو تصدیق کوي. |
| ۳۰ | د مئ د میاشتې په ۶ نیټه،رسنیو راپور ورکړ:د بادغیس ولایت د مرغاب د ولسوالي د نوبر په سیمه کې امریکایي ځواکونو سیمه بمبارد کړه چې په نتیجه کې یې ۱۴ ملکي کسان ووژل او نور ۱۸ تنه یې ټپیان کړل. ددي زیاتره برخه ماشومان او ښځې دي. عیني شاهدانو رسنیو ته وویل چې ددې پیښې ټول قربانیان ملکي کسان وو. | یوناما ددغي پیښې تصدیق کړې او په دغه پیښه کې د ۸ ملکي کسانو وژل او د ۱۰ نورو ټپي کیدل تصدیق کوي. |
| ۳۱ | د مئ د میاشتې په ۷ نیټه، رسنیو راپور ورکړ چې د هلمند ولایت د سنګین ولسوالي د فتح محمد پیچ په سیمه کې د بهرنیو ځواکونو په بمباري کې د یوي ښځې تر څنګ د هغې د ۵ ماشومانو په شمول چې ۳ یې نجوني او ۲ نور هلکان و، ووژل. | یوناما ددي پیښې تصدیق کړې او په دي پیښه کې یې د ۶ ملکیانو وژل تایید کړې. خو ددي پیښې نیټه د مې ۴ ده. د یوناما په څیړنو کې دا جوته شوه چې دا عین پیښه ده. |
| ۳۲ | د مئ د میاشتې په ۱۲ نیټه، د بلخ ولایت د البرز په ولسوالي کې اجیرو افغان ملي امنیتي ځواکونو ۴ ملکیان چې د جنازي په مراسیمو کې راغونډ شوي و، ووژل. | یوناما دغه پیښه څیړلې او نتیجه یې اخیستې چې دا کسان ملکي نه بلکه حکومت ضد عناصر وه. |
| ۳۳ | د مئ په ۱۳،ډله ایزو رسنیو راپور ورکړ چې د کنړ ولایت د وټه پور د ولسوالي د دهوز په کلي کې امریکایي ځواکونو بمباري کړې چې په نتیجه کې یې ۸ ملکي کسان وژل شوي چې زیاتره قربانیان یې ښځې او ماشومان دي. عیني شاهدانو بي بي سي راډیو ته وویل چې قربانیان نږدي غره ته د لرګیو د راغونډولو لپاره په لار روان و چې د پیښې قربانیان شول. د ناټو ویاند د پیښې تصدیق وکړ خو و یې ویل چې قربانیان وسله وال وو. | یوناما د پیښې تصدیق کړې او په پیښه کې یې د ۵ ملکي کسانو وژل او د نورو ۲ ټپي کیدل منلي. |
| ۳۴ | د مئ په ۱۳،د هلمند ولایت د موسی کلا د ولسوالي د مسلماني په سیمه کې د یرغلګرو ځواکونو د ډزو په نتیجه کې ۳ ماشومان ووژل شول. | یوناما دغه پیښه نه شي تصدیق کولاي. |
| ۳۵ | د مئ په ۱۴، د هلمند ولایت د بوغنی د ولسوالي د کنجن په سیمه کې یرغلګرو ځواکونو د تلاشي د شپنیو عملیاتو پر مهال یرغل وکړ، عیني | یوناما دغه پیښه نه شي تصدیق کولاي. |

| | | |
|---|---|---|
| | شاهدانو وویل چې یرغلګرو ځواکونو د یرغل پرمهال ۵ ماشومان ووژل او نور ۳ یې ټپیان کړل. | |
| ۳۶ | د مئ په ۱۵، د هلمند ولایت د ګرشک ولسوالي د ادم خان په سیمه کې د بهرنیو ځواکونو د بمباري په نتیجه کې د یوې ښځې او ۲ ماشومانو په شمول ۳ ملکي کسان ووژل شول. | یوناما دغه پیښه نه شي تصدیق کولای. |
| ۳۷ | د مې د میاشتې په ۱۸، د زابل ولایت د شاجوي په ولسوالي کې د امریکایي تدارکاتي کاروان ساتونکو د یوې لفظي شخړې وروسته ۶ ملکي کسان ووژل او ټپیان کړل. | یوناما دغه پیښه نه شي تصدیق کولای. |
| ۳۸ | د مئ په ۱۸،د اروزګان ولایت د خاص اروزګان د ولسوالي د شیني نوا په سیمه کې د یرغل پر مهال ۳ ملکي کسان ووژل. | یوناما دغه پیښه نه شي تصدیق کولای. |
| ۳۹ | د مئ په ۲۷،اسوشیټید پریس راپور ورکړ، چې د پکتیا ولایت د ګردی څیرې د ولسوالي د سوري خیلو سیمه کې د یوه ملکي شخص شفیع الله په کور یرغلګرو ځواکونو بمبارد وکړ. د کورنۍ د مشر تر څنګ د نوموړي د کورنۍ ۸ تنه شهیدان شول. قربانیان ټولي ښځې او ماشومان و او یوائې یو ماشوم ژوندي پاتې شو. یرغلګرو ځواکونو د پیښې پخلي کړي او ادعا یې کړې چې دوي د دولت ضد عناصر په نښه کړي. | یوناما دا پیښه تر یوي بلې نیټې لاندې ثبت کړې او د یوې کورنۍ د ۷ غړو وژل او د ۲ ماشومانو ټپي کیدل یې تایید کړي. |
| ۴۰ | د جون په ۷، رسنیو راپور ورکړ: د لوګر ولایت د برکي برک د ولسوالي د سجوند په سیمه کې یرغلګرو ځواکونو د استوګنې دوه ځایونه چیرې چې د واده مراسم تر سره کیدل بمبارد کړل. په دې پیښه کې د ناوي په شمول ۲۶ ملکي کسان چې زیاتره یې ماشومان او ښځې وي ووژل شوي. د لوګر د پولیسو مشر ریس خان د پیښې تصدیق وکړ او د افغان ځواکونو سره د کومې همغږۍ نه پرته یې وویل چې دا برید د بګرام هوایي ډګر څخه ایتلافي ځواکونو تر سره کړي. | یوناما د یوې بلې نیټې لاندې ددې پیښې تصدیق کړي. یوناما په دې پیښه کې د ۱۸ ملکي کسانو وژل او د ۲ نورو کسانو ټپي کیدل ثبت کړیدي. |
| ۴۱ | د جون په ۱۰، د کندهار ولایت د خاکریز ولسوالي د بغکي په سیمه کې اشغالګرو ځواکونو د پاخه عمر درلودونکو دوو کسانو څخه لاسونه او پښې غوځې کړي. دوي بیا وروسته په کندهار کې میرویس روغتون ته د درملنې په موخه وړل شوي. | یوناما دغه پیښه نه شي تصدیق کولای. |

| | | |
|---|---|---|
| ۴۲ | د جون په ۱۰، د پکتیا ولایت د ځمکنیو د ولسوالي د تمني په سیمه کې اشغالګرو ځواکونو د ملکي کسانو په کورونو یرغل کړي او د کور د تلاشي نه وروسته یې د کور ظروف مات کړي او بیا یې د کورنی ۳ ملکي کسان وژلي. | دا پیښه د طالبانو د بیان نه مخکې نه ده ثبت شوي او په شپږ میاشتني راپور کې نه دي شامله شوي. د طالبانو د بیان په تعقیب،یوناما د دې پیښې تصدیق کړي او د طالبانو د دي اطلاعاتو سره سم یې د ۳ ملکي کسانو وژل ثبت کړي. |
| ۴۳ | د جون په ۱۷،د کندهار ولایت د شاولیکوټ د ولسوالي په کراووي سیمه کې یرغلګرو ځواکونو د استوګنې په کورونو یرغل کړي، ۲ ملکي کسان یې وژلي او په دغو کورونو کې یې دوو موټرسایکلونو ته اور اچولي. | یوناما دغه پیښه نه شي تصدیق کولای. |
| ۴۴ | د جون په ۲۲،د فاریاب ولایت د المار د ولسوالي د تربت په کلي کې افغان ملي امنیتي ځواکونو یو نامتو مذهبي شخص شاغلي مولوي فیض محمد شهید کړ. | یوناما دغه پیښه تصدیق کړې.د څیړنو په تعقیب، یوناما تصدیق کړې چې مرتکب په افغان ملي امنیتي ځواکونو پوري نه بلکه په دولت ضد عناصرو پوري تړاو درلود. |
| ۴۵ | د جون په ۲۴، د زابل ولایت د نوبهار په ولسوالي کې محلي پولیسو دوه کوچیان،نیاز محمد د فیض محمد زوي او حسن ووژل. قربانیان یوه ورځ وړاندې توقیف شوي و. | یوناما دغه پیښه نه شي تصدیق کولای. |
| ۴۶ | د جون د میاشتې په ۲۵،د هلمند ولایت د بغران د ولسوالي په سنګ بازار سیمه کې اشغاګرو ځواکونو د شپې د تلاشي د عملیاتو پر مهال ۱۰ ملکي وګړي وژلي او د کورونو او هټیو څخه یې نقدې پیسې او قیمتي شیان وړي. | یوناما دغه پیښه نه شي تصدیق کولای. |

## دوهمه ضمیمه

**د ۲۰۱۲ کال د ډسمبر د میاشتې د ۱۶ نیټې د طالبانو د بیان څخه د ملکي کسانو د ساتنې پېښې، د ملګرو ملتونو د عمومي منشي د څلور میاشتني راپور په غبرګون کې صادر شوي،او د یوناما د ډیټابیس او ارقامو سره د هغوی پرتله.**[225]

| شمیره | د طالبانو د بیان څخه اخیستل شوي پېښې | د یوناما موندنې |
|---|---|---|
| ۱ | د جولاي په ۱۱،د کندهار ولایت د شاولي کوټ د ولسوالي د کوندلانو په سیمه کې اشغالګرو ځواکونو د شپې لخوا د استوګنې په کورونو یرغل کړي، کورونه یې تلاشي کړي او ۵ ملکي کسان یې شهیدان کړي. | د جولاي په ۱۲ نیټه،د دولت ضد عناصرو او دولت پلوه ځواکونو تر منځ د ډزو په نتیجه کې د ۳ ملکي کسانو وژل تصدیقوي. |
| ۲ | د جولاي په ۲۲، رسنیو راپور ورکړي: د هلمند ولایت د ګرشک د ولسوالي د نهرسراج د سیمې د سراي شیخ په سیمه کې اشغالګرو ځواکونو له هغه وروسته بمباري وکړه چې کله د هغوی ټانک د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو په وسیلې والوت. د بمباري په نتیجه کې ۴ ملکیان شهیدان شوو. | یوناما دغه پیښه څیړلې خو ملکي تلفات یې نه درلودل. |
| ۳ | د جولاي د میاشتې په۲۷،د اروزګان ولایت د خاص ارزګان د ولسوالي د قلعه خوړ په سیمه کې اشغالګرو ځواکونو د استوګنې په کورونو د شپې لخوا برید وکړ، هغوي ۳ ملکي کسان وکړول او بیا یې وروسته شهیدان کړل. | یوناما دغه پیښه څیړلې خو ملکي تلفات یې نه درلودل. |
| ۴ | د اګست په۲، د اروزګان ولایت د خاص ارزګان د ولسوالي په یو شمیر سیمو کې(د شیش ابه،سیرو،مټکزو او سکانو په سیمو) افغان محلي پولیسو د استوګنې په کورونو یرغل ور وړي او ۱۸ ملکي کسان یې وژلي او د هغوي کورونه یې لوټ کړي.د عیني شاهدانو د بیان پر بنسټ، د افغان محلي پولیسو قومندان شجاعي ژوندي وګړي څاګانو ته اچولي. عیني شاهدانو رسنیو ته | یوناما د پیښې تحقیق کړي او د ۱۱ ملکیانو وژل یې تصدیق کړي، او د شجاعي په ضد د وژنو لړ ترلړه ۹ موارد دي. |

[225] http://unama.unmission.org/LinkClic.aspx?fileticket=RfTUm-s86s%3D&tabid=12254&language=en-US

| | | |
|---|---|---|
| | ویلي چې محلي پولیسو د خلکو ۸ موټرسایکلونو ته اور اچولي او د هغوي نقدي روپۍ او نور شیان یې لوټ کړي. له دي نه وړاندي هم محلي پولیسو ورته کړني ترسره کړي خو د رسنیو لخوا نه دي بربنډې شوي. د رسنیو لخوا د دا ډول پیښو د انعکاس لامل ښایي ددي پیښو ورانونکي اغیزې وي چې په خپل ذات کې بې سارې دي. دا د اندیښني وړ خبره ده چې د اشغالګرو بد فعالیتونه د رسنیو لخوا تر هغه تر څو چې د اشغالګرو ځواکونو لخوا د هغو تایید و نه شي او یا د عامه شرم باعث وګرځي نه نشریږي. که څه هم چې خلک د اشغالګرو ځواکونو، پولیسو او پوځ په هکله د بد چلند شکایت کوي، خو رسني د دغو شکایتونو په اړه پټه خوله دي. | |
| ۵ | د اګست په ۷،د نیمروز ولایت د خاشرود د ولسوالي د شیش ابا په سیمه کې د شپې پر مهال یرغل وشو. ددي سربیره، په یوه جلا پیښه کې ځواکونو د استوګني په کورونو یرغل کړي، کورونه یې تلاشي کړي او د یوي ښځې د وژل کیدو او دوو ماشومانو د ټپي کیدو په شمول یې ۴ ملکیان شهیدان کړي. د خاشرود د ولسوالي ولسوال پیښه تایید کړې ا و وویل چې اشغالګرو ځواکونو د کومې اطلاعیي نه پرته په یادو سیمو کې خپل پټ عملیات ترسره کړي. | یوناما دغه پیښه څیړلي او د ملکي تلفات یې تایید کړي:یوه ښځه مړه او دوه ماشومان ټپیان(یوناما د دریو اضافي کسانو وژل موندلي خو هغوي ته د ملکي کسانو په حیث نه ګوري). |
| ۶ | د اګست په ۱۰،د اروزګان ولایت د دهراود د ولسوالي د دهزاک په سیمه کې اشغالګرو ځواکونو په سیمه کې د شپې لخوا د یرغل په ترڅ کې ۴ محلي کسان ووژل او یو بل شخص یې توقیف کړي.توقیف شوي شخص یوه نا معلوم ځاي ته انتقال شوي. | یوناما د ۴ ملکي کسانو وژل تصدیق کړي. |
| ۷ | د اکتوبر په ۱۵،د هلمند ولایت د ناوه ولسوالي د تانګګنو ګودر په سیمه کې امریکایي څرخي الوتکو یو تراکتور په نښه کړ او سپاره | یوناما د پیښې څیړنه کړې او و یې موندل چې د اکتوبر په ۱۴ نیټه ایساف په حکومت ضد |

| | | |
|---|---|---|
| | ټول ۱۵ کسان یې شهیدان کړل.محلي خلکو وویل چې د تراکتور په وسیله بیځایه شوي داخلي کسان او د هغوي د کورنیو اړوند توکي انتقالیدل. | عناصرو چا چې تعبیه شوي چاودیدونکي توکي ځاي په ځاي کول توغندي توغولي. یو توغندي په خپل هدف و نه لګید او د ۳ ماشومانو د وژنې لامل شو. |
| ۸ | د اکتوبر په ۲۴،د هلمند ولایت د کجکي ولسوالي د زمینداور په سیمه کې اشغالګرو ځواکونو د قوم ۳ مشران شهیدان کړل. راپور وړاندې ښي چې حاجي سیف الدین، ۸۵ کلن د مزار د کلي د لړکن نو د سیمې، او سعدالدین، ۹۰ کلن د اودر د کلي او د مزار د کلي غفار اغا د قربانیانو په جمله کې و. | یوناما دغه پیښه څیړلې او ملکي تلفات یې نه دي موندلي. |
| ۹ | د نومبر په ۶، د هلمند ولایت د کجکي د ولسوالي د شاه کاریز او لنډي کاریز په سیمه کې اشغالګرو ځواکونو په سیمه یرغل کړي او ۵ ملکي کسان یې شهیدان کړي. | یوناما دغه پیښه څیړلې او ملکي تلفات یې نه دي موندلي. |
| ۱۰ | د نومبر په ۲۰، د کندهار ولایت د شاولي کوټ د ولسوالي په بیلابیلو سیمو کې اشغالګرو ځواکونو د خلکو کورونه تلاشي کړي، خلک یې وهلي او په پاي کې یې د زړو او ځوانانو په شمول ۵ ملکي کسان شهیدان کړي. | ددغې پیښې ریکارډ شتون نه لري.په ډیټابیس کې د نورو راپورونه چې د ۲۰۱۲ کال د سپټمبر په ۲۶ ترسره شوې او په پایله کې یې۳ ملکي کسان شهیدان شوي، موجود دي. |
| ۱۱ | د اګست په ۶، د ننګرهار ولایت د اچین د ولسوالي د ادلخیلو په کلي کې اشغالګرو ځواکونو د شپې لخوا د ملکي کسانو په کورونو یرغل کړي، په کورونو کې یې چور او چپاول کړي او ملکیتونو ته یې زیان اړولي.د سیمې څخه د وتلو وړاندې یې ۴ ملکي کسان شهیدان کړي. د سیمې اوسیدونکو راپور ورکړي چې قربانیان ټول ملکي کسان و او د کومې ډلې سره یې خواخوږي نه درلودله. | یوناما دغه پیښه څیړلې او موندلي یې دي چې د مخدره توکو ۴ تولید کونکي او قاچاق وړونکي وژل شوي. |
| ۱۲ | د سپټمبر په ۱۶،رسنیو راپور ورکړ چې د لغمان ولایت د النګار د ولسوالي د نور لام په سیمه کې | د طالبانو د بیان مطابق،د ۲۰ تنو ادعا شویو ملکي تلفاتو(مړو |

| | | |
|---|---|---|
| | امریکایي اشغالګرو ځواکونو د ۸ ښځو په شمول ۲۰ ملکي کسان وژلي او ټپیان کړي،په داسې حال کې چې ښځې او ماشومان د سون د لرګیو د راټولولو لپاره کرونډې ته روان وو سیمه په ناڅاپي توګه د امریکایي الوتکو لخوا بمبارد شوه. لکه د پخوا په شان اشغالګرو ځواکونو وویل چې په پېښه کې یې ملکي کسان نه بلکې یاغیان په نښه کړي. د لغمان ولایتي چارواکو تصدیق کړې چې په پیښه کې ټول قربانیان ملکي کسان وو. عیني شاهدانو هم رسنیو ته ویلي چې د پیښې قربانیان، څوک چې د لرګیو د غونډولو په موخه سیمې ته تللي وو ټول ملکي کسان و. | او ټپیانو) په پرتله، یوناما د ۸ وژل او د نورو ۸ ټپي کیدل تصدیق کړي. |
| ۱۳ | د اګست په ۳۰، د لوګر ولایت د برکي برک د ولسوالي په ښار ۲ هوانونه وتوغول شول.یو هاوان د استوګنې په یوه کور او بل د موټرو په یوه اډه کې ولګید او ددې په نتیجه کې په دواړو ځایونو کې اور ولګید. په پیښه کې ۵ ملکي کسان ووژل شول او نور ۱۰ ټپیان شول. | د طالبانو د بیان مطابق،د ۵ تنو ادعا شویو ملکي تلفاتو د وژلو او نورو ۷ تنو ټپیانو په پرتله، یوناما د ۱۰ وژل او د نورو ۷ ټپي کیدل تصدیق کړي. |
| ۱۴ | د اکتوبر په ۲۱،د لوګر ولایت د برکي برک د ولسوالي د شي خیل په سیمه کې امریکایي ځواکونو په کلي ۴ هاوانونه وتوغول چې په نتیجه کې یې ۶ ماشومان مړه او ۲ نور ټپیان شول.د وژل شویو او ټپیانو ماشومانو نومونه په لاندې ډول دي: همیم د مرجان زوي،عمر جان د عبدالغفار زوي،رحمت الله د نواب زوي،ظاهر د شمس زوي یاګل د صالح او همایون د غزني زامن(ټول د شي خیل د کلي نه).ټپیان: عبدالجبار د میران او ظفر د حسن زامن(د نواباد د کلي څخه) | د دې پیښې ثبت د یوناما لخوا شوي او د ۴ ملکي کسانو وژل یې تصدیق کړي. د هغو ملکي کسانو نومونه چې د طالبانو په بیان کې راغلي د یوناما د ډیټابیس د نومونو سره سمون نه لري. |
| ۱۵ | د اګست په ۳۱، د پریس تلویزیون راپور ورکړي چې د غور په ولایت کې اشغالګرو ځواکونو بمبارد کړي او ۱۲ ملکي کسان یې وژلي. | یوناما ددې پیښې څیړنه کړې او موندلي یې دي چې ټول قربانیان(۵ وژل شوي او ۸ ټپیان) د یوي |

| | | |
|---|---|---|
| | | پوځي ډلې غړي وه او د نړیوالو ځواکونو سره په ډزو کې له ښکیلتیا نه وروسته ووژل شول. |
| ۱۶ | د سپټمبر په ۸، رسنیو راپور ورکړ چې د بادغیس ولایت د بالامرغاب د ولسوالي د میران رو په کلي کې اشغالګرو د ښځو او ماشومانو په شمول د ۲۰ څخه زیات ملکي کسان ټپیان کړي. یو شمیر ټپیانو وروسته ساه ورکړې. محلي اوسیدونکو د ګرځنده ټلیفونو له لارې رسنیو ته ویلي چې له هغه وروسته چې په سیمه کې د افغان ملي پوځ یوه وسیله په تعبیه شویو چاودیدونکو توکو ور برابره شوه او افغان ملي پولیسو د تلاشي د پوستې په خلکو ډزې وکړې. ټپیان محلي کلینک او د هرات روغتون ته واستول شول. | د حکومت ضد عناصرو او افغان ملي پوځ تر منځ د ډزو د تبادلې په نتیجه کې یوناما د یوه کس د وژلو او ۴ نورو ټپیانو ټپې کیدل تصدیقوي. |
| ۱۷ | د سپټمبر په ۲،د کندز ولایت د کانام په کلي کې محلي پولیسو یا اربکیانو ۱۵ تنه ملکي کسان په شهادت رسولي او یو شمیر یې ټبیان کړي او یو شمیر نور یې توقیف کړي.محلي اوسیدونکو رسنیو ته ویلي چې د قادر په نوم یوه جنګسالار چې په اوس حال کې د محلي پولیسو قومندان دي، د نوموړي وسله والو د کانام په کلي برید کړي او ملکي کسان یې چې په سهار کې د خپلو کورونو نه راوتل قتل عام کړي. دا پیښه له هغه وروسته چې د قادر یو تن د نامعلومو کسانو لخوا ووژل شو رامنځ ته شوه. خو جنګسالار ددې پیښې غچ د ملکي کسانو څخه واخیست. | یوناما پیښه تصدیق کړې او د ۱۲ ملکي کسانو وژل او د ۸ نورو ټپي کیدل یې تاییدکړي. |
| ۱۸ | د اکتوبر په ۶،د کندز ولایت مرکز ته څیرمه د اندوجان په کلي کې د محلي پولیسو یوه تن یوه میرمن په چاړه ووهله او شهیده یې کړه. محلي اوسیدونکو رسنیو ته ویلي چې د محلي پولیسو یو تن لومړي غوښتل چې په ښځه جنسي تیري وکړي خو کله چې د مقاومت سره مخ کیږي | دا دوسیه د ملکي کسانو د ساتنې قضیه نه ده (د پوځي شخړې برخه نه ده) او جنایي دوسیه ده. یوناما دوسیه وڅیړله او څرګنده شوه چې ښځه وژل شوې خو مجرم د محلي پولیسو غړي نه |

| | | |
|---|---|---|
| | ښځه وژني. | دي. |
| ۱۹ | د اکتوبر په ۱۲،د غزني د ولایت د شلگر د ولسوالي د زرین په کلي کې اشغالگرو ځواکونو په ملکي کورونو یرغل ترسره کړي، کورونه یې تلاشي کړي او جایداد ته یې زیان رسولی. اشغالگرو ځواکونو د یوې ښځې او دریو ماشومانو په شمول ۷ ملکي کسان وژلي. د غزني د والي ویاند د پیښې پخلي کړي او زیاته یې کړه چې د حقایقو د موندلو لپاره یې پلاوي سیمې ته استولی. نوموړي وویل چې د هغوي د اطلاعیي نه پرته نړیوالو ځواکونو دغه عملیات پر مخ وړي. | یوناما د حکومت ضد عناصرو او ایساف تر منځ د ډزو په تبادله کې چې کله د حکومت ضد عناصرو یوي ډلي په یوه ملکي کور کې پناه اخیستي وه او په ایساف یې ډزي کولي، د یوي ښځې او ۳ ماشومانو په شمول د ۴ ملکي کسانو وژل تصدیق کړي. |
| ۲۰ | د روان کال د نومبر په ۱۸،د شلگر د ولسوالي د اربکیانو یوي ډلي چې ملاتړ یې د امریکایي ځواکونو لخوا کیده د شپې لخوا د گیرو ولسوالي د شایلي کلي ته ننوتل. د لمر په راختو سره، لکه څنگه چې د کلي ملا امام (مولوي صاحب ذبیح الله د سهار د لمانځه جمع ادا کوله،په دې وخت کې اربکیان جومات ته ننوتل، نوموړي مولوي یې د خپلو څو تنه زده کوونکو او کلیوالو سره د هغه نه وړاندي چې دوي د شلگر ولسوالي ته ولیږدوي یو ځاي ونیول. دوه ورځې وروسته، د مولوي ذبیح الله د زوي مړي د شلگر د ولسوالي د ابراهیم خیلو په کلي کې په داسې حال کې چې د وهلو له امله د نوموړي تول هډوکي مات او د هغه مخ او سترگې په گولیو غلبیل شوي، وو موند. بې له شکه موږ د الله بندگان یو او هغه ته به ورگرځو. | |